بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناول

# اوښکي


ليک

عبدالعلي غورغشتي

15,12,1979

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د چاپ چارې خوندي دي




◈ کتاب :: اوښکې

◈ لیک :: عبدالعلي غورغشتی

◈ کمپوز :: خلیل الله تصمیم

◈ سیټینګ :: طاهر ځلاند

◈ پروف :: نجیب الله زړګی علیخېل

◈ پوښتی :: نجیب الله زړګی علیخېل

◈ تعداد :: 500

◈ چاپځای :: کراچي

◈ چاپکال :: 2018 ع

◈ بیه :: 160 کالداري

**د موندلو درک :** کتاب پلورنځی، ریګل پلازه دکان ۷ جناح روډ کوټه

یونیورستي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور

غزنوي کتب خانه قندهاري بازار کوټه

پریمئیر بک هاؤس نزد مسجد صدیق اکبر پښتون آباد

منګھوپیر کراچي

عزیز بک ډپو تحصیل روډ ږوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالی

د سهېلي پښتونخوا د مېړني پښتني خاورې نۀ
سترې کېدونکې مبارزین او د
اروابناد **مولوي رحمت الله مندوخېل** د کور د علمي او
فکري انګرې کلک ملګري
**مولوي سلطان خروټي، مولوي عبدالرحمن کاکړ** او د
**حاجي سلطان ناصر** په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

یو داسي سپېڅلي مبارز ته چي نوم یې
**محمدجان لالا**
ؤ او خپل هست او نېست یې د دې وطن د
آزادۍ و روښانه قافلې ته ډالۍ کړی ؤ.
روح یې ښاده، پر ګور یې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عبدالعلي غورغشتي ناول" اوښکي" کیسه

پــــه ړوب کښــــي د ســــکول د زمــــانې راهیســــې دوه کســان، هســي خــو نــورهم ډېر، خـه مــي یــاد خـه مــي هېــر دي، خــدای بخښــلی عبــد العلــي اوخــدای بخښــلی محمــدجان لالا رانــه نـۀ هېرېـږي. دا ژونـد لــه هنگــامو ډک د سـتړیاؤ نــوم دی. پـه دې اوویـا کلنـي ژونـد کښـي د هــر یـوه د ژونـد خپلـي خپلـي کیسـې دي. پـه دې بـه ستاسـي وخـت نـۀ ضـائع کـوم. پـه ړوب کښــي مــا تــر اتــم جماعتــه، جــون۱۹۶۲ ســکول ویلــی او بیــا د لــورالائ (بــوری) او کــوټي کښــي د تعلــیم او روزگــار د کــړکېچ پســته، هــم پــه ړوب کښــي د بېنــک د ملازمــت پــه سلســله کښــي پنځــه واره د وخــت پــه مختلفــه دورانیــو کښــي اســتوگن پاتــه شــوی یــم. او داســي د خپــل عمــر دېــرش کالــه مــي د ړوب اوبــه څښــلي دي. عبــدالعلي غورغشــتي یــو وخــت د یــوې کــاپۍ پــه پــاڼو لیکلــی کتــاب د مطــالعې او کتنــي دپــاره راکــړی ؤ چــي دا غالبــاً زمــا پــه ړوب کښــي د اســتوگن پاتــه کېــدو دربیمــه دوره او کــه دویمــه دوره ۱۹۷۳\۱۹۷۷ وه. هــم نــو نـۀ شــم ویلــی ځکــه چــي پــه ۱۹۷۶ کښــي مــا پــه ړوب کښــي د ، پشــتو ادبــي ملگــري، ځانگــه پرانســته چــي صــدر یــې خــدای بخښــلی کمــال الــدین شــېرانۍ او زۀ یــې جنــرل ســکتر وم او مــوږ خپلــه اولــه غونــډه د خــدای بخښــلي شــېرجان منــدوخېل پــه مشــرۍ کښــي د ړوب پــه جرگــه هــال کښــي د انفارمېشــن ســنټر ړوب پــه مرســته وکــړه چــي دا وخــت یــې ښــاغلی عمرخــان مــروت مشــر ؤ او عبــدالکریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریالی دا ملازمت پرې ایښی او په نوشکي کښي د کالج لېکچرر لګېدلی ؤ. د درېیمي دورې په دغو کلونو ۱۹۸۲/۱۹۸۵کښي بیا عبدالکریم بریالی هم د روب استېنټ پولیټېکل اېجنټ ؤ دا زما د ژوند اهمه دورانیه وه. د ژوند د فکري ارتقائي مرحلو سره مخامخ ولاړ وم، د ملایانو له مخصوصه ډلي سره د خپل اصولي کردار په حواله په جنګ اخته وم، ولي چي د بېنک په ملازمت کښي د دوه او دوه څلور په فارمولا ژوند کېږی نۀ چي د سیاست په هره ګهړۍ د بدلېدونکي لائحه عمل په بنیاد. د عبدالعلي کتاب راسره خوندي پروت ؤ او داسي چي په ګڼ شمېر کتابونو کښي به یې کله کله سر راښکاره کړی چي زۀ هم یو امانت کتاب یم، مګر له ما بیا دا هېر شوي ؤ چي دا د چا کتاب دی خو دا راته یاد ؤ چي دا یو امانت دی. د خپل ژوند د بې کچه اړتیاؤ له کبله مي نۀ ولوستلی او نۀ پرانستلی چي دا خو راته معلوم شوې وای چي دا آخر دی د چا کتاب. و دې ته که څوک زما سستي وایي هم نو ورسره منم یې.

یو وخت په دا نزدې کلونو کښي چي محمد جان لالا په کراچي کښي په هسپتال کښي داخل ؤ نو مي زړۀ کښي راوګرځېدل چي دا کتاب به د دۀ وي نومي د دې تصدیق دپاره هڅي وکړې، نجیب زړګی د دې معاملې ګواه دی معلومه شوه چي دا د دۀ کتاب نۀ دی. بل خوا ته ناجانه عبدالعلي د فېس بک په پاڼه را ښکاره شو، اشنا راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګېدی خو له یاده مي وتلی ؤ چي دا د کوم وخت شناخته دی. ما په دۀ، د دۀ د مشر ورور اروابښاد مولوي عبدالحی ګمان راتلی چي یو وخت د ایران په سفر کښي سره ملګري وو. هغه یو دینداره مذهبي سړی ؤ او غتېه ږیره یې وه او دلته د عبدالعلي کوچنۍ ږیره، نو یو څه شکمن وم، دغه ؤ چي د کراچي په یوه دوره ۲۰۱۶ کښي مي ورسره ملاقات وشو او زاړه اشنائي مي بېرته تازه شوه. د دې څه د مخه د دۀ پر یو کتاب ،پشتون خوا، چاپ۲۰۰۴ مي په، پشتو محفل ،کالم کښي تبصره هم کړې وه چي شېر رحمان بونېري راته لېږلی ؤ. بیا مي ورسره نور ملاقاتونه هم په کوټه کښي وشول، زموږ د ملګري لیکوال په یو تنقیدي نشست کښي د خصوصي مېلمه په حېث هم رابلل شوی ؤ او دۀ د خپل راتلونکي کتاب د ملګري لیکوال د پلېټ فارم څخه د چاپولو اعلان یې هم وکړی چي د پشتون خوا ملي عوامي پارټۍ د اهم غړي د شېر جان مندو خېل د ژوند او خدماتو په اړه اوس چاپ دی.

خدای بخښلي عبدالعلي غورغشتي د مرګ خبر یو ډېر غم لړلی خبر ؤ چي موږ په کوټه کښي واورېدی. په ږوب کښي د دۀ د جنازې او فاتحې په دوران د ګران نجیب الله زړګي سره د دۀ د زوی په مجلس کښي دا خبره را ښکاره شوه چي بابا یې یو کتاب لیکلی ؤ چي اوس ځني ورک دی. زړګي چي دا خبره و ما ته وکړه نو مي هغه کتاب رایاد شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوخدای شته د دهٔ د مرګ په شپه هم دې کتاب سر را ښکاره کړی ؤ. زړګي ته مي وویل زهٔ به یې نن په تسلي وګورم نو په اوله پاڼه دعبدالعلي نوم لیک ؤ. دغه ؤ چي کتاب مي و نجیب الله زړګي ته حواله کړی او دا دی اوس ستاسي و لوست ته حاضر دی.

زما په خیال چي دا ناول لکه څنګه چي له ما سره له ډېره وخته په خطي صورت کښي موجود ؤ نو په دې لحاظ دا د جنوبي پښتونخوا ړومبی ناول ګرځولی شو. په دې به اوس د ناول نقادان خپل نظر اچوي او د معیار او مقام ټاکنه به یې کوي او دا چي دا د خدای بخښلي د لیک اولنی اثر هم دی.

**عمر ګل عسکر**

نوی کلی کوټه

د جولائي د میاشتي اوولسمه نېټه **۲۰۱۸**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عبدالعلي غورغښتي " اوښکي"

اروا ښاد محترم عبدالعلي غورغښتي د سهېلي پښتونخوا د یوې علمي کورنۍ غړی او په خپل قام مئین ؤ. په عملي توګه د خان شهید د ډلي تورزن ؤ او د قلم له لاري یې توري تیارې رڼا کولې. وایي چي په رېوب کښي د دوی سره د کتابونو یوه لویه ذخیره وه او د دوی نه په دغه سیمه کښي د بل چاسره زیات کتابونه نۀ وو. د دوی پلار هم یو لوی دیني عالم ؤ. اوویښت(۲۷)کتابونه یې تصنیف کړي وو. محترم عبدالعلي غورغښتي پخپله نهه(۹) کتابونه لیکلي دي چي تر اوسه پکښي پنځه چاپ او نور ناچاپه دي. کالمونه او مقالې به یې هم د ورځپاڼو اونورو مجلو لپاره لیکلې.

**ددې ناول افسانه**

ددې ناول کیسه هم عجیبه ده. محترم عبدالعلي غورغښتي دا ناول د کال ۱۹۷۹ په دولسمه میاشت کښي تخلیق کړی ؤ او بیا یې ښاغلي عمر ګل عسکر ته د مشورې یا تبصرې لپاره ورکړی ؤ چي خپله رایه پرې ورکړي. ولي ښاغلي عمر ګل عسکر دغه کتاب یا ناول داسي خوندي کړو چي هڅو بیا ترېنه هېر شو، خوکله چي محترم عبدالعلي غورغښتي په ۸ فروری کال ۲۰۱۸ کښي وفات شو- نو عمر ګل عسکر صاحب دوه ورځي وروستو یعني په لسمه فروري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـال ۲۰۱۸ کښــي خپــل کتابونــه لټــول چــي د دغــه نــاول قلمــي نســخه پــه لاس ورغلــه او هــم پــه هغــه ورځ یــې ښــاغلي نجیــب زرګــي علیخېــل تــه ورکــړه او کیســه یــې ورتــه اوکــړه. چــا چــي د خــدای بخښــلي غورغښــتي برخــوردار طــاهر ځلانــد تــه حوالــه کړه او داسي يې ورله د چاپ تابيا اوکړه.

**ددې ناول اهمیت**

لکــه څنګــه چــي پښــتو وړومبــی ترجمــه شــوی نــاول د میــا حســیب ګــل کاکــا خېــل "نقــش نګــین" دی چــي هغــوی د کــال ۱۸۷۹ خــوا شــا ترجمــه کــړی ؤ ولــي بیــا چــاپ ډېــر وروســتو پــه کــال ۱۹۵۷ کښــي شــو. د دې نــه وروســتو میــا محمــد یوســف کاکــا خېــل د اردو نــاول "توبــة النصــوح" هــم پــه دغــه نامــه پــه کــال ۱۹۰۴ کښــي پښــتو تــه ترجمــه کــړو چــي هــم پــه دغــه کــال چــاپ شــو. او دغــه د میــا محمــد یوســف کاکــا خېــل پښــتو وړومبــی ترجمــه شــوی نــاول بللــی شــي. ولــي د قلمــي لیــک پــه لحــاظ "نقــش نګــین" اول پښــتو تــه اړولــی شــوی ؤ، نــو هــم دغــه حــال د محتــرم عبــدالعلي غورغښــتي دنــاول "اوښــکي" دی. چــي دا لیکلــی شــوی خــو پــه کــال ۱۹۷۹ کښــي دی ولــي اولــس تــه اوس وړانــدي شــو، نــو داســي د قلمــي لیــک پــه لحــاظ دا د ســهېلي پښــتونخوا وړومبــی نــاول دی. ولــي چــي چــاپ اوس شــو نــو دچــاپ پــه لحــاظ ډېــر وروســتی دی. د دې نــه اګــاهو پــه کــال ۱۹۸۵ یــا ۱۹۸۶ کښــي د محتــرم او مشــر محمــود خــان اچکــزي نــاول "د اووم اکتــوبر رزم" چــاپ شــوی دی او هــم دغــه د د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهېلي پښتو نخوا وړومبی پښتو ناول دی چي اولس ته وړاندي شوی دی.

داسي د پښتو ناول په تاریخ کښي د دې ناول د چاپ کېدلو سره یو نوی باب اولیکلی شو چي د سهېلي پښتونخوا وړومبی قلمي لیکلی شوی ناول هم معلوم شو. اوس دا قصور د چا دی په دې باب مورږ هیڅ نۀ شو ویلی، ځکه چي داسي کېږي او شوي دي لکه د پښتو د وړومبي ترجمه شوي ناول "نقش نګین" حال ستاسو په وړاندي دی.

پښتو ادب ته ناول د اردو ژبي نه د ترجمې په ډول متعارف شوی دی. ناول د نوي زمانې صنف دی چي د حقیقي ژوند عکاسي کوي او ځکه نو په نړیوال ادب کښي یو لوی او جوت مقام لري. د ناول لیکوال په نړیوال کچ ارزولی شي او په نوي دور کښي د بدلون راوستلو دپاره یوه مهمه او موثره ذریعه ګڼلی شي. د یورپي لیکوالو ناولونه د نړۍ په اکثرو ژبو کښي ترجمه کېږي او په ډېر شوق سره لوستلي کېږي.

د محترم عبدالعلي غورغښتي دا ناول د هغه زمانې یعني د نن نه خلوېښت کاله اګاهو حالات ښائي، د هغه وخت ثقافت، دکلي د بې وزله خلګو ژوند او د حکومتي چارواکو ظلمونه او زیاتي، د ملکانو، ملایانو او صاحبزادګانو ظلم، د خپلو مفاداتو دپاره هیلي او سازشونه، ټول پکښي په ډېر خواږه اندازکښي بیان شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. د غورغښتي صيب دا ناول د ناول ټول لوازمات لري- په ساده پلاټ کښې يې کيسه وړاندې کړې ده.

دا ناول ټول لوازمات لري او د ليکوال په دغه صنف پوهه څرګندوي. چې عبدالعلي غورغښتي يو لوستلى سړى ؤ او نور ډېر ناولونه به يې خامخا لوستلي وو ځکه خو يې په ټول پوره کتاب وړاندې کړى دى. ليکوال په يوه ساده کيسه کښې د کم علمۍ، غربت، انساني خودغرضۍ، د خپلو مفادو لپاره د مذهب، سياست او خپل حېثيت او اثر رسوخ نه ګټې پورته کولو يو ډېر ښه انځور وړاندې کوي. لکه چې په يوه زمانه کښې فرنګي د خپل غرض لپاره کميونسټ بدنام کړي وو او دغه قسم تورونه به يې په خپلو مخالفينو لګول او د دې دپاره ورته د ملا ،ملک او صاحبزاده مرسته حاصله وه. په هر هغه چا به دغه الزام او تور لګولى شو چې د دوى د مفادو خلاف به وو.

د کيسې شروع، ارتقائي ډول، د کردارونو د لوستونکو سره پېژندګلو، په کيسه کښې مختلف واقعات، سازشونه، تصادم ، تلوسه او انجام د ناول د صنف د غوښتنو سره سم دي.

د محترم عبدالعلي غورغښتي "اوښکي" د پښتو ناولونو په اصلاحي او انقلابي ناولونو کښې موږ شمارلى شو ځکه چې په دې کښې ليکوال که يو اړخ ته د اولس ناپوهي او کم علمي د هغوى د ټولو مسئلو وجه ښودلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بل اړخ ته يې پکښې د علم حاصلول او د توهم پرستۍ او پير پرستۍ خاتمه د ټولو مصيبتونو ځيله ثابته کړې ده. په دې ناول کښې د ملک، ملا، صاحبزاده او حکومتي چارواکو کردارونه لکه د نور محمد ترکي د ناول "سپين" په شان دي چې د خپل مطلب او مفادو لپاره د بې وزله او غريب اولس استحصال کوي. دوی ټول په يوځای سازشونه کوي او د يو بل د مفاداتو تحفظ کوي.

ليکوال په ناول کښې د معاشرې د بې علمه او کمزورو وګړو توهم پرستۍ ته ګوته نيولې ده چې د ناروغۍ په وخت دا تمه کوي چې د ملا په دم او صاحبزاده په تعويذ به ناروغي لاړه شي. بل خالو چې سود ورته ښه نۀ ښکاري نو د ملا نه تپوس کوي. ولې ملا صېب ورته وايي چې ملک صېب سود نۀ دی درکړی بلکې په تاسو يې رحم کړی دی. دلته د ملا او صاحبزاده حيله سازۍ ليکوال ښکاره کړي دي چې څنګه د دغه بې علمه خلکو د ناپوهۍ نه فائده پورته کوي. سود ته سود نۀ وايي بلکې حيلې ورته جوړوي. بل اړخ ته صاحبزاده د خالو د لور مرګ ته حيله جوړه کړي، ملک ته راشي وايي چې په ما کشف شوی دی چې يو لوی ديو ستاسو اينګور تښتولې ده. او داسې د هغې ورکېدلو ته يوه بهانه وتراشي.

په دې ناول کښې د دغه سيمې د غريبو خلکو کار روزګار د يو بل سره مينه، د يو بل په غم ښادۍ کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودرېدل او د يو بل سره مرسته کول ليکوال ډېر په زړه پوري انداز کښي بيان کړي دي.

د دې ناول انجام هم يوه لويه الميه ده او د تراجيدي يو ښه مثال دی. انجام يې هم يو خو په منطقي انداز کښي شوی دی. تلوسه تر دې حده لري چي لوستونکی د ځان سره تر اخره ساتي.

د دې ناول ژبه ډېره روانه او ساده ده. ليکوال اګرچې د سهېلي پښتونخوا سره تعلق لري ولي داسي مقامي توري پکښي ډېر کم دي چي لوستونکي ته نا اشنا ښکاره شي او په اکثرو ځايونو کښي ورسره د عام استعمال توري راوړل شوي دي چي لوستونکی پرې پوه شي او مطلب ته اورسي. د پښتو ژبي هر لوستونکی پرې ښه په اسانه پوهېدلی شي.

د دې ناول کردارونه د عام ژوند کردارونه دي چي هر وخت يې موږ په خپلو لارو کوڅو کښي وينو. اوس هم د پښتنو حالات د نوي دور سره دومره بدل شوي لا نهٔ دي او د پښتني معاشرې دغه ټول کردارونه په پښتنه ټولنه کښي موجود دي. د نوي دور سره د دوی په کارونوکښي هم جدت راغلی دی.

د پښتو ناول په ارتقائي کړو کښي د عبدالعلي غورغښتي د "اوښکي" خپل مقام او اهميت دی. دا ناول که هر څو د ليک د وخت نه ډېر وروستو لوستونکو ته وړاندي کېږي ولي خپل ارزښت د لاسه نهٔ ورکوي. اوس هم هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره ارزښت او اهمیت لري څومره چې یې څلویښت کاله اګاهو لرلو.

دا ناول پښتو ادب ته یوه درنه پیرزوئینه ده چې د ارزولو حق لري. په دې کښې د لیکوال سره سره د ښاغلي نجیب زړګي علیخېل او ښاغلي طاهر ځلاند کوشش د ستائیني ور دی چې دا کتاب یې ستاسو او زموږ لاسو ته را اورسولو. الله دې ښاد او اباد لري.

**رشید احمد**

بره بانډی سوات

۲۸ جون کال ۲۰۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو څو خبري

دا څـه بېلـه خبـره نـهٔ ده چـي مـوږ تنقیـد پـه بـې ساختګي سره وکړو کـه څوک لږ ډېر څـه د وئیلـو تـوان لـري هغـه د چـا ښـه کارونـه هـم ډېـر پـه مېړانـه سـتائي، البتـه دا بېلـه خبـره ده چـي کلـه کلـه د ټولني رخ (Direction) او نیوکه (Critic) سمون نـهٔ سره خوري، مګـر کـم حـالات او داسـتانونه چـي د کسـې غـړهٔ پـه لمـن کښـي اولـس اوري او د یـو ځـانګړي ډول ژونـد (Symbolic life)کښـي دننـه د مـلا، ملـک الائـنس چـي هغـه بیـا پـه مرکـز کښـي لـه دولـت (State) سـره تړلـي (Allied) وو تـر جبـر لانـدي د اولسـونو تکلیـف ده او پـر اشـوبه ژنـدون څنګـه تـګ کـوو مـا دا ډېـر مخکښـي پـه خپـل کـور کښـي اورېـدلي وو چـي څنګـه بـه پـه کلـي کښـي نښـتي وه څنګـه بـه سـکاره راوړل کېـده او څنګـه بـه بوقـت ضـرورت د رڼـا لپـاره د ملـک یـا خـان لـه کـوره لالټـین یـا ګاسـلېټ راوړل کېـده. قریبـاً داسـي یـو انځـور زموږ په خپل کور کښي هم لیدلی شوی ؤ.

ژونـد چـونکې پخپلـه یـو امانـت دی بیـا د ژونـد تکلیـف ده داسـتانونه او د جبـر آئینونـه څنګـه کېـدلی شـي چـي د امانـت په توګه تر نورو نسلونو پوري رسېدو څخه بچ پاتي شي.

دا نـاول چـونکې پـه هغـه وخـت کښـي د افغـان ثـور انقـلاب د ځـانګړي ټـولنیز حـالاتـو پـه پـس منظـر کښـي لیکلـی شـوی ؤ او ډېـر پـه هنـر یـې د خپلـي ټـولني د بـېلا بېلـو سـتونځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر کړی دی. په تېره بیا د تعلیم او صحت په هکله د خلګو پام را اړولو ته یې د ډغاوو (Dialogues) په ذریعه یې ډېر خوندور نقشونه راپارولي دي. د معیاري او غېر معیاري رسمونو او په تېره بیا د بیماریانو په لړ کښي د یو ملا / پیر کردار تر مذهبي پېشوا زیاته د یو ډاکټر په توګه لوبول او بیا د ثواب په نوم د اولس په هغه باندي انحصار کول، د زورور سړي د خپل ضرورت پوره کولو لپاره دستور ماتول، مګر نېستمن او بې وځله سړي د خپل نمو لپاره د رسمونو تابعداري کول او دې ته د ژوند نوم ورکول ددې ناول د قصې هغه ځانګړی عکس دی چي زمونږ د ټولني ډېري برخي اوس هم ترې خلاصي نۀ دي.

هر رواج که هر څومره بېهوده آسوده یا بهبوده وي د هغې شاته یو مقصد او واضحه منشا وي خو په دې ناول کښي ددې خبري شاته ډېره واضحه اشاره شوې ده چي په کلیو او علاقو کښي د ډېرو رسمونو تر شا سامراجي او قبضه ګر سوچ ولاړ ؤ. او بیا د هغې په ردعمل کښي د مهربان او روښن د ملګرو د لوري بغاوت د رسمونو او رواجونو د یو ښه بهبود په توګه کارولو ته ټولنه اماده کوي.

که څه هم دا ناول غورغښتي صاحب ډېر په ځوانۍ کښي لیکلی ؤ د هغه وخت د سیاسي حالاتو له کبله ټولنیز حالات په دې ناول کښي ډېر ښه بیان شوي دي او دا هم یو ښکاره حقیقت دی چي په اولس کښي دننه هر څوک خپل یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکرنظر (School of Thought) لري هيڅ څوک هم د جهان له سستم څخه نۀ ځان بېلولای شي او نۀ ځان ته غېر جانبداره وئيلای شي. هر څوک چي په خپل ژوند کښي يې هست او نېست دواړه تجربه کړي وي هغوی به ارومرو د ټولني د بورژوا او پرولتاريه په هکله خپله مفکوره څرګندوي.

په پای کښي دا خبره ضرور کوم چي د ظالمانه سماجی روش له کبله ځيني داسي مخصوص حالات پيدا شول چي دا ناول په چهاپ کېدو کښي د ځنډ ښکار شو او له منظر څخه پناه شو شاوخوا څلوېښت کاله پس د اروابښاد غورغښتي صاحب د مرګ په دويمه ورځ دا کتاب پيدا شو او په کوټه کښي د پښتو ژبي اديب او ستر ليکوال ښاغلي عمر ګل عسکر صاحب ډېر په پښتني همت او مېړانه دا امانت موږ ته بېرته را وسپارو. خفه په دې هم يم چي کاش که دا کتاب غورغښتي صاحب په خپل ژوند کښي بېرته پيدا کړی وای خو تر هر څه زيات چي خوشاله شوم هغه د عمر ګل عسکر صاحب د امانت پر ځای کولو باندي وم چي د اروابښاد عبدالعلي غورغښتي ليکلی ناول "اوښکي" يې بېرته موږ ته را حواله کړ. عسکر صاحب ته دي خدای پاک لوی با شهامته ژوند او عالي مقام په دواړه جهانه ورنصيب کړي. په نزدې راروان وخت کښي ددې قصې و نورو ژبو ته ژباړه ډېره اړينه ده په خاطر ددې چي د نورو ژبو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلیسي، پارسي او اردو ژبو ته ولني هم ددې ناول د ریښتوني ټولنيز مخ سره بلد شي.

یو ځل بیا د ښاغلي عمر ګل عسکر صاحب د زړه له تله مننه کوم چي دا ناول یې ستاسو تر لاسونو پوري در رسولو کښي خپل پښتني رول ولوبوو. د ښاغلي رشيد احمد صاحب هم ډېره مننه چي ددې قصې په مقدمه لیکلو کښي یې خپل توان وخت او نظر راته پیرزو کړو. له دې سره زۀ د اروابښاد غورغښتي صاحب خواږه دوستان او همکاران ښاغلی نجیب زړګي علیخېل او ښاغلي خلیل الله تصمیم بېخي زښته مننه کوم چي دې ناول ته یې د کمپوز او پروف ریډنګ جامه ور اغوستلو کښې یې ډېر په مېړانه او پښتني همت خپل توان او وخت راته ډالۍ کړو. زۀ د خپل ځان د خپلي ټولي کورنۍ او د اروابښاد غورغښتي صاحب د ټولو دوستانو لخوا دوی ته خپل عقیدت ثرګندوم.

**طاهر ځلاند کراچۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېل

(۱)

نن خو د نورو کلنو په شان د کلا شاوخوا، لوړو ژورو په غرو او رغو واوره پرته وه. په هر خوا چي نظر کړې د واوري يو سپين څادر غوړېدلی دی. سترګي وربانددي برېښي، ماشومان واوره په موټو کښي اخلي او يو بل سره ولي. د واوري له کبله هيڅوک هم خپل کار ته نۀ ځي، هر سړی په کور کښي اور ته ناست چي له ناستي تنګ شي لا بستره کښي پرېوځي يا د بل چا کره لاړ شي.

د چاچي کرونده او مالداري وه هغه د واوري په ورېدو ډېر خوشحاله وو چي نوی سپرلی او کرونده به ښه شي.

خالو د پاخه عمر ؤ، په ږيره کښي يې تر سپينو تور وېښته کم وو. يو زوی يې باران نومېدو، او بله لور چي درخانۍ نومېده لرله. درخانۍ پېغله وه. دوی د کنارخېلو د کلي اوسېدونکي وو.

خالو ته د پلار په ميراث کښي لږه مځکه ور پاتې وه، د نور کليوالو غوندي جوار او غنم يې پرې کرل، مګر دا څو کاله کېږي چي درختي يې پرې لګولي دي، ځکه غنم او جوار به يې کم کرل او کله چي سره به يې پيدا کړه بيا به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات کړل. په کرونده به د خالو چندانه ګزاره نۀ کېده، د مځکي او د نور کاروبار چلاؤ لپاره خالو دوه خرۀ کړي وو.

دې کلي والو مشترکه ځنګل درلود او په کلي کښي چي چا مځکه نۀ درلوده یا یې څه نور کاروبار نۀ لرلو هغو به ځنګل کښي لرګي کړو او بازار ته به یې خرڅولو لپاره وړو او ګزران به یې پرې کوو.

خالو به هم اکثره له غرۀ څخه په خرو بار لرګي راوړو او د خرڅولو لپاره به یې بازار ته وړو.

هغه نن سهار هم غرۀ ته د بار لپاره تلو، مګر د واوري له کبله پاتې شو او سبا سهار وختي خالو په خپل یوه خرۀ ځل واچوه او یو پتیره ډوډۍ یې ورسره واخسته، د نسوارو ډبی یې ورسره ډک کړو، بیا یې په خپل وادۀ( ښځي) چي تور پېکۍ نومېده باندي ږغ وکړ چي؛

نجینۍ! باکس راکړه په لاره او په غرۀ کښي به اور راته بلوم. تور پېکۍ چي باکس ته لاس کړو هغه کښي صرف یوه دانه تیلۍ وه، زړۀ کښي یې خیال وکړ چي دا مۀ ورکوه بل وار به اور پرې بل کړم، مګر بېرته یې پام وکړ چي زۀ به د اور سکاره پټ کړم، لا به د بل چا له کوره اور راوړم او دې به په غرۀ کښي ځان ته اور پرې بل کړي او ځان به پرې تود کړي.

باکس یې ورکړ، خالو باکس واخست او ځان یې په ټکري کښي سره ونغښتی او یوه لښته یې له ځان سره واخسته خر یې په مخه کړو روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـر پرونـد نـن يـخ زيـات ؤ، د واوري سـوړ ځـول چلېـدو او د ځـول لـه کبلـه شـا و خـوا غرونـه او غونـډۍ نـۀ ليـدل کېـدې. لـه يخـه د خـالو زنـه کپـا واخسـته. زياتـه يـخ يـې کېـدو او ځـان بـه يـې لـه يخـه پـه امـان کولـو لپـاره د نسـوارو لـوی لـوی کپـې خُلـه تـه اچـولې يـا بـه يـې د پتيـري ځخـه ګولـه ورماتـه کـړه او يـو وار وار بـه کمـر يـا لـوی ګټـې تـه ودرېـدو، بـوټې چـې پـه مـخ ورشـي نـو خيـال ورتـه وکـړي چـې اور ورتـه کـړم بيـا خيـال وکـړي چـې نـۀ پـه غـرۀ کښـې بـه اور راتـه بـل کـړم او لـوی لـوی درګـې بـه کښـېږدم ټولـه ورځ بـه اور راتـه بـل وي او ځـان بـه پرې تودوم.

کلـه چـې غـرۀ تـه ورسـېدو ځـول هغـه شـان ؤ او يـخ يـې تـر لاري دلتـه زياتـه کېـدو او پـه سر کښـې يـې معمـولي درد پيـدا شـو. آخـر يـې خر پـه يـوه درختـه پـوري وتړلـو، خـالو يـخ اخسـتی ؤ نـو د لـږ ساعت لپـاره يـوې ګټـې تـه کښېناسـتو او لاسـونه يـې پـه تخـر کښـې ونيـول. يـخ هغـه شـان ؤ، آخـر ولاړ شـو او واښـۀ بـوټي او لرګـي يـې راټـول کـړو او لـه جيبـه يـې بـاکس راوکـېش، بيـا يـې ټکـری پـه ځـان او بوټـو بانـدي سـره جـار ايسـت چـې د بـاکس دانـه لـه بـاده نـۀ شـي مـړۀ او دانـه يـې ووهلـه او تـر بـوټې يـې لانـدي کـړه. بـوټې لـه واوري ځخـه لانـده وو اور يـې نـۀ واخسـت د خـالو طبيعـت خـراب شـو او وېـره ور پيـدا شـوه چـې لـه يخـه بـه مـې سـکاروی ووهـي او د تسـلي لپـاره يـې پتيـره وخوړلـه چـې پـه ډک نـس بـه يـخ ډېـر زور نـۀ رابانـدي کـړي او پـه لرګـو يـې شروع وکـړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېر تکليف يې بار وکړ او خر يې بار کړ. د کور په لـور روان شـو پـه لارې وار پـه وار پـه سـر يـې درد زياتېـدو او تبه‌وخي يـې هـم شروع شـو او هـم يې په سينه کښـې درد پيـدا شـو.

خـالو چـې نيمـې لار پـورې راغلـی درد او تبه‌وخي يـې زيـات شـو او تـګ ورتـه ګـران شـو. وار وار بـه يـو او بـل ځـای کښېنسـت او يـو وار وار بـه پرېوتـو. خـر پـه خپـل تـګ روان ؤ او تـر خـالو ډېـر مختـه شـو. ځـای پـه ځـای بـه يـې وابـښهٔ خـوړل. تـر نـور کلـه خـالو ناوختـه شـو، تـور پېکـۍ تـه هـم پريشـاني ور ولوېـده او کلـه پـه غـولي کښـې ودرېـږي او د غـرهٔ پـه لـور نظـر کـړي، بيـا پـه خپـل کـار لګيـا شـي، د ماښـام لـه نمانځـه وروسـته د تـور پېکـۍ پريشـاني نـوره هـم زياتـه شـوه، هغـه پـه دې پريشـاني کښـې لـه کـوټې راووتـه چـې ګـوري خـر بـار غـولي تـه ګـډ شـو. هغـه خوشـحاله شـوه چـې دا دی راغلـو او زر يـې بـار لـه خـرهٔ خـلاص کـړو او خـر يـې پـه ځـای وتـړو او وابـښهٔ يـې ورتـه واچـولې چـې کـوټې تـه راغلـه خـالو نـهٔ ؤ. زر را ووتـه مګـر د تيـارې لـه کبلـه هـيڅ نـهٔ ليـدل کېـدو. ښـهٔ سـاعت د انتظـاره پـس د تـور پېکـۍ دا يقـين شـو چـې دی (خـالو) لـه يخـه چېـري کرنـګ شـوی دی. ژړا ژړا نـزدې د يـوه کلـي وال ګـل کـرم اکـا کـره ورغلـه، هغـو چـې تـور پېکۍ وليده نو حيران شول او زر يې تپوس ځني وکړی چې؛

تـور پېکـۍ تـوري! خيـر خـو دی چـې پـه دې نيمـه شـپه راغلـې. تـور پېکـۍ پـه ژړغـوني اواز کښـې ورتـه وويـل چـې دی(نـوم يـې نـهٔ واخسـتت مـراد يـې خپـل مېـړه خـالو ؤ) سـهار غـرهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تللی ؤ، خر یې ځان سره بوولی ؤ، خو اوس بار خر راغلو، مګر دی نشته، که چېري تاسو پسې لاړ شئ، داسي نهٔ وي چېري کرنګ شوی او مړ به وي.

د کور سپین ږیری ګل کرم په ډېر همت ورته وویل چي تا به وختي ږغ کړو ځه خبر به یې غواړو. بیا یې په خپل زویانو (زامنو) او نمسیو باندي ږغ وکړ چي؛ هله ځان تیار کړئ او کلي والو باندي هم ږغ وکړئ. د ګل کرم اکا نمسی په منډه د مسید (جومات) دالان ته راغلو او په زوره یې دري واره دا ناره وکړه چي؛

او خیر دی ځوانان دي مسید (جومات) ته راشي

ټول کلي کښي د ناره واورېدل شوه، له اکثره کورو څخه یو یو ځوان په منډه دالان ته راغلو، د ګل کرم اکا دوه زویان هم راغلو او هغو دا ځوانان په حال خبر کړو، ټولو ځان تیار کړی ؤ، تیاره ډېره زیاته وه یو له بله څخه پوښتنه وکړه چي ستاسو کره به لالټین نهٔ وي، مګر د یوه چا کره هم لالټین نهٔ ؤ، آخر یوه ږغ وکړ چي د بل چا کره نشته صرف د ملک اکا او ملا صاحب کره شته.

ملک ډېر خشک (غصه ناک ) سړی دی هر څوک ځني وېرېږي او بخیل هم دی، که څوک ورته اړ شوی دی د هغو کار یې نهٔ دی چلولی. په ځوانانو کښي داسي څوک نهٔ ؤ چي همت یې کړی وای چي ملک کورته د لالټین لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشي. خو يو جلندر ؤ چي د ملک کره د لالتهين د پاره ورتلو ته تيار شو.

جلندر چي د ملک کورته ور ننوتي شو د ملک د سپي وربانـدي غپا شوه. د ملک نوکر تور د سپي په غپا له کـلا دبانـدي راووت او نږغ يې کړو چي؛ څوک يې نږغ وکړه. کني ومو ويستي. جلندر ور نږغ کړو چي توره زۀ جلندر يم سپي راڅخه ګوره. سم دستي تور په سپي نږغ وکړ او سپی غلی شو.

بيا تور له جلندر څخه تپوس وکړ چي؛ خير خو دی چي په دې نيمه شپه دي مخه راکړې ده. ستا خو نۀ چا سره مقدمه ده او نۀ بل څه خوابدي (خپګان). چېري ښځه خو دي نۀ ده راويستي. جلندر وويل چي نۀ خير دی هيڅ داسي خبره نۀ ده. لالتهين مو په کار دی، خالو اکا دغه شان ورک دی، تهوله کيسه يې ورته وکړه. اوس مونږ پسي روان يو. تور او دی لا ولاړ دي چي ملک د کوټې له ورۀ څخه ور نږغ کړو چي؛

هلکه توره! څوک دي چي په دې يخ او يخه شپه سپی را غپوي. تور ور نږغ کړو چي؛

صاحبه! جلندر دی، لالتهين غواړي، خالو اکا له غرۀ څه کورته نۀ دی راغلی اوس کلي وال پسي ځي.

ملک چي د تور وينا واورېده ډېر غصه شو او له ورۀ يې ورته وويل چي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلندري يې بيا د چا دی، مور خو د دوی لپاره لالټينان نه دي کړي او دوی څه نه دي خبر چې بازار له لالټينانو ډک دی، غورځه ورته وايه چې بل وار چې را نه شې. حيران مو کړي چې خدايه! بيا څوک راغلو چې سپی ورباندي غاپي، له ارامه مو باسي.

جلندر چټک روان شو او دالان ته ورغلی تولو په پوه شو چې ورته انکار يې کړی دی. خير جلندر سلام واچوو بيا يې حال ورکړی خو تولو په دې شکر وکېښ چې نور څه يې نه دي ورته ويلي او روغ ورڅخه راغلی دی.

اوس بل ځوان ښادي ګل وويل چې اوس به زۀ د ملا صاحب کره ورشم، هغه به لالټين راکړي. ښادي ګل چې ملا صاحب حجرې ته ورننوت او سلام يې ور واچوه ملا صاحب ډېر په مينه د سلام جواب ورکړ، بيا يې تپوس وکړ چې خير خو دی چې په داسي وخت دي مخه راکړې ده، څوک خو مو په کور کښي ناجوړه نۀ يي؟ ماځيګر خو په مسيد (جومات) کښي چا رېغ نۀ دی کړی. ښادي ګل وويل چې نۀ خير دی، څوک ناجوړه نۀ دي، لالټين مو پکار دی، خالو اکا سهارنی غرۀ ته تللی ؤ مګر تر اوسه نشته اوس کلي وال پسې ځي تياره ده، مور ويل که ملا صاحب تا لالټين راکړی وای، بس نور خير دی.

ملا صاحب چې د ښادي ګل وينا واورېده نو يې په مات زړۀ وويل چې شکر دی ما خو ويل چې يا څوک ناجوړه شوي ياست، لالټين به مو تر تاسو قربان کړی ؤ، مګر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـینکي اکـا لـور د پېـري مـرض لـري زۀ اوس یـو تعـویز کـاږم لګیـا یـم او داسـي تعـویز خـو تـل د میاشـتي پـه بـدو کښـي خېـږي، نـن آخـره بـده ده او کـه نـن راځخـه پاتـه شـي بیـا خـو نـۀ خېـږي، ټولـه شـپه بـه پـه دې تعـویز تېـروم، تاسـو د بـل مسـلمان کره پوښتنه وکړئ، لالټین به درکړي له ما خو نۀ دی خلاص.

ښـادي پـه نـا امیـدۍ ورځخـه را روان شـو او پـه لاري ځـان سـره وایـي کـه مـو چېـري دا ورتـه ویلـي وای چـي فلانکـي پـرون وادۀ راوسـتی دی او نـن یـې نکـاح تـړو یـا فلانکـي کـره خیـرات دی نـو بـه والله پـه داسـي منـده ولاړ شـوی ۀ چـي د ښـۍ پښـې کپـۍ بـه یـې پـه کیڼـه پښـه وه او د کیڼـې پښـې کپـۍ بـه یـې پـه ښـۍ، نـۀ بـه د بـدو تعـویزان ول او نـۀ دروغ، مګـر اوس چـي د خوار سړي کره پېښه شوې ده نو ........

ښـادي ګـل هـم پـه تـش لاس د مسـید دالان تـه ورغلـی او د سـلام لـه اچولـو پـس یـې ورتـه وویـل چـي مـلا صـاحب د بـدو د تعویزانـو بهانـه وکـړه، پـه لالټـین بانـدي یـې انکـار وکـړ، د ټولـو پـه دې سـخت طبیعـت خـراب شـو او ټولـو د مـلا او د ملـک پـه وینـاؤ طبیعـت خـراب شـو، مګـر یـو هـم تـر خُلـه ږغ نـۀ و ایسـت او ټـول پټـه خُلـه ولاړ شـو ځـوک یـوه خواتـه ګـوري ځـوک مځکـي تـه، آخـر یـوه ږغ وکـړی چـي چـرګ نـۀ ؤ ازان چـا کـړی ؤ؟ پخـوا چـي لالټینان نۀ ؤ دا خلکو څه ګزاره کړه؟ درځئ ناست په څه یو.

د کلـي دا ټـول ځوانـان د غـرۀ پـه لار لـه کلـي ووت چـي لـږ ببرتـه لاړو هلتـه دوې لاري جـلا کېـدې چـي یـوه پـه هـواره غـرۀ تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللي وه او بلـه پـه غونـډيو کښي. دا ځوانـان پـه دې ځـای سـره ودرېدل او دايې سره وويـل چـې نـيم بـه پـه دې لار او نـيم پـه دې بلـه د غونډيو پـه لار، او کـه مـو پيـدا کړو بيـا پـه زوره نـاره کړو يـا بـه د اور لمبه کړو چي سره پوهه شـو او کـه مـو چېري نـهٔ کړو پيدا بيا به سرچيني کږې ته سره راځو.

دوی لا پـه دې ځـایٔ وو چـي د يـوه تـر غـوږ څـه سـوخول شـو، زر يې پـه نـورو ږغ وکـړ چـي تاسـو پټـه خُلـه شـئ، څـه سـوخول دی. ټولـو غوږونـه سـيخ څـک ونيـوو او ډېـر لېـري يـې د سـړي ټوخي واورېدو. ټـول پـه هغـه خـوا ور روان شـو. دا ټـوخی د خـالو اکـا ؤ او يـو ځـای پـروت ؤ. سـختـه تبـه يـې وه، ټـوخی يـې کېـدو، ګرولګـي (بلغـم) کښـي يـې وينـه وه، د يـخ لـه وجـي ږغ يـې نـهٔ شـو کـړای، کپا اخسـتی ؤ، دا ځوانـان چـي ورتـه ودرېـدل اکثـرو ږغ پـرې وکـړ، مګـر دی د جـواب نـهٔ ؤ. بيـا يـې بـوټي سـره راټـول کـړو او اور يـې ورتـه بـل کـړو، مګـر هـيڅ فائـده نـهٔ وشـوه. خـالو د ولاړې او تـګ نـهٔ ؤ. آخـر دې ځوانـانو خپـل پټکـي سـره ګنـډه (غوټـه) کـړو او د پټکـو پـه سرو يـې ښـهٔ غټـي درګـې سـره وتـړل او جنـازه يـې جـوړه کـړه او خـالو يـې پکښـي را واخسـتو او کورتـه يـې راوړو. تـور پېکـۍ چـي جنـازه وليـده يـوه داسـي چيغـه يـې تـر خُلـه ووتـه چـي ټـول کلـی او کـور يـې لـه خوبـه راپورتـه کـړو. تـورپېکۍ چـي پـه ژړا شـوه نـو اولاد يـې هـم ورسـره وژړل، د تـور پېکـۍ پـه ژړا د کلـي اکثـر سـپين ږيـري او ځوانـان د دې کـور تـه راغلـو، تـور پېکـۍ پـه چيغـو او ژړا کښـي داسـي متلونـه شروع کړو ګـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مېړه یې مړ شوی دی. هر څومره چې ځوانانو ورته وایې چې مړ نۀ دی ناجوړه شوی دی ځکه مو په جنازه را واخست، مګر تورپېکۍ دا خبره کله هم نۀ منله. څه ساعت پس تورپېکۍ د خالو تبوخې واورېدو، بیا یې تسلي وشوه چې مړ نۀ دی ناجوړه شوی دی. سمدلاسه ولاړه شوه او زر زر یې ځای تیار کړو، کلیوالو خالو را واخست او په ځای یې پرې ایستی. تور پېکۍ چټک اور بل کړو چای جوشه یې په اور باندي کړه، د چای پاڼي نۀ وې د ونو پاڼي یې ور وایشولې او څو تودې پیالې خالو وڅښلې. له دې ګرمو پیالو څښلو سره یې یخ کم شو، بدن یې تود شو، مګر تبوخې او دردونه یې هغه شان وو. دا شپه خالو ډېره په تکلیف تېره کړه.

دوې ورځې د خالو بار ناغه شو، له دې وجې په کور کښې نۀ اوړه ؤ او نۀ پاڼې. په دې درېیم سهار خالو خپلې ښځې ته وویل چې تۀ په کلي کښې تپوس وکړه که چېرې خرکاران تلو او دا زما بار یې هم ورسره وړی وای او ماښام لپاره به یې څه راوړي وای.

تورپېکۍ چې تپوس وکړ څوک نۀ تلو، مېړه ته یې حال ورکړی چې نن خو هیڅوک نۀ ځي. خالو په دې ډېر پریشان شو او حیران شو چې ماښام به کهول څۀ خوري؟ زۀ د تګ نۀ یم. خدایه! تۀ مو له غیبه امداد وکړې. کهول به څۀ کړي؟ کور کښې هیڅ هم نشته او په ما دې دا قهر نازل کړو بس هر څه تۀ کړې، ستا له لاسه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ساعت په دې فکر کښې ؤ بیا یې سوکه ځان سره وویل چې زۀ به د تګ نۀ یم تورپېکۍ چې دا واورېدل زر یې وویل مور به له لوږې نۀ مرو تا دې خدای جوړ کړي، تۀ د تګ نۀ یې، له ځایه مه ښوره. نن شپه که شومتیا تېره کړو هیڅ خبره نۀ ده. کور د اوړو دومره دوړه شته چې غرمه هلکان ګزاره په وکړي، د ماښام لپاره به د چا څخه څه قرض واخلو، پروند له بازار لوی باحیر راغلی ؤ. ګوندي به څوک څه قرض راکړي شپه به پري تېره کړو.

غرمه چې کور کښې څه وو هغه یې تول پاخه کړو. د ماښام لپاره په کلي کښې وګرځېده، پروند چې چا ډکې ګونۍ د اوړو راوړي وې هغو کښې دوو کورو والاؤ ورته وویل چې زموږ خپل اوړه نشته، غله مو ختمه ده، واوري له وجه څوک بازار ته نۀ دي تللي، کنې د اوړو تالی به مو تر تاسو جار (ځار) کړی ؤ. آخر چې له دوئ نا امیده ووتله او په دې هم خبره وه چې د اوړو ګونۍ یې په کور کښې ډکې پرتې دي نو دا نور به هم داسې انکار راته وکړي، ولې د سترګو اوبه باسم، توکل په خدای ماښام به هلکانو ته پوسه ور جوړه کړم او په خطا به یې کړم.

ماښام تورپېکۍ پوسه تیاره کړه او د ډوډۍ په ځای پوسه او د غوښې په ځای یې ګوړه ورکړه او هم په دې یې کامله ګزاره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا سهار چي تورپېکۍ حسب المعمول اودس او نمونځ وکړی مگر خالو د اوداسه نهٔ ؤ په تیبانه( تیمم) نمونځ وکړی او نن تر پرونډ څه په عذاب ؤ، نهٔ په کور کښي د خوراک څه ؤ او نهٔ د بلي خوا څه هیله وه.

تورپېکۍ مېړه ته وویل که ستا اجازت وي زهٔ به خر بار کړم ما څه اگۍ، د مردارو پسو وړۍ او پوست ایښی دی، بازار ته به یي یوسم، هیڅ بلا مي نهٔ خوري، سر مي سپین وېښته لري، که چېري څوک تلو خو لاښه دی هغه به هم ملگری شي، بار او دا نور څه به خرڅ کړم اوړه او نور څه لږ ډېر به وکړم چي په کېدو.

خالو په زگېروي کښي ورته وویل چي؛ څهٔ وکړم ما خو په تا دا کارونه نهٔ کړو، سبا به دا خلک څهٔ وایي چي په ښځه باندي بار خرڅوي؟

خو مجبوري مسلمان تر ایمان تېروي خېر د کهاله (کور) تر شومتیا به څهٔ .........

خو ښځي بازاریان ډېر چلبازه دي او ستاسو د ښځو عقل تر پونده لاندي وي، څوک ملگري به دي نهٔ شي پیدا، باران زوی درسره کړه او د بازار د بیعه پوښتنه دي وکړي چا چي په گرانه بیعه غوښتل هغه ته بار او دا نور څه ورکړه او اوړه او نوره سودا چي چېري وړیا (ارزانه) وه هلته یې واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورپېکۍ خر تيار کړو بار يې پرې باندي کړو، اګۍ وړۍ او پوست يې په بار کښي کښېښود، باران زوی يې ځان سره ملګری کړو او بازار ته روان شو. باران تر اوسه بازار نۀ ؤ ليدلی، ډېر خوشحاله ؤ چي بازار به وويـنم او په زړۀ کښي ډول ډول خيالونو ور غبرګوي.

دوی دواړه په يبلو (لڅو) پښو وو، يخ نن کم ؤ، اسمان شين ؤ، مګر مځکه لا لنده وه، ځکه به د دواړو پښي سرې شوې.

باران په لارې مورته وايي چي موري! ماته به ګوتونه را اخلې. او که پيسې وې نو به خوږې هم را اخلې. مور يې د هر څه قول ورسره وکړی.

بازار ته نږدې شول له يوې خوا لارۍ راغله او هارن يې ووهلو چي خر له مخه ووځي. خرۀ چي غورکۍ (شور) او هارن واورېدو منډه يې کړو، تور پېکۍ زر د خرۀ د مخ له خوا ورسره راغله او خر يې ونيولو او زر يې د اګو کڅوړه وکتله شپږ اګۍ پکښي ماتي شوي وې. طبعيت يې ډېر خراب شو او ماتي اګۍ يې وغورځولې. بېرته يې کڅوړه وتړله. دوی لا ولاړ وو چي په سرۀ سائيکل سپور يو سړی ورته راغلو او وې ويل چي د بار او د نورو بلاؤ محصول راکړئ.

تور پېکۍ د دې سړي په وېنا نۀ شوه پوه، خو په جواب کښي يې ورته وويل: چي دا بار خرڅوم او اول بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښي د بيعي (قيمت) پوښتنه کړم چي نرخ يې ځان ته معلوم کړم بيا به يې بيعه در کړم.

سائيکل واله ته د تور پېکۍ په دې خبره خندا ورله او په خندا خندا کښي يې ورته وويل چي بيعه او نرخونه ستا کار دی ماته محصول راکړه، زۀ محصول واله يم په خبره پوه شوې که نۀ او که يو وار بيا درته ووايم.

تور پېکۍ کله هم د محصول ټکی نۀ ؤ اروېدلی او نۀ مېړه څه ورته ويلي وو خو په زړۀ کښي د مېړه هغه هدايت ور په ياد شو چي بازاري ډېر چلبازه دي او پخوانو پخوا ويلي وو چي بازاري زوی نۀ زوی خو سائيکل واله ته يې وويل چي دا څۀ وېنا کړې، سم په پښتو راسره رږغېږه، زۀ دي په بازارۍ نۀ پوهېږم څۀ مقصد لرې.

سائيکل واله او تور پېکۍ سره اخته شو او دواړه يو بل ته بدي او سپکي وېنا کړې. دوی لا سره اخته وو چي باران ورته وويل چي هغه دی سيدو اکا راغلی. تورپېکۍ چي تر شا وکتل سيدو يې وليد ډېره خوشحاله شوه.

سيدو چي و راغلو کيسه يې ځان ته معلومه کړه بيا يې تور پېکۍ ته وويل چي دا محصول غواړي او صرف تا څخه نۀ غواړي هر چا څخه يې غواړي خو بيا هم تور پېکۍ پوه نۀ شوه او د سيدو څخه يې پوښتنه وکړه چي دا محصول يې بيا څۀ دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدو ورته وویل چې دا یو کلنګ دی چې څوک بازار ته څۀ راوړي نو سرکار په هغه څه غواړي. تورپېکۍ بیا سیدو ته وویل چې ځوني زهر یې دی، زمونږ کلي ته تل ګرواره راځي تر اوسه یې کله کلنګ نۀ دی غوښتی او اوس خو هیڅ نشته، مازدیګر چې راځو بیا یې درکوو. محصول وال زر بېغ په وکړی چې زۀ ستا نوکر نۀ یم چې تر مازدیګره به درته ولاړ یم، که چېري پیسې نۀ وي بیا دا اګۍ راکړه.

څو اګۍ درکړم، د اولاد دي مۀ شه دارو. تور پېکۍ ورته وویل.

محصول وال له جیبه قلم او کتاب را وایست، پوښتنه یې ځني وکړه چې ځوني(څومره) اګۍ، پوست خو یو دی.

تور پېکۍ؛ څلوېښت اګۍ وې، شپږ ماتي دي پوست یو دی.

محصول وال په کتاب لیک شروع کړی بیا یې له کتابه یوه پرچه ور پرې کړه، تورپېکۍ ته یې په لاس کښې ورکړه او ورته یې وویل، شپږ انې کېږي او دا ستا کلي وال ته معلوم ده چې اګۍ په بازار کښې په دوې انې ده، درې اګۍ راکړه بس ماته به حق ورسېږي او ستا یې په مخه شه.

تور پېکۍ د اګیو په کڅوړه لګیا شوه او محصول وال ته وایي چې یو وار شکوني (شوکه) کړې او بیا وایې چې حق به را ورسېږي. د زورو شکونه ازار هم نۀ دی. دا دي درې اګۍ واخله مخته دي بلا په مخ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محصول واله ورځخه لاړو، تور پېکی پرچه د ټکري په څاک پوري وتړله او روانه شوه، باران د خرۀ له یوه څنګه سره ؤ او تورپېکۍ په دا بل څنګ خو تر شا ورپسې روانه وه، سیدو په لاري ورته وویل چي دا څو ورځي خرکاران نۀ دي راغلي، لرګي به ناوده (لامده) وي، پخوا په پنځلس روپی بار ؤ او تۀ یې نن د اتلس په کم مۀ ورکوه.

تورپېکی چي په دې پوه شوه چي لرګي ناوده دي ډېره خوشحاله شوه او د بازار په کوڅو چي ور ګډه شوه، له یوې بلي خوا ژغونه (غږونه) پرې وشو چي بار په څو دی؟ تور پېکی چاته مخ نۀ ورګرځوی او په مخه ځي او ورته وائي چي په اتلس روپی دی اتلس. کله چي څوک لږ په زوره ږغ ورته وکړي چي لږ راته ودرېږه، باران لږ نوک ورته ووهي، هغه د قیمت پوښتنه وکړي، باران هم په اتلس روپی یې ور بیعه کړي.

اخر یو سړی چي کور کښي د اور بلولو هیڅ نۀ درلود په منډه د بار مخ ته شو. او ورته یې وویل چي تاسو خو واورئ، څه در شوي دي، کله مو بار خرڅ کړی دی که نۀ په منډه منډه تر کوڅو تېرېږي.

لرګي یې ښه وکتل او په نظر یې لرګي ښه راغلو او بار هم ښه غټ بار ؤ، مګر چي په بیعه ګران ؤ آخر یې ورته وویل چي بس په اوولس یې راکړه، تاسو به هم له تکلیفه خلاص کړم زما به هم کار په سم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران او تورپېکۍ په دواړو ورته وويل چي نه که په اوولس مو خرخولی نوبه مي اول درته ويلي ؤ، تر اتلس يې يوه پيسه کمه نه ورکوو. دا سړی لا ورته ولاړ ؤ چي په سائيکل سپور يو سړی راغلو او ښه غټ سلام يې ورته واچوو، باران او مور يې دا خيال وکړی چي دا هم بار اخلي او د هغه پخوا يې وکتل، تر هغو سړي ورته وويل چي د بار مالک څوک دی. بيا تورپېکۍ ته مخاطب شو.

يه تورېږ! دا بار ستا دی؟

هو وروره. تورپېکۍ ورته وويل.

ټيکس مو ورکړی دی؟ سائيکل والا ورته وويل.

تورپېکۍ، هو ورکړی مو دی.

کومه دی پرچه درسره ده؟

تورپېکۍ د ټکري په څاک لګيا شوه خر په مخ روان شو، باران په خره پسې شو، تور پېکۍ هم د ټکري ګنډه خلاصوي او په خره پسې روانه شوه، ټکري ګنډه يې خلاصه کړه، او هغه پرچه چي محصول واله دې ته ورکړې وه، دې سائيکل والا ته ورکړه. سائيکل واله چي پرچه وکته زر يې ورته وويل چي؛ دا خو د محصول پرچه ده، زه ټيکس والا يم ټيکس غواړم.

تورپېکۍ دې خبري ته څه جواب ورنه کړو، باران او خر په دې دوران کښي په يوه کوڅه جار وتي وو، د کوڅې سر ته چي تورپېکۍ ورسېده خر او باران ښکاره نه وو، ژر يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلـه ګلـۍ وکتـه، هلتـه هـم نـۀ ښـکاره کېـدو، واپـس د هغـې ګلـۍ سـرته راغلـه او ژر يـې پـام شـو چـي پـل يـې وګـوره، مځکـه تـه يـې خيـال شـو پـل نـۀ ښـکاره کېـدو، ولـي چـي روډ پـه ډامبـرو پـوخ ؤ. بيـا يـې ژر ژر يـو بـل څخـه پوښـتنه وکـړه چېـري يـو هلـک لـه بـار خر سره مو نۀ وليد، چا د هو جواب نۀ کړو ور.

سـائيکل والا بيـا وراغلـو او ورتـه يـې وويـل چـي دا د محصـول پرچـه ده، زۀ د ځنګلـي لرګـو ټـيکس غـواړم. تـور پېکـۍ ورتـه وايـي چـي لـه مـا زوی او بـار ورک دی او تـۀ مسخري کړې.

څه سپک خلګ ياست. سائيکل والا ورته وويل.

تـور پېکـۍ څـه جـواب ور نـۀ کـړ او پـه يـوه بلـه ګـوري، پـه چټکـۍ سـره يـې ټـولي ګلـۍ سـرتر پايـه وکتلې او هـر چـا څخـه د زوی او بـارخرۀ پوښـتنه کـړي. آخـر پـه چټـک تـګ سـتړې شـوه او له سترګو يې اوښکي شروع شوې.

سـائيکل والا بيـا ورتـه راغلـو ورتـه يـې وويـل، کـه ټيکس نۀ راکوې زۀ بيا رپورټ کړم.

څـه بـې مطلبـه خلـګ ياسـت، زمـا پـه زړۀ څـه تېرېـږي او تـۀ څـه کـړې. تـورپېکۍ ورتـه وويـل. سـائيکل والا ورڅخـه لاړو صـرف دا يـې ورتـه وويـل چـي ښـۀ دی سـره ګـورو بـه. او بـاران پـه مـور پسـې ګرځـي، د بـازار ګلـۍ کلـه هغـه نـۀ وي ليـدلي او کوشـش کـوي چـي بېرتـه پـه هغـو ګليـو لاړ شـم پـه کومـو چـي راغلـی يـم. مګـر نـۀ شـي برابرېـدی، آخـر چـي نـا اميـده شـو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــين روډ کښــــي د يـــو دوکـــان تـــر مـــخ و درېـــدی، يـــو وار اوش اوش لـري، بيـا پـه ژړا بريـد وکـړي. څـه سـاعت پـس خـرۀ ورايـل، چـا چـي د خـرۀ رايـا واورېـده ټـولـو د هلـک ژړا او خـرۀ تـه پـام شـو، او يـو څـو سـپين کـالي ( چـي پـه متـو يـې قمـر دسـمالونه اچـولي وو ) طالبـانو هـم ورتـه وکتـل. پـه دې طالبـانو کښـي يـو طالـب دی پېژنـدو او د دوی پـه کلـي کښـي څـو کالـه طالـب پاتـه شـوی ؤ او کلـي کښـي يـې وظيفـې( ځيـرې) ټولـولې چـي کلـي والـو بـه مـلا چونـک بللـو. مـلا چونـک پـه بـل طالـب بانـدي رږغ وکـړی چـي مـلا هغـه دی دوی دوه خـو هـم بـازار تـه راغلـي دي او ځـان بانـدي ډېـر غـره دي او داسـي غـره غـره نـارې کـړي لکـه چـي بازار يې په قيمت اخستی دی.

بـل طالـب پـه نـورو رږغ وکـړی چـي ګـوره ګـوره مـلا د هغـه د خـرۀ د لړمانـه پـه برابـر وينـې، لکـه د شـينکي اخونـدزاده بيـت. بيـا يـې کـټ کـټ سـره وخنـدل. د طالبـانو پـه خنـدا ځينـي خلګـو پـه بـد نظـر ورتـه وکتـل. تـورپېکـی لـه ډېـري لېـري د خـرۀ رايـا واورېـده او زر پـه دې خـوا روانـه شـوه. هـم دا وخـت د ميونسـپلټۍ افسـران ګرځېـدو، او د ښـار صـفائي ګـوري. څـو تنـه پـوليس والا هـم پـه يـو بـل څنـګ مـخ او تـر شـا روان دي. ځينـي پـوليس والـو سـره توپـک او ځينـو سـره لـوئ لرګـي دي او يو بل له مخه باسي. کله يې په لرګو باندي ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران په ژړا ژړا کښي دا ټوله تماشه ګوري آخر دا افسران او پولیس والا باران ته ودرېدو او یو افسر په ډېره غصه او کچه ژبه کښي باران ته وايي.

تي چا کول (تۀ څۀ کوې) چه جګ یې (چي ولاړ یې) تاخي خبرونه نۀ دي (تۀ خبر نۀ یې) د تاکي خر روډ کښي ګندګي واخلي ( چي دا ستا خر په روډ کښي ګندګي اچوي) بیا دې افسر یو ناظر ته مخ کړو او حکم یې ورته وکړو چي پنځه روپۍ جرمانه ورڅخه واخله.

باران د افسر په وینا نۀ پوهېدو خو ناظر ټوله کیسه ورته وکړه او پنځه روپۍ د جرمانې یې ځني وغوښتې.

باران خو له مخه هم ژړل او څه وخت چي دا افسران او پولیس وال ورته ودرېدل هغه نور هم ووېرېدل، ژړا یې ګر سره بنده شوه تر خُله یې ږغ نۀ شو ایستلی او ناظر ته په جواب کښي وايي چي . ما ، ما سره روپۍ .... نه .... نشته.

څه وخت چي باران تر خُله دا الفاظ باسي له وېري کپنه اخستی ؤ.

دا وخت د بازاریانو یوه غټه مجموعه سره غونډه شوې وه. ناظر افسر ته وویل چي

صاحب! دا وایي چي ما سره روپۍ نشته. افسر په انګرېزي ژبه کښي وویل چي

دا خو ډېر غلۀ دي، دهوکه باز خلک دي، په دې خلګو هیڅ باور نشته جیبونه یې وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پولیس والا زر زر د باران د زړې سدرۍ جیبونه وکتل او ټول جیبونه یې سوروي وو، تر هر جیب یې لاس وتل او هیڅ په لاس نهٔ ورغو افسر بیا زر حکم ورکړی چي نیلام ګهر ته یې یوسه او بار نیلام کړه.

باران یې له بار خرهٔ سره نیلام ګهر ته روان کړو او غونډه شوې مجموعه سره خپره شوه، خرهٔ بیا ورایل. تور پیکی دلته نږدې ولاړه وه مګر د غټې مجموعې له کبله یې باران نهٔ لیدو اوس چي یې د خرهٔ رایا واورېده زر یې شاته وکتل او اول یې خر بیا یې باران ولیدو او په ډېر چټکي سره او په ډېره مینه یې غېږ ورباندې وغوړوله، مور لا خپل زوی باندي غوړېدلې وه چي د شا له خوا پولیس والا په لاس اشاره ورته وکړه چي دا رې مې درځې (درېږئ مهٔ، درځئ) تور پیکی حیرانه شوه چي څهٔ چل دی څله دا دوني (دومره) ډېر سړي په باران او خرهٔ پسي پسې دي.

د شا له خوا د یو سړي په زوره ناري دي. اوس اوس د تحصیل تر مخ یو بار د لرګو نیلامېږي چي د چا شوق شي یا د چا کره چي لرګي نهٔ وي هغه دي راشي او بولي د ورکړي.

د تحصیل تر مخ له خرهٔ یې بار خلاص کړو او تور پیکی ته یې ټوله کیسه وکړه، مګر پوهه نهٔ شوه خو صرف په دې پوهه شوه چي په خپله خوښه او په زوره بار راڅخه اخلي او ډېري چیغې بغاري یې وکړې مګر........

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اتلس روپۍ د بیعه شوي بار بولۍ له یوې روپۍ څخه شروع شوه یو تور رنګه سړی ناري وهي چي دا و چ لرګي دا غټ بار په یوه روپۍ دا بولۍ جاري وي تر اووه روپو ورسېده، بیا دې تور رنګه سړي ناري کړو چي دا غټ بار دا وچ لرګي په اووه، افسوس چي له ما سره روپۍ کمي دي ګنې په والله که مو په شل ایله (پرې ایښی وای) کړی ؤ، که چا په درېیمه ناره جواب رانۀ کړو نو بس دا بار په اووه روپۍ ولاړو. دې سړي دوې ناري وکړې تر درېیمه لمخه یو بل سړي د اتو روپو بولۍ ورکړه، درې واره بیا د اتو روپو ناري یې وکړې، مګر چا بولۍ ورنۀ کړه.

هغه تور رنګه سړي اته روپۍ واخستې او هغه یې ناظر ته ورکړې، ناظر اجازت نامه ورکړه چي لرګي یوسئ او ناظر دې تور رنګه سړي ته (چي لالا لالا به یې بالو) چي دا درې روپۍ دې ښځي (تورپېکۍ) ته ورکړه. لالا د تورپېکۍ په خوا روان شو چي یو سړي ور بږغ کړو چي دا باقي روپۍ مۀ ورکوئ زۀ یو وار له ناظر سره وینم. دا هغه سائیکل وال ؤ چي تور پېکۍ څخه یې ټیکس غوښتی. دې سړي ناظر ته وویل چي له سهاره په دې ښځه پسې یم، ټیکس ورڅخه غواړم، مګر دې تر اوسه ټیکس نۀ دی راکړی.

ناظر لالا ته ناره کړو چي دا درې روپۍ دغه ټیکس وال ته ورکړه، ټیکس یې هم نۀ دی ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران ته خر او کڅوړه وغیره لالا په لاس ورکړو، مور ورته وویل چي زویه چټک درځه او ویل یې چي؛

خدای خر په لاس راکړی دی که یې ور فکر شو نو دا خر به هم راځخه خرڅ کړي.

دوی دواړه پټه خُله خر رارowان کړو، څه بڼغ یې نهٔ وکړی خو ډېر خفه او پریشانه وو، د تور پېکی په لاس کښي د اګیو کڅوړه وه، ښه ډېر په لار ولاړو بیا یې باران ته وویل چي زویه اوس به څهٔ کړو.

څه وخت چي تورپېکی زوی ته دا وېنا کړه نو دواړه لاسونه یې پورته کړو ګوتي یې سره ازادي کړې او د دې په لاس کښي کڅوړه په مځکه پرېوته او د اګیو کړپ شو، ټولي اګی ماتي شوې، تورپېکی چي کړپ واورېدو نو هغهٔ پښه چي د قدم د مخ ته اخستلو لپاره یې پورته کړې وه په هوا کښي ونیوله او کڅوړه ته یې لاس کړو، راپورته یې کړه، کڅوړه یې خلاصه کړه چي کتل یې ټولي اګی ماتي شوي وې له ډېر خفګانه د تورپېکی په مخ توري توري چمبې (څپې) راځي او د مخ ګونایې بدله شوه. د سر له مغزو یې ځرکي خېږي ښهٔ ساعت حیرانه او په پټه خُله ولاړه وه، دې ته د سیف الملوک نقل وریاد شو او ځان سره یې سوکه وویل چي ځم په بلا وځم. کڅوړه یې تر کونج ونیوله او د خُلې خوا یې کوزه کړه ټولي اګی یې تسي کړې او بیا یې کڅوړه د خرهٔ په ځل پوري وتړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور پیکۍ دومره پریشانه وه چې پوست او د وړیو ورګونه یې هېر شوي وو او دوی د کلي په خوا روان شول.

تر بازار لا وتلي نهٔ وو چې زوی ورته وویل چې

موري! پوست او وړۍ دي ولې نهٔ کړې خرڅې. د مور یې چې دې ته پام شو زر یې ویل چې خر راوګرځوه په زړهٔ مو داسې بلا کښېنسته چې هر څه مو هېر شو. په شا یې مخ کړو او دا ودرېده، په سوچ کښې شوه، لږ ساعت پس یې زوی ته وویل چې زویه درځه دا به په کلي کښې په دکاندار خرڅ کړم داسې نهٔ چې نور غلهٔ په را برابر شي او دا راڅخه یوسي. تر دې دا ښه دی چې تش لاړ شو. خر یې بېرته پرېښود او په مخ روان شول. څه وخت چې کلي ته ورسېدو باران خر کور ته بوتلی او مور یې پوست او وړۍ دوکاندار ته ور وړې. څه اوړه یې په واخستل او کورته راغله. تور پیکۍ چې کوټې ته ننوته او د مېږه سر ته کښېنسته او په سر یې لاس ورکېښودو او حال یې ځنې وکړ ورته ئې خپل حال ورکړی. خالو چې په عذاب ؤ نهٔ یې ښهٔ او نهٔ یې بد وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)

اکثــر کلیــوال پــه دې خبــر وو چــي خــالو نــاجوړه دی څـوک چـي بـه پـه خبرېـدو چـا بـه دعـا ورتـه کـړه چـي خـدای دي جـوړ او اکثـر بـه پوښـتني تـه ورتـه راتلـل او هـر یـوه بـه نسـخې ورښـوولې. او د چـا کـره بـه خـو د هـر مـرض ګـولۍ وې، هغـو بـه ګولۍ هم ورا وړې.

د خـالو ګولیـو تـه زړۀ نـه غوښـت او ښـځې تـه یـې وویـل چـي چـا راتـه وویـل چـي اومـان در و ایشـوه او ویـې څښـه. دارو له خدایه دی، ګوره که مو دا سبب شو.

تــور پېکــۍ زر اومــان و ایشــول او د ایشــېدلو اومــانو یــوه پیالــه یــې ورکــړه. خــالو دا پیالــه و څښــله، لــه دې ســرهیڅ فائــده نــۀ وشــوه. خــالو دا رنګــه ډېــري نســخې اســتعمال کــړې مګـر ورځ پـه ورځ مـرض زیاتېـدو. څـو ورځـي پـس چـا مشـوره ورکـړه چـي د دنیـا ټـولي نسـخې او دواوي دي پـه ځـان وکتلـې مګـر څـه فائـده درتـه ونـۀ شـوه، اوس تـۀ صـاحبزاده شـین ګـل اخنـدزاده لـه ورشـه چـي تعـویز او دم در وکـړي ګـوره کـه خـدای مهربانه شو او د دۀ لیاره (لاښه) درته دوا شوه.

خـالو تـه تـر دې لمخـه هـم خیـال ۉ چـي صـاحبزاده صـاحب لــه ورشــي مګــر هغــه تــر اوســه ځکــه ږغ نــۀ شــو کــړلای چــي د شــکرانې لپــاره یــې څــه نــۀ درلــود، مګــر اوس تــور پېکــۍ ډېــر تکـرار کـړو چـي هـر څـه وي د شـین ګـل اخنـدزاده دربـار لـه بـه ځـې، څـه معلومـه چـي څـه بـه دي دارو شـي، امیـد و خـدای تـه چـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحبزاده صاحب ليارہ (لانه) به دي دوا شي. د خالو د شين ګل آغا دربار خوش ؤ، مګر په دې حيران ؤ چي آغا صاحب خو په تش لاس چا سره نۀ ويني، نۀ دم او تعويز ورکوي او که څه لږ په لاس کښي ورهم کړي نو هغه داسي زورور نۀ دی لکه د پوره شکرانې تعويذونه او دمونه چي زورور وي. آخر يې تورپېکۍ ته وويل چي تۀ وګوره کور کښي به داسي څه شی نۀ وي چي خرڅ يې کړو. او د اخوندزاده شکرانه په برابره کړو.

تورپېکۍ ته کور معلوم ؤ چي بل داسي شی نشته چي خرڅ يې کړو بغير د ګاڼې که ستا اجازه وي دا ګاڼه به خرڅه کړم د شکرانې لپاره به هم او د ګزران لپاره به مو هم لاس په خلاص شي.

خالو ښۀ ساعت پټه خُله شو او نفس يې دا خبره نۀ منله چي زما ښځه دي خپله ګاڼه خرڅه کړي او خپلي مجبورۍ ته يې هم وکتل، نو يې په ډېر مات زړۀ ورته وويل چي ځه خرڅ يې کړه بله چاره نشته.

خالو چي اجازه ورکوله ستر ګي يې پټي وې.

تورپېکۍ چي دوکاندار ته ګاڼه وروړه دوکاندار وکتله او دواړو لاس کښي ونيوله چي څومره وزن لري او ګاڼه په يوه بله خوا واړوي بيا ځای په ځای يې په ګوته ومړې اخر يې ورته وويل چي په څو دي بيعه کړې ده.

تورپېکۍ يو وار پټۀ خُله شوه بيا يې ورته وويل چي پوښتنه د بيعې کړې، تۀ يې هم وينې چي ټول زر دي نن سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زر ډېر ګران دي ځو کاله پخوا يې له ما په درې سله روپو غوښته مګر هغه وخت مې نۀ خرڅوله خيال مو دا ؤ چې د اولاد په وادۀ کښې به يې استعمالوم، مګر د خدائ دا نۀ ده خوښه نن اړ يو بس هر څه چې تۀ مناسب ګڼې هغه را کړه.

دوکاندار چې درو سلو روپۍ واورېد ومسېدو او په خندا يې ورته وويل چې، نۀ درې سله روپۍ خو قيمت نۀ لري او نۀ يې په قيمت اخلم. دواړو چنې سره شروع کړې اخر په ۱۳۰ روپۍ تورپېکۍ له خپلې مجبورۍ څخه ورکړه او په دې روپو کښې يې د ۲۵ روپو د کور لپاره سودا وکړه.

بله ورځ تورپېکۍ د پنځوسو دوه نوټه د ټکري په څاک ګنډه کړو او مېړه يې په خرۀ سپور کړو. د شين ګل اخونذاده د دربار په لور روان شو.

دربار ښۀ ډېر لېرې ؤ، خالو ډېر کمزوری شو ؤ په خرۀ نۀ شو تم کېدای، په لارې به تورپېکۍ تر متې نيولی ؤ ځای په ځای به يې له خرۀ کشته کړو، خالو به مځکه پروت او ډېر په تکليف دربار ته ورسېدو.

تورپېکۍ او خالو کله هم دربار ته نۀ ؤ ورغلي، د دربار اداب نۀ وو ورته معلوم، کله چې يې خر د دربار په سرای ور ګډ کړو مخامخ يو سړي ور تاخ کړو او ورته وويل چې نۀ پوهېږې چې دا دربار دی او تا دا مردار خر په ګډ کړو، خر ځباندي (بهر) وتړه او په پښو راشئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورپېکۍ په زړۀ کښې وويل چې واقعې دا خو مو بې ادبي وکړه. چتهک يې خر ځباندي و ايست او د سراى يو خوا ته چې غټ ډډ پروت ؤ خر يې پوري وتړلی او مېړه يې سوکه په غېږ کښې راکښته کړ، ښۀ ساعت خالو دلته موټان تر تندي لاندي کړو او پروت ؤ، تورپېکۍ يوه خواته حيرانه ناسته وه اخر خالو سر راپورته کړو، تورپېکۍ چتهکه ور ولاړه شوه او تکيه يې ورکړه او پورته يې کړو. سراى ته ورننوت او دربار ته نږدې له نورو خلګو سره کښېناسته.

تورپېکۍ کله دربار نۀ ؤ ليدلی نن چې يې دربار او سراى وليد ډېره ورته حيرانه وه چې ځوني (ځومره) ښائسته ځاى دى، ځوني پراخ دى، څه ښائسته کوټې دي، څرنګه پخې او ګلداري يې جوړي کړي دي، څه عجبې درختې پکښې دي چې دى يخ کښې زرغونې دي. بيا يې ځان سره وويل چې ببشکه خداى خپل بزرګان په دواړو جهانو خوشحاله ساتي، په دې جهان يې داسې ښائسته ځاى ورکړى دى، په هغه جهان به يې څرنګه ښائسته ځايونه وي. د دنيا يو کار نۀ کړي مګر بيا هم تر ټولو زياته دنيا داره دي. هر عمل يې د هغه جهان توشه ده، ډېر لائقان دي، خداى دې نور لائقان کړي.

شين ګل اخونذاده دربار کښې دننه ناست ؤ، زيارت ته څوک ورننوځي او څوک ورځخه وځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربار په وره کښې یو سړی ناست ؤ چې هر سړی نهٔ ور پرېږدي اکثرو ته وایي چې لږ انتظار وکړئ، قربان دربار ته راځي او چې صفا کالي واله یا شملې واله چې مشهدي لونګۍ یې په سر وي هغه سیخ سیدها ورننوځي او هم ورته ولاړ شي.

نيمهٔ ساعت پس تورپېکۍ خالو ترلاس ونیولو او دې سړي ته ورغلو او ورته وې ویل چې دا ناجوړه دی که چېري مو ورپرېږدې د اخونزاده صاحب ملاقات وکړو. دې سړي ورته وویل چې صبر وکړئ قربان راوځي د هر چا تقاضې به پوره کړي خو تورپېکۍ بیا ورته وویل چې دا ډېر په عذاب دی کور مو لېري دی. مګر دې سړي بیا انکار ورته وکړی. دلته یو بل سړی ولاړ ؤ چې د درباري خادمانو په جامو کښې ؤ، تورپېکۍ ته یې وویل چې ملنګ یاد کړه څه ورکه بیا به دي خلیفه صاحب ته پرېږدي او هغه به اخونزاده صاحب ته ور ولي تورپېکۍ ته خالو سوکه (په ورو) وویل چې دا زما د پټکي څاک در خلاس کړه دا ورکړه تورپېکۍ د پټکي یو څاک پوري ګنډه وه، خلاصه یې کړه یوه نیمه روپۍ پکښې ګنډه وه، هغه دې دربان ته ورکړه، دربان یو سړي ته چې دننه ؤ ور بږغ کړو چې راشه دا سړی د قربان زیارت ته راغلی دی خلیفه صاحب ته یې ورولـه هغه سړي چې خادم نویدو راغلو تورپېکۍ او خالو یې دننه بوتلو دري کوټې چې یوې بلې ته سورۍ وې دوی په دې کوټو کښې روان شو او اخري کوټې ته ورغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته په کوټه کښې ښې ښائسته غالۍ ویړې وې او ښۀ ګرمه وه او یو خواته ښۀ ښائسته او په صورت ګړدی توري ږیري سپین کالي او زرغون پټکی یې په سر ؤ ناست ؤ.

خادم لاس په نامه ونیول او سلام یې ور واچاوه مګر د دې سړي د سلام په جواب دوی پوه نۀ شو خو خادم ورته وویل چې صاحب دا سړی راغلی دی څه تقاضې لري او پشا روان شو ووت او لاس یې هغه نمونه په نامه نیولی ؤ.

د اخونزاده نۀ ؤ بلکې د هغه خلیفه ؤ.تل تل چې مریضان وغیره راشي او د خلیفه صاحب زیارت کړي ورته.

خلیفه صاحب له دوارو سره د سر په اشاره روغبړ (ستړي مشي) وکړ خالو دا کوشش وکړي چې په لاس روغبړ ورسره وکړي مګر خلیفه په لاس اشاره ورته وکړه چې بس کښېنه. تورپېکۍ په دې حیرانه وه چې دا کوټه ولې داسې ګرمه ده او هیچېري هم اور نشته، اخري په یو کونج کښې یوه بله سکروټه (هیټر) ولیده چې تار په سکوټه پوري ؤ، بس دا یې یقین شو چې دا کوټه له دې سکروټې ګرمه ده، مګر نۀ پوهېده چې دا بیا څنګه سکروټه ده.

لږ ساعت پس خلیفه صاحب پوښتنه څنې وکړه چې خیر دی څه لپاره راغلي یاست الله پاک مو هر مطلب تر سره کړه.

خالو کوشش وکړو چې حال ورکړي مګر خلیفه صاحب یې په وینا نۀ پوهېدو اخر تورپېکۍ ټول حال ورکړی بیا یې ورته وویل چې بس اوس راغلي یو او بله هیله مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشـــته او زړۀ مـــو غـــواړي چـــي اخـــونزاده دم او تعـــويز راكـــړي ګوره كه سبب شو.

بيـا يـې يـو سـاعت سـر ټيـټ كـړو څـه يـې نـۀ وويـل بيـا يـې سـر راپورتـه كـړو او وې ويـل چـي اوس څـه غـواړئ يعنـي تعـويز او كـه د قربـان لاښـي. د تعـويز شـكرانه پنځـوس روپـۍ ده او د لا ښـو پنځويشــت كــه دواړه غــواړئ بيــا اويــا روپــۍ شــكرانه ده. تــورپېكۍ تــه د تعــويز او دم قيمــت (شــكرانه) معلومــه شــوه طبيعت يې بل شان شو.

بيـا يـې خليفـه تـه وويـل چـي تـۀ څـه وايـې كـم ډېـر زورور دى. خليفـه صـاحب ورتـه وويـل چـي دواړه خـو تـر ټولـو ښـۀ دي كـه چېـري دم كـار نـۀ وكـړي بيـا اميـد دى چـي تعـويز بـه كـار وكـړي. پـه تـورپېكۍ د خليفـه دې خبـري اثـر وكـړ سـل روپـۍ يـې وركـړې خليفـه چـي روپـۍ ور ونيـولې ډېـر خوشـحاله شـو او پـه پټـه خُلـه شـونډانو كښـي وخنـدل او يـو كتـاب يـې چـي تـر مـخ ورتـه پـروت ؤ سـره خـلاص كـړو او يـو تعـويز يـې ځنـي راواخسـت او وې نغښـته بيـا يـې دوئ تـه ونيولـو او ورتـه وې ويـل چـي دا پـه ښـي لاس كښـي ونيسـه او پـه درو سـپينو جـامو (كپـړو) كښـي وګنـډه او مـريض تـه يـې ورپـه غـاړه كـړه تـورپېكۍ ډېـر پـه ادب سره ونيولو او په ستركو پوري ونيول او كوښل يې كړ.

خليفـه بيـا پـرده پورتـه كـړه او اخـونزاده صـاحب تـه يـې وويـل چـي قربـان خـدائ دې عمـر نـور هـم زياتـه كـړه كـه تكليـف نۀ وي يو بنده دې ملاقات ته راغلى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخوندزاده سره دا وخت څو کسان ناست وو او هغو ته يې وويل چې زۀ به يو وار دې سړي ته ور ښکاره شم او پورته شو او دوی ته راغلو او له دوئ يې پوښتنه وکړه تورپېکې حال ورکړی او خبره يې لاجاري وه چې اخونزاده صاحب ورته وويل چې بس بس ډېري خبري د قرآن ښې دي په مطلب د پوه يم تعويز خو خليفه صاحب درکړی دی دا وريه غاړه کړه. زۀ به هم دم په وکړم. اخونزاده شونډان ښورول شروع کړو بيا يې پرې چوف کړو او په خُلۀ کښې يې ور تو کړو او ځني لاړو.

خليفه پاتي پيسې داسي ورته ونيولې چې په دې کښې نوري هم راکړې مګر تورپېکې پرې پوه نۀ شوه او نوټو ته يې لاس کړو بيا خليفه ورته وويل چې بس ورځئ. تورپېکې خالو تر لاس ونيوو راووت. دا شپه خالو تر نورو شپو په تکليف ؤ او ورځ په ورځ مرض زياتېدو. دم او تعويز څه اثر نۀ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

هم په دې ورځو کښي د کالج يو طالب علم چي مهربان نومېده د دې کلي اوسېدونکی ؤ او د ژمي چهټۍ تېرولو لپاره کورته راغی او د خالو په بيماري خبر شو پوښتني ته راغلو هغه چي د خالو حالت وليد طبيعت يې ډېر خراب شو. تپوس ورڅخه وکړ چي تر اوسه دي څه دوائي هم کړې ده که نه. خالو په زګيروي کښي څه ورته وويل مګر مهربان په پوه نه شو. مهربان له تورپېکۍ څخه پوښتنه وکړه چي څه مو ورکړي دي. تورپېکۍ ورته وويل چي ګرانه! هر څه مو ورکړي دي په کښي څه دي بوټي او که خاوري هغه مو ورکړي دي. د اخوندزاده صاحب تعويز او لاښي يې هم ورکړې او يا روپۍ شکرانه مو ورکړه، مګر چي لوی خدای نه کړي ګرانه څه وکړو. پخوانو ويلي دي چي نه کړي لوی حبيب څه به وکړي خوار طبيب.......

د مهربان په دې خبرو سخت طبعيت خراب شو مګر د کلي ماحول داسي ؤ چي ږغ يې نه شو کړای. پخوا هم چا په دې پسې داسي خبري کړي وې چي ګوا که هغه وليان او پيران نه مني او چا داسي پروپېګنډه هم کړې وه چي هغه له دينه هم منکره دی. د پلار او نيکه مذهب يې پرېښي دی او نوې لاره يې اختياره کړې ده. ملايان ملکان او ځني خلک مهربان ته په بدو سترګو ګوري. مهربان به تل داسي خبري کړې چي هغه د ملايانو او ملکانو د معمول خلاف وې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورپېکۍ ته يې وويل که چېري ډاکټر ته يې يوسې نو به هغه صرف څو ګولۍ درکړي هغه به ډېر زر ښه شي. نن سبا ډاکټران هم د ملايانو او پيرانو غوندي رشوت (شکرانې) اخلي خو تر ملايانو دوني ښۀ دي چي خلکو ته صحيح نسخه ورکوي. له مهربانه ماسوا يې نور هم ځينو کسانو دا مشوره ورکړې وه.

دوی سره اوس يوه پيسه نۀ وه چي ډاکټر ته يې يوسي خو تورپېکۍ مهربان ته وويل چي ګرانه! اوس موږ هم دا خيال لرو که خدای پاک مو کله سبب برابر کړو نو به ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

یوه ورځ خالو خپلي ښځي ته وویل چي د ملک کره ورشه (ملک نوم ګوهر خان ؤ او ښه هستمند ؤ) که یې څه قرض درکړو او هدایت یې ورکړ چي خپله نیستي ښه ورته بیان کړه. که یې زړۀ درته نرم شو که یې څه درکړو بلـه خو یوه چاره نشته. خدای مهربانه دی وس به راکړي او قرض به یې ادا کړو. تورپېکۍ هم د ملک اکا کره ورغله او د ملک د کور له ښځو سره یې روغبړ وکړ د ملک د کور ښځو د تورپېکۍ له خیرنو جامو څخه ښۀ کرکه کړه او خپل کالي یې ځني کتل یو ساعت وروسته ښځو له تورپېکۍ پوښتنه وکړه چي څرنګه راغلي یې خیر خو دی.

لږ کار له ملک اکا سره لرم . تورپېکۍ ورته وویل.

د ملک ښځي خپل نوکر تور ته غږ کړو چي راشه دا ښځه ملک له ورولـه. بیا یې سوکه ورته وویل چي د غالیو څخه یې ګوره کالي یې ډېر خیرن او سپوژن (سپږن) دي.

تور هم تورپېکۍ ته وویل چي راځۀ. تور شه په مخه ؤ تورپېکۍ ورپسي وه، تور له مخه د مېلمنو په کوټه ننوت او زر یې غالۍ سره ټولي کړې.

ملک اکا دا وخت له مېلمنو سره د مېلمنو په کوټه کښي ناست ؤ تورپېکۍ هم ورننوته.

تورپېکۍ اول له ملک بیا یې له دا نورو سړو سره په خُله روغبړ وکړ، اخر ملک ورته وویل چي څه لپاره راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې. څه وايې، وايه. تورپېکۍ اول وژړل بيا يې ورته وويل چي خداى دي كور نور هم لوى كړه او خپل حال او غرض يې ورته بيان كړو.

ملک خو اول انكار ورته وكړى تورپېكۍ چي ډېر خواستونه ورته وكړو بيا ملک ورته وويل چي ما سره خو دوني (دومره) پيسې نشته چي ستا كار پرې وچلېږي. ما سره دا وخت صرف خپل چلاؤ لپاره شپږ نيمه سله روپۍ دي دا شپږ نيم سله روپۍ به قرض دركړم، مګر ګټه به وربانديراكوې. تاسو ډېر غريبان ياست، ګټه به كمه درڅخه وغواړم او معياد به هم اوږد دركړم. يعني شپږ مياشتي. شپږمه مياشت به اتۀ سله روپۍ راكوئ، كه چېري مو شپږمه مياشت نۀ كړې را، نو به بيا هره مياشت شل شل روپۍ ګټه درنه اخلم.

تورپېكۍ دا شرطونه په خوښه ومنل او له ملک يې روپۍ واخستې. ملک لس روپۍ زياته وركړې چي دا په زكوة قبولي كړي.

تورپېكۍ چي روپۍ لاس ته كړې، ډېري دعاوي يې ورته وكړې او ډېره خوشحاله شوه او له ملک څخه يې په خوشحالۍ رخصت واخست. د كور په لور روانه شوه، په لاري له ډېري خوشالۍ قدمونه وربانديلږ دي، چټكه چټكه كور ته ورله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خالو سترګي چي په تورپېکۍ ونښتې حيران شو چي ولي داسي خوشحاله ده، د خالو تر پوښتني له مخه تورپېکۍ حال ورکړی.

خالو تر اوسه په روپو د ګټه اخستلو په باره کښي څه نهٔ ؤ اورېدلي او په دې خبر ؤ چي ملک سود خور دی. خلګو ته په سود پيسې ورکوي. دا وېره (يره) ورپيدا شوه چي دا به سود وي چي ډېر ناروا دی. له دې وېري يې پيسو ته زړهٔ نهٔ غوښت او تورپېکۍ ته يې وويل چي دا به يې په سود درکړي وي. دواړه جهانونه به مو خراب شي. تهٔ لاړه شه له ملا صاحب څخه پوښتنه وکړه چي د سود په پيسو علاج څنګه دی او دا سود دی که نهٔ.

تورپېکۍ ورته وويل چي نا په سود نهٔ دي. هغه هم ځان ته مسلمان وايي دا دي څنګه زړهٔ ته لوېږي چي هغه به داسي حرام کار کړي، دا خبرو کښي شک مهٔ اچوه.

د تورپېکۍ په خبرو د خالو تسلي نهٔ وشوه او تورپېکۍ يې مجبوره کړه او ملا صاحب ته ورغله او پوښتنه يې ځني وکړه چي د سود په پيسو علاج څنګه دی او دا سود دی که نهٔ. ملا چي د تورپېکۍ خبري واورېدې په زوره يې کليمه وويله بيا يې ورته وويل چي د سود په پيسو علاج هيڅکله نهٔ دی روا، سود ډېر سخت ناروا دی. په کتاب کښي سود ورکونکي او اخستونکي لپاره سخت عذاب بيان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا صاحب ته د خپلو خبرو په دوران کښي خيال ور پيدا شو چي کلي کښي بغير د ملک بل څوک خو دا کاروبار نهٔ کوي او که ملک په دې خبر شو لا دې ښځي روپۍ په دې واپس ور ورې چي ملا صاحب وويل چي سود حرام او ګناه ده نو په والله..........

بيا يې تورپېکۍ ته وويل چي ګوره په سود به نهٔ وي او تهٔ دا راته ووايه چي له چا او څنګه دې ځني واخستې. په جواب کښي تورپېکۍ ورته وويل چي ملا صاحب له ملک صاحب مو اخستي دي، مګر په سود مه نهٔ دي غوښتي او نهٔ دهٔ راته ويلي دي چي په سود دي. ما قرض وغوښتی او دهٔ راته وويل چي په ګټه ده.

ملا د تورپېکۍ له خبرو پس وويل چي دا به دې ويل دا خو سود نهٔ دی، تهٔ لږ انتظار وکړه زهٔ کتاب وګورم او يو غټ کتاب يې راواخست او وير (خور) يې کړو. سر يې پرې ټيټ کړو ګوتي يې يو بل ځای پرې ښورولې (تاوهي) او يوه بله ورقه (پاڼه) يوه بله خواته اړوي اخر په يوه مخ ښهٔ تر ډېره سر ټيټ کړی وروسته يې تورپېکۍ ته وويل چي غوږ ونيسه او يو عربي عبارت يې ولوست بيا تورپېکۍ څخه سوال وکړي چي پوه شوې که نهٔ.

نهٔ صاحب، دا خو د خدای د کتاب توري دي. په دې خو مرغان هم نهٔ پوهېږي. موږ ګناګاره په دې څه پوهېږو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خو ستا غوندي لائقان پوهېدای شي. تورپېکۍ ورته وويل.

هو چا چي علم نۀ وي کړی هغه په دې نۀ پوهېږي. ملا ورته وويل. ښه په دې کښي يې ليکلي دي چي ډېر خلګ په ګټه او په سود کښي فرق نۀ شي کړای، مګر سود او ګټه يو له بله بېل دي، سود ناروا دی او سود دې ته وايي چي سود پکښي ياد شي او يا يې د اخستونکي لاد ورکونکي په نيت کښي سود وي.

تاسو نۀ سود پکښي ياد کړی او دا هم ښکاره خبره ده چي په ستاسو د يوه هم په نيت کښي سود نۀ ؤ، نو دا سود نۀ دی، دا تا هم په ګټه اخستی دی او هغه هم په ګټه درکړی دی نو دا په ګټه ده، ګټه روا ده، بلکې که څوک مجبوره وي او هغه ته داسي په ګټه څوک څه روپۍ ورکړي دا خو لويه نيکي ده نو بايد ورکونکي ته دعا وکړي.

تورپېکۍ چي د ملا صاحب فتوا واورېده ډېره خوشحاله شوه او ملا صاحب ته يې وويل چي تاسو دي خدای لري په مونږ خو داسي توره تياره ده پخوانۍ وېنا ده چي فلانکی د دوو خرو دانه نۀ شي جلا کولای. په مونږ هم داسي تياره ده چي په سود او ګټه نۀ پوهېږو، دا رنګي څو خبري تورپېکۍ وکړې او بيا ورڅخه روانه شوه کورته چي ورغله او مېړه ته يې حال ورکړ هغه ډېر خوشحاله شو بيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځي ته وويل چي يو دا همت لا وکړه چي سبا لپاره څوک پيدا کړه چي ډاکتر ته مو ورسوي.

تورپېکۍ خيال وکړو چي چا له ورشم اخر يې ځان سره وويل چي د چا کره هم نۀ ځم د خپل تربره او لوره (لېور) چه کالو نومېږي کره به ځم که څه هم دوی دواړه له ډېره وخت د پلار په ميراث او د خور په ولور سره مرور دي نن ورځ داسي ده چي به ورځم او که ور نۀ شمه نو به تربور او لېور راته وايي چي دا خو دي نۀ راته ويل او که بل څوک راسره لاړ شي هم دا کليوال به په کالو خاندي زما د کالو او مېړه مو څه فرق دی. دا خندا په کالو نۀ ده بلکې په موږ ده، ولي چي ټول يو کهول او عزيزان يو، دوی دواړه سره ورونه دي، نۀ بل چا له ځم او کالو که نۀ تلو هم په دې پلا (ځل) به يې مجبوره کوم.

له ډېري اوږدې مودې بعد نن تورپېکۍ د خالو کور ته ورغله ټول کور والو په مينه روغبړ ورسره وکړی او ښۀ عزت يې ورکړی. چای ډوډۍ يې ورکړه ښۀ ساعت په نورو ګپو او خبرو سره لګيا وو، وروسته کالو پوښتنه ځني وکړه چي خير ۀ څنګه راغلې؟ تورپېکۍ هم غرض ورته بيان کړو کالو وويل: چي ښۀ وشو چي تۀ راغلې، زما هم زړۀ غوښت چي درغلی وای، مګر پښې راته درنې وې، خوا مه ډېره بده وه، مګر چي بدبختي ...... (د کالو رغ ژړا غوندي شو) او تورپېکۍ سره يې قول وکړ چي بس زۀ به درشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا سهار کالو په کلي کښي اس له چا وغوښت او خالو کورته ورغلو، لمر چي ښۀ تود شو خالو يې په اس سپور کړو او کالو د اس زين ونيولو په پښو ورسره روان شو ډېر ارام ارام روان ؤ کله چي هسپتال ته ورسېدو خالو يې له اسه سوړ (کوز) کړو. اس يې په هسپتال کښي په تمبه (ستنه) پوري وتړو.

د ډاکتر د کمرې له مخه د مريضانو ډېر رش وو، څوک ټوخي او څوک زګېروی لري او سرونه مړۀ په ځړېږي. چا مخ پټ کړی پروت دی او هر سړی دا کوشش کوي چي زۀ له مخه ورشم، مګر دروازۀ کښي يو سړی ناست دی يو لښته يې په لاس کښي ده هر څوک نۀ ور پرېږدي دوه درې سړي پرېږدي چي هغه راووځي بيا دا نور سړي ور پرېږدي نور مريضان هم وار په وار راتلو او له مريضانو سره به کښېنستو، مګر د صفا کالو (جامو) د لوی شملې يا ښۀ صورت مند ملايان چي بيت به يې په لاس کښي ؤ چي راتلو سيخ به ورننوتو دا سړی چي په وره کښي ناست ؤ ورته ولاړ به شو او لاس به يې ورته پورته کړو او سلام به يې ورته وکړ چي راوځي ځيني ددې سړي په لاس کښي څه ورکړي، تر غرمې داسي عمل جاري ؤ، کالو څو ځله دې سړي ته فرياد وکړو چي زما مريض ډېر په عذاب دی کور مو هم لېري په کلي کښي دی، تۀ مهرباني وکړه موږ ورپرېږده. مګر دا سړی هر واري کالو ته وايي چي دا ستا غوندي دا ټول خلک ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي تـۀ هـم کښېـښنه چـي تازيلـه (تـادي) دي ده بيـا ځلـه راتلـې، اول بـه دي خپـل کـار کـوو چـي لـه کـاره فارغـه شـوی وای بيـا بـه دي مــريض راوســتو. مريضــان د ور پرېښــولو پــه انتظــار کښــي ؤ چي ډاکټر له خپلي کمرې راووت او موټر ته ودرېد.

دا دروازه کښــي ناســت ســړي مريضــانو تــه وايــي چــي ډاکټـر صـاحب لاړو بيـا نـۀ راځـي چهټـی شـو، هسـپتال بنـد شـو، کـه څـوک ډېـر پـه عـذاب دی يـا يـې تازيلـه (تـادي) وي هغـه دي مازيګر د ډاکټر صاحب کورته ورشي کنې سبا سهار راشئ.

کــالو چــي دا واورېــد زر ډاکټــر تــه ورغلــو او ورتــه وې ويـل چـي صـاحب زمـا مـريض ډېـر پـه تکليـف دی او کـور مـو هـم لېــري پــه کلــي کښــي دی، تــۀ مهربــاني وکــړه اوس يــې وګــوره ډېري دعا به درته وکړو کور دي ودان شه.

ډاکټــر کــالو تــه څــه جــواب ورنــۀ کــړو او مــوټر کښــي کښېنســتو، کــالو دا خيــال وکــړو چــي زمــا خبــره يــې نــۀ واورېــده زر لــه بلــه څنګــه ورســره راجــار ووت او بيــا يــې هغــه وېنــا ورتــه وکــړه. دې وار ډاکټــر صــرف دومــره قــدر تکليــف وکــړو چــي پــه ســترګو يــې کــالو تــه اشــاره وکــړه چــي لېــري شــه او مــوټر يــې روان کـړو. کـالو يـو سـاعت پـه دې ځـای حيـران ولاړ ؤ او ځـان سـره يـې وويـل چـي افسـوس مـوږ سره څـه نشـته غريبـان يـو کنـې والله کـه ډاکټــر ســترګي داســي بــدي را اړولــي وې، کــه چېــري مــو هغســي شــمله وه يــا مــه جــامې صــفا وې خــو بــه ډاکټــر پــه پښــو کورتــه پــه منډه راسره تلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـالو لاپـه دې ځـای ؤ يـو ځـوان ورتـه ودرېـد او ورتـه يـې وويل چي اکا څله داسي پريشانه يې؟

کـالو حـال ورکـړو دې ځـوان ورتـه وويـل چـي اکـا د ټـول افسـران داسـي دي، تـه ګـوره ډاکټـر بـه مريضـان پـه هسـپتال کښـي کتـل مګـر صـرف د روپـو اخسـتلو لپـاره پـه کـور کښـي يـې ګوري او هسـپتال کښـي ټولـه ورځ پـه ګپـه تېـره کـړي او مـوږ خـو ټـول عمـر ددې ناانصـافي خـلاف نـارې وهـو، زمـوږ نـارې صـحيح دي مـوږ پـه حـق يـو، حکومـت زمـوږ پـه ضـد دی او صـرف د دې وجـې چـي دا خلـک غـوږ نـۀ ونيسـي، پـه خلګـو کښـي بـد نامـه کولـو لپـاره د کرايـه دارو ملايـانو او ملکـانو پـه ذريعـه د کفـر پرګنـډې (پروپېګنـډې) راپسـې کـړي، کـالو ورتـه وويـل چـي هـو ځوانـه سـتا خبـري صـحيح دي، زمـوږ پـه کلـي کښـي دوه ځوانـان چـي مهربـان او روښـان نـومېږي هغـه تـل داسـي خبـري مـوږ تـه کـړي، مګـر زمـوږ د ملـک کـورنۍ او مـلا صـاحب لـه دوی ډېـر بـد وړي. مـلا صـاحب تـل وايـي چـي د دوی خبـري تـه غـوږ مـۀ نيسـئ، لـه روسـه ( Russia ) پيسـې ورتـه راځـي، مګـر مـوږ چـي د دوی خـوی عمـل تـه وګـورو د مـلا خبـري ټـولي غلطـي دي، کـوم څـه چـي مـلا پـه دوی پسـې وايـي هغـه مـوږ تـر اوسـه نـۀ دي پکښـي ليـدلي او اکثـر کليـوال اوس د دوئ خبرو ته غوږ نيسي او هره خبره يې مني.

دې ځـوان او کـالو ښـۀ تـر ډېـره داسـي خبـري وکـړې اخـر دې ځـوان کـالو تـه وويـل چـي اوس دي زۀ څـه خـذمت وکـړم کـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـريض ډېـر پـه عـذاب دی نـو بـه زهٔ.... دې ځـوان لا دا خبـره نـهٔ وه ختمـه کـړې چـې کـالو ورتـه وويـل ګرانـه مـريض مـه ډېـر پـه عذاب دی که تهٔ چا ته څه ويلی شې نو ډېره نيکي به دي وي.

اول دې ځـوان د خـالو حـال وکتـو بيـا يـې د هسـتپال يـو کمپـوډر چـې هغـه ددې ځـوان شـناخته او ملګـری ؤ تـه ور وسـتو هغـه چـې يـې نـبض وکتلـی او يـو د نشـې اينجکشـن يـې ور ولګـوئ او ورتـه وې ويـل چـې د مـريض عـلاج خامخـا وکـړئ د مـرض تـازه شـپې دي، عـلاج بـه يـې زر وشـي او کـه عـلاج اوس نـهٔ وکـړئ نـو بـه ډېـر درتـه پـه عـذاب شـي. ډاکتـر تـه ضـرور ورشـه کـالو دې ځـوان او کمپـوډر تـه دعـا وکـړه او رخصـت يـې ځنـې واخسـت. کـالو ځـان سـره سـوچ وکـړ چـې تـر شـپه کړلـو دا ښـهٔ ده چـې د ډاکتـر کورتـه ورشـم کـه يـې چېـري مـريض تـه څـه دوائـي راکـړه او خـالو يـې بيـا پـه اس سـپور کـړو او د ډاکتـر د کـور پـه لـور روان شـو. د ډاکتـر د کـور لار د بـازار پـه ميـان (مـنځ) کښـې تېرېـده. کـالو هـم پـه دې لار روان ؤ لـه هسـپتاله لـږ پـه مـخ لاړو پـه چـورنګۍ ولاړ پـوليس وال ور تـاخ کـړو او پـه دهکـه دهکـه يـې لـه روډه کـالو او اس وايسـتو او کـالو تـه پـه غصـه کښـې وايـي چـې نـهٔ پـوهېږې چـې اوس دفتـران چهټـۍ کېـږي او پـه دې روډ صـاحبان تېرېـږي. کـالو مجبـوراً پـه يـوه اوږده لار کورتـه ور ورسـېد، د څـو ګهنټـو انتظـاره پـس د ډاکتـر د يـوې کـوټې ور خـلاس شـو او يـو سـړی پـه وره (دروازه) کښـې ودرېـد او ږغ يـې کـړو چـې مريضـان دي راشـي خپـل خپـل لمبـر دي واخلـي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د بیمارانو شمېر تر پنځلس رسېدلی ؤ، کالو تر ټولو لومړی راغلی ؤ، مګر په اتم لمبر ودرېد او څه وخت چي کالو ته دا معلومه شوه چي ډاکټر له مریضانو شل روپۍ فیس اخلي زر له قطاره ووت او خالو ته یې وویل چي ډاکټر خو په مریض شل روپۍ اخلي او ما سره خو هیڅ نشته خالو هم شل روپۍ ورکړې او کالو بېرته په خپل لمبر ودرېدو، څه وخت چي د کالو لمبر رالو او کالو هم خالو تر لاس ونیوو او د ډاکټر کمري ته ورننوت او په کرسۍ کښي کښېنستو او کالو پخپله ورته ولاړ ؤ ډاکتر ته یې د مریض حال ورکړ.

ډاکټر ښهٔ په تسلي د کالو په سینه دربین کښېنو ډاکتر د دهٔ معاینه کوله چي خالو وټوخل په ټوخلو ډاکټر هغه ته غصه وکړه او زر یې په سونډه (پوزه) او خُله دسمال ونیوو او ورته وویل چي بل وار خیال کړه دا مي خپل کور دی (د خپل فیس لپاره څهٔ نه درته وایم) کنې په زوره زوره به مي ایستلې او زر یې په پرچه نسخه ور ولیکله او کالو ته یې وویل چي خیر اوس هم بچت (بچ) دی، کنې ټي بي کېدو خطره یې وه، دا دوائي له بازاره واخله او دا یو بوتل شربت ما سره پروت دی په بازار کښي یې لس روپۍ قیمت دی خو تهٔ اوه روپۍ راکړه بس یوه هفته چي مریض ته دا دوائي ورکړې ښهٔ به شي. شل روپۍ خپل فیس او اووه روپۍ د بوتل راکړه، بس ورځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالو لس روپۍ کالو ته نوري ورکړې کالو لس روپۍ ډاکټر ته ورکړې ډاکټر درې روپۍ واپس ورکړې او خالو یې تر لاس ونیولو او ووت.

خالو یې یوه دېوال ته کښېنوو، کالو څه روپۍ نوري ځني واخستې په منډه یې له بازاره دوائي راوړه او خالو یې په اس سپور کړو کورته روان شو.

ماښام دوی ښه ناوخته ورسېدو، تور پېکۍ د کالو د ډوډۍ بندوبست وکړی اول یې چاې ورته پخې کړې وروسته یې ډوډۍ ورکړه، څه وخت چې یې ډوډۍ وخوړله تور پېکۍ ته یې د ګولۍ او شربتو د استعمال طریقه وښووله او کورته روان شو. تورپېکۍ ډېر ورته وویل چې نیمه شپه ده کهول به تول ویده وي او دلې ویده شه، مګر کالو خبره نۀ منله او کورته لاړ. خالو دا وخت له سفره ډېر په تکلیف ؤ دردونه یې زیاته کېدو، هډونه یې خوږېدل تورپېکۍ هم د هدایت مطابق ګولۍ او شربت (دوائي) ورکړه لږ ساعت کښې خالو په ارام شو او ټوله شپه یې په ارام تېره کړه. درې ورځې چې خالو دوائي استعمال کړه پخپله د ناستي او ولاړي قابل شو چې دوائي یې ختمه کړه یو مخ له مرضه جوړ شو مګر ناجوړۍ ډېر کمزوری کړی ؤ او د کار کولو توفیق یې نۀ درلود او کله چې کارته لاس وروړي نو هغه ورځ به په تکلیف شو ځکه څه موده کارته لاس نۀ ور وړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مهربـــان چهتيـــاني ختمـــي شـــوې. يـــوه ورځ د کلـــي اکثـرو کـورو تـه د رخصـت لپـاره ورغلـی، د خـالو خـوا تـه هـم راغلـی، د خـالو روغ صـحت چـي يـې وليـد ډيـر خوشـحاله شـو او ورته يې وويل چي

کاکـا اوس بـه پوهېـدلی يـې چـي انسـان نـاجوړه شـي زر دي پـه ډاکتـر عـلاج کـړي، ملايـان او پيرانـو لـه دي نـه ځـي. هغـوی پـه قـرآن پـاک اوداسـه او لمانځـه پوهېـدای شـي نـه پـه مرضـو. نـه ګـورې چـي دوی پخپلـه نـاجوړه شـي زر زر ډاکتـر تـه منـډي وهـي، مګـر خلګـو تـه وايـي چـي ډاکتـر تـه مـه ځـئ. مـوږ لـه راځـئ. مقصـد يـې صـرف شـکوّنه وي او هـم پـه دې خبـرو دوی پـه مـا او زمـا پـه ملګـرو پسـې ناحقـه خبـري کـړي. اوس زه رخصـت تـه راغلـی يـم، مګـر يـوه خبـره د خيـر درتـه کـړم. هغـه دا چـي خپـل ژونـد تـه خيـال وکـړه څـه رنګـه دي پـه بربـادۍ او مسـکينۍ کښـي تېـر کـړو، مګـر د زوی ژونـد مـه خرابـوه، هغـه سـکول کښي داخل کړه چي د سبا ژوند يې په سهولت وي.

لــه دې خبــرو بعــد مهربــان رخصــت واخســت او ولاړ شــو. څه وخت چي مهربـان څپلـۍ پـه پښـو کـولې بيـا يـې خـالو تـه وويـل کـه مـو چېـري څـه وخـت وي لامـو څـه کـار پـه بـازار کښـي وي ماتـه ووايـه. انشـاالله زه بـه ستاسـو کـار وکـړم. خـالو ورتـه وويـل چـي نـه اوس خو داسـي کـار نشـته او کـه کلـه اړ شـو نـو بـل څـوک خـو نشـته ضـرور بـه تـا لـه درځـو او سـتا نيکـه مشـوره کلـه بـه هـم زمـوږ نـه هېرېـږي. خوشـــحاله اوســـې او پـــه خپـــل مقصـــد کښـــي بـــه تـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاميـاب يـې. دعـا درتــه کـړو. مهربـان روان شــو خـالو ډېـر ورتــه حيـران ؤ چـي داسـي ښـۀ ځـوان دی، داسـي ښــې خبـري کـړي، خلکـو تــه ښــې مشــورې ورکــوي او چــي وس يــې وي هــر چــا ســره نيکــي کـړي. لـه بـدو ډېـر بـد وړي، دا عقـل يـې تـول د تعلـيم لـه وجـي دی ملايـان او ملکـان چـي بـد ورتـه وايـي هغـه وجـه هـم دا ده چـي دی ددوی بدو کارو ته بد وايي او هغه يې ښۀ نۀ يسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵)

شپږ میاشتي تېري شوې یوه ورځ د ملک نوکر تور د خالو کور ته ورغلی او خالو ته یې وویل چي ملک صاحب رالېږلی یم چي زما د روپو معیاد پوره دی او څو ورځي زیاته تېري شوې او زما قرض دي درکړي.

د تور راتګ او خبري د خالو لپاره سخت د پریشاني سبب وګرځېدی او خالو ته معلومه وه چي په مقرر شوي معیاد که څوک د ملک قرض نهٔ ورکړي په هغه خیر زیاته حرام دی. ښهٔ ساعت په فکر کښي ؤ چي څه وکړم......... اخر یې تور ته وویل چي ګرانه! زهٔ خو اوس له مرضه پورته شوی یم او په کار بار مي شروع کړې ده. تهٔ ملک صاحب ته ووایه چي انشاالله څو ورځو کښي به د دهٔ حق ورکړم. دهٔ له موږ سره ډېره نیکي وکړه او موږ یې په ډېره سخته مجبوري کښي وچلولو، نو زهٔ به هم زر خپل حق ورکړم. تور چي ملک ته د خالو وینا وکړه هغه ډېر غصه شو څو کنځلي یې وکړې، بیا یې یو غټ سوټی راواخست او په تور باندي یې ږغ وکړ چي راځه او ډېر له قهره ډک د خالو کورته لاړ.

خالو چي ملک ولید پوه شو او وېري واخست، زر یې ایت الکرسي وویله او په ځان یې چوف کړه او تورپېکۍ ته یې وویل زر کالی راواخله او یوه ښهٔ صفا کالی که وي ویړ یې کړه ملک صاحب راغو. تور پېکۍ زر کالی خواره کړو او خالو په ملک ږغ وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دي راولـه دې خوا تـه راځـه دلتـه پـه مـخ کښـي لرګي او مرداري ده.

ملـک ډېـر غصـه ؤ سـترګي يـې غټـې راختلـي وې چـي خالو تـه ور نـږدې شـو د هـر څـه لـه مخـه يې تـر خُلـه ووت چـي پـور اخلـې ډېـر خوشـحاله کېـږې چـي ادا کـوې يـې بيـا زور درکـوي، بس نوري خبري پرېږده ماته خپل حق راکوه.

خـالو د ملـک پـه لاس کښـي لرګـی وليـد او غصـه يـې واورېـده سـخت ووېرېـدی او کپنـا واخسـت او ملـک تـه وايـي چـي خير دی تهٔ کښېنه تا به نهٔ خفه کوو.

ملـک چـي دا الفـاظ واورېـدو نـور غصـه شـو چـي ښـهٔ نـهٔ مـو خفـه کـوې، زهٔ څـه وخـت راغلـی يـم خپـل حق غـواړم چـي پـه زوره يـې درڅخـه واخلـم بـس د ځـان خيـر دي پـه دې کښـي دی، نـوري خبري مهٔ کړه.

هـم دا وخـت د کلـي مـلا صـاحب يـو خواتـه تېرېـدو هغـه چـي د ملـک د خـالو پـه غـولي کښـي وليـد حيـران شـو چـي ملـک ګـوره او د خـالو کـور بيـا يـې خيـال وکـړ چـي خـالو ډېـر مسـکين دی چېـري ملـک زکـوة يـا خيـرات خـو نـهٔ ورکـوي او د خـالو کورتـه مـلا صاحب هم راغلو.

ملـک چـي مـلا صـاحب وليـد او ورتـه يـې وويـل چـي مـلا صـاحب دې نمـک حـرام تـه مـي پـور ورکـړی ؤ اوس خپـل حـق غـواړم مګـر دی ځـان راتـه منجـوي، تـهٔ ووايـه څـهٔ ورسـره وکـړم. پـه خپل حق وصولولو خو مرګ هم راته روا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا زر ورته وویل چي ښځه کتاب کښي دا راغلي دي که څوک چاته په حق انکار وکړي حقدار ته يې مرګ روا دی مګر تۀ وار وکړه، خالو څه وايي:

ملا صاحب ډېر په غصه خالو ته نصیحت وکړی چي ولي ظالمه! دا خو زما په یاد دي چه تورپېکي راغله او ما څخه يې پوښتنه وکړه ډېره خوشحاله وه او که چېري صاحب روپۍ مۀ وایه درکړي اوس به مړ وي، د کفن پیسي به نۀ وي درسره، دۀ ډېر ښۀ درسره وکړو نو نن ولي داسي کړې، حق يې ورکړه.

خالو په کپنا کپنا کښي ورته وویل چي زۀ هم مسلمان یم د چا حق مه نۀ دی خوړلی او نۀ دي خدای تعالی توفیق راکوي او نۀ د داسي زورورو حق څوک خوړلی شي، مګر زۀ تر اوسه بیمار وم، تاسو لیدم اوس راپورته شوی یم او په کار مو لاس پوري کړی دی. بېګاه مي هم تور پېکۍ ته دا نقل کړو چي ملک د روپو معیاد پوره دی بلکې څو ورځي زیاته تېري شوي دي، دۀ په ډېره مجبوري کښي موږ سره مدد وکړ او موږ تر اوسه روپۍ نۀ دي برابري کړي، دا وخت یوه پیسه په کور کښي نۀ لرو.

د ملک دا یقین ؤ چي په کور کښي یو پیسه نشته مګر وې ویل چي دروغ مۀ وایه ماته معلوم دی چي ستا په کور کښي څه شته او څه نشته. بیا يې په زوره تور ته ږغ کړو چي هلکه توره! د کور تلاشي يې واخله بیا يې ملا ته مخ کړو او ورته يې وویل چي وا ملا صاحب اوس يې له کوره روپۍ کاږم که نۀ ؤ د دې سړي دروغ در ښکاره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور یې د کور تلاشي واخسته کونج کونج یې وکتی مګر هیڅ یې نه کړو پیدا ، او ملک ته یې وویل چي صاحب ما خو د کور هر کونج (ګوټ) او سوروی (سوري) وکتلو هیڅ مه نهٔ کړو پیدا ، نهٔ پوهېږم چي چېري یې چیخلي (منډلي) دي.

ملک بیا تور ته په غصه کښي وایي چي ګوره زهٔ درته وایم چي شته او تهٔ وایې چي نشته. د دې مقصد خو دا دی چي زهٔ دروغ وایم او تهٔ رښتیا. ملک سوټی ورسره پورته کړو او د تور په خوا یې په زوره وځنډلو تور یوه خوا ته شو او سوټی د خالو په ورانه ولګېدو. د خالو تر خُله لویه چیغه ووته چي مړ دي کړم ظالمه. ملک چي د خالو چیغه واورېده چي ماته یې ظالم وویلو زر یې بل سوټی ورسره کړو او په ملا یې ووهو. بیا یې یوه مضبوطه پلته (لغته) ور وځنډله او هر څه چي په خُله ورته راځي هغه خالو ته وایي.

تورپېکۍ چي دا ولید زر یې قرآن ملک ته ونیو چي دې قرآن ته وګوره بس که بس که.

ملک د تور پېکۍ خواته سترګي ور واړولې او وې ویل چي دا ټوله مرداري ستا له لاسه ده. تا قرض واخست او اوس راته انکار کړې.

څه وخت چي ملک تورپېکۍ ته غصه کړه ملا صاحب ږغ وکړی چي هو صاحب دا ټولي کیسې خو د ښځو له لاسه خرابي دي، دا ښځه که مهٔ وایه نو به دا زړهٔ شینی نهٔ ؤ.

ښهٔ ساعت ملک په غصه غصه کښي ډېري بې پردې خبري وکړې، اخر کښي یې وویل چي اوس څم که مو په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوتــه (هفتــه) کښــي ماتــه پيســې کورتــه نـۀ راوړې نـو بـه لـه تاسـو دا پېغله لور درخانۍ په خپل کور کښېنوم او ملک ورڅخه ووت.

د ملــک دهمکــۍ او کــورنۍ نيســتۍ ټــول کــور پــه ځــان حيـران کـړو او پـه کـور ژړا فريـاد ګـډ شـو. ټـول کلـي دا ژړا واورېـده هـر سـړي کوشـش کـوی چـي پـه منـډه ورشـي چـي څـه وشـو. څـوک پکښـي مـړۀ شـول او کـه نـوره څـه بـلا پـه ګـډه شـوه. څـوک چـي راځـي پــه حــال خبــر شــي او يــو خواتــه کښــېني او خواخــوږي کــوي او د ملــک د رويــې غندنــه وکــړي. څــه وخــت چــي د عــامي خواخــوږي اظهــار خــتم شــو او روشــن خــان نــومي يــو ځــوان چــي د مهربــان ملګـری ؤ وې ويـل چـي ګـورئ دا بدسـلوکي نـن يـوازي د خـالو اکـا سـره نـۀ کېـږي. زمـوږ د کلـي والـو سـره تـل کېـږي. او دا زمـوږ د ټولـو سـره ګـډه ده. زمـوږ پـه کلـي ډېـره تيـاره ده، ملکـان ظلـم پـه کــړي، ملايــان فتــوې ورکــوي تــر څــو چــي د ملکــانو ملکــي مــو نــۀ وي ختمــه کــړې او ملايــان مــو پــه ســمه لار نــۀ وي روان کــړي دا بــه کېــږي. دا ستاســو خبــري بــې معنــې دي، تــر څــو چــي مــوږ ملــک ګـوهر تـه يـو مـوټي شـوي نـۀ يـو او د ملـک ملکـي او د خانـانو خـاني مــو نــۀ وي ورکــه کــړې دا ظلــم بــه کېــږي او د دوی ملکــي او خــاني مــوږ پــه اتفــاق زر ختمــولی شــو. دا مــوږ چــي ملايــان او ملکــان بــد او کـافران بـولي د هغـه صـرف دا وجـه ده چـي مـوږ ملکـانو تـه وايـو چـي ظلـم او نـاروا مـۀ کـوئ او ملايـانو تـه وايـو چـي ددې ملاتـړ مـۀ کــړی. دوی دواړه مفــت خــواره او حرامخــواره دي، ځکــه مــو بــد يســي. کــه چېــري زمــوږ نظــام راشــي بيــا بــه نــۀ ظلــم وي او نــۀ حرامخــوري او مفــت خــواره او ځکــه دوی تاســو راتــه لمســوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په خپل انجام پوه دي. روشن خان تولي خبري په زړهٔ پوري وې په هر چا ښې لګېدې مګر ملايانو په علاقه کښې په روشن خان او ددهٔ په ملګرو پسې ناجائزه توهمتونه لګولي وو او که څوک ددوی خبرو ته ښهٔ ووايي يا يې ملګری شي هغه هم د توهمت مالک شي، ځکه دلته د ملګرتيا يا د حق ويلو رېغ چانهٔ وکړ او څه وخت خلک سره ولاړ وو بيا لاړو، هر يوه به بل ته ويل چي خبرې يې صحيح او ښې وکړې افرين شه مګر موږ.........

سبا سهار خالو خپل ورور کالو ته ورغلو هغه ته يې د ملک تولو کيسه وکړه د هغه تجويز دا ؤ چي مځکه خرڅه کړه مګر خالو دا تجويز نهٔ منلو ځکه چي اوس په دې پټي پوري مي ذات قام کلی او هديره معلومه ده، که مځکه نهٔ وي نو دنيا به څه راته وايي. بل تجويز هغه دا ورکړو چي دوه خرهٔ لرې دا خرڅ کړه مګر دا تجويز يې هم خوښ نهٔ ؤ ځکه چي خرهٔ که خرڅ کړم د بل کار نهٔ يم اوس هم دا خرهٔ مي د روزۍ ذريعه ده، تر خرو خو مځکه ښهٔ ده چي خرڅه يې کړم، مګر هغه هم نهٔ خرڅوم.

اخر خالو پخپله دې ورور ته وويل چي مځکه په ګروه کړم چي کله مي وس پيدا کړو خلاسه به يې کړم، فی الحال به له دې بلا ځان په خلاس کړم. کالو ښهٔ ساعت په فکر کښې ؤ اخر يې تر خپلو تجويزو دا تجويز خوښ شو. خالو دا مشوره له تورپېکۍ سره هم وکړه هغې هم ور خوښه کړه خالو اوس سړی غواړي چي روپۍ ورځخه واخلي او مځکه ګروه کړي، مګر کلي کښې څوک داسي هستمند نهٔ ؤ اخر يوه شپه خالو څو کسان ځان سره ملګري کړو او ملک کورته ورغلو چي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکه په قرض کښني ګروه کړه یا یې په قیمت واخله مګر هغه ورته انکار وکړي او ډېر په غصه یې ورته وویل چي تر اوسه دي ولي دې ته فکر نهٔ ؤ اوس چي په دې پوه شوې چي ملک زوی ته وادهٔ غواړي او تهٔ ووېرېدې چي له ما لور نهٔ بوځي په دې ځان پوه که چي بل چاته یې ور نهٔ کړې، ستا لور به زما د زوی وي اوس لور په خوښه راکړه دا روپۍ هم درپاته نوري به هم در کړم زما مځکي ډېري دي هغه نهٔ شم ابادولی ستا مځکه به څهٔ کوم. البته اوس به دومره نیکي درسره وکړم چي یوه هفته به نور معیاد درکړم د لور په باره کښني یې ورته وویل چي لور دي زوی ته وادهٔ غواړم کښني ستا تر کور بل ښهٔ ځایٔ چېري دی او دا به هم ډېره عجبه او ستاسو د شان خلاف به وي چي تهٔ لور راکړې او زهٔ لور درکړم، خو زما خبره په غوږ کښني ونیسه. خالو ډېر خواستونه ورته وکړو مګر د ملک تر خُله چي یو وار (ځل) الفاظ ووت نو هغه داسي مثال لري لکه چي په پرښه په کاڼي ولیکل شي.

اخر خالو ناامیده ځني روان شو او په دې یې زړهٔ خوشحاله ؤ چي یوه هفته یې نور معیاد راکړ.

بله ورځ سهار وختي یو بل کلي ته لاړ دلته یو ښهٔ شتمن سړی دی چي د جمک په نامه مشهور دی. په خپل کلي کښني یې مځکي لږ دي لاکن په شاوخوا کلو کښني یې ډېري مځکي دي. له چا یې په قیمت اخستي دي او له چایې ګروه کړي دي. خالو چي ورغلو او دې سړي سره یې ولید او مجلس یې ورته وکړو دې سړي ته د خالو مځکه له پخوا معلومه وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه دې هــم خبــر ؤ چــي اوس يــې د بــادام او ســيب درختــي پــرې لګولي دي تر نيمي زياته برته رسېدلي دي.

جمـک دا خيـال ؤ چـي يـوه درختـه چي برابـر فصـل وکـړي ۱۵۰ روپـۍ د کـال جـوړوي خـالو ۱۵۰ درختـي لګـولي دي چـي د کـال ښـۀ پيسـه جـوړوي، مګـر هغـه خـالو تـه وويـل چـي سـتا لـه مځکـي ماتـه هـيڅ فائـده نـۀ راځـي چـي زۀ تاتـه پيسـې درکـړم نـو ستـا لـه پښتي دومـره پيسـه راځي چي څلور کالـه کښـي زمـا روپـۍ نۀ شي نغدولی.

خـالو ورتـه ويـل چـي پـه قسـم درتـه وايـم کـه دا قـرض مـۀ وايـه کـه مـه دا مځکـه ګـروه کـړی وای، ځکـه د يـو کـال بعـد بـه ددې مځکـي امـدن تـر پنځـه زره کـم نـۀ وي اوس هـم چـي نيمـه مځکـه غيـر ابـاده ده او درختـي برتـه نـۀ دي رسـېدلي زمـا برابـره ګـزاره پـه کېږي چېري چي درختي فصل ته ورسېږي.

لـه ډېـري وېنـا بعـد جمـک ورتـه وويـل چـي ماتـه بـه اجـازه وي چـي غيـر ابـاده مځکـه بـه ابـادوم، ولـي چـي سـتا اوبـه ډېـري دي او ابـاده مځکـه دي کمـه ده او کلـه چـي تـۀ مځکـه خلاسـوې نـو پـه غيـر ابـاده مځکـه چـي زمـا څـومره خـرڅ راغلـی وي هغـه بـه ورسـره راکـوې، کـه چېـري دا شـرط نـۀ دی بيـا يـې زۀ نـۀ شـم نيـولی، ماتـه چـي خـدای تعـالٰی دنيـا راکـړې ده خـو ددې لپـاره يـې راکـړې ده چـي ماشـومان پـه ارام کـړم او کـه ګټـه مـي نـۀ وي نـو بـه يـوه ورځ دا دنيـا ختمـه شـي او ماشـومان بـه مـي وږي شـي، لـه لـوږي بـه مـړۀ شـي، پـه ورځ د قيامـت خـدای تعـالٰی تـه بـه پـه دې بـاره کښـي څـه جواب ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالو پوه شو چي مځکه ټوله غواړي او مجبور يم له هغې بلا په بل رنګه ځان نهٔ شم خلاسولی او شرط يې ورسره ومنلو مګر روپۍ يې څه زياته ځني وغوښتې، جمک نهه سله روپۍ ورکړې او خالو روپۍ واخستې او مځکه يې په جمکه ګروه کړه او کورته لاړ.

په سبا سهار خالو اتهٔ سله روپۍ د ملک کور ته وروړې نن ملک ډېر په مينه روغبړ ورسره وکړ او ښهٔ عزت يې ورکړ، د کلي او شا خوا د علاقې په حالاتو يې خبري ورسره وکړې اخر ملک د دهمکۍ اميز خواست په طرز ورته ويل چي خالو لور به چاته ضرور ورکوې بل چاته يې مهٔ ورکوه، زما زوی ته يې راکړه، ښهٔ به په عزت او په ارامه به وي، ستا به هم لاس راپوري خلاس وي، مګر خالو هيڅ جواب ورنکړ او له جيبه يې روپۍ راوکښې ملک ته يې ورکړې.

ملک چي روپۍ وليدلې طبيعت يې ډېر خراب شو مګر څه يې نهٔ وويل او روپۍ يې وشمېرلې پوره وې له څنګ سره تر سروژده (تکيې) لاندي يې کړې.

وروسته يې بيا کيسه ورته وکړه خالو له دې واره دومره قدر ورته وويل چي ستا خبره مي ښه واورېده ستا تر کور بل لوی او د عزت ځای نشته، مګر زهٔ زوی ته واده پرې غواړم په دې به له ما طبعيت نهٔ خرابوې.

ملک چي دا جواب واورېدو ډېر غصه شو او ورته يې وويل چي زما خواستونه دي په مځکه تس (غوزار) کړو، واقع

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي نه ښه سړی يې او دا متل يې تېر کړو......... خير اوس به درسره زه ګورم.

خالو چي دهمکۍ واورېده سخت وو پرېدو ، يو ساعت پس ولاړ شو او ملک ته يې د رخصت لپاره لاس ور وغزاوه، ملک هغه شان غصه ؤ او خالو بغير د رخصته روان شو. خالو پوه شو چي ملک څه بد راسره کړي، ځان سره يې وويل چي دا مي د ځان سره لوړه (قسم) ده چي لور به د زوی په واده ورکوم که څوک ښه راسره کړي او که بد، مګر دا فيصله بد بدله نه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶)

له بده مرغه يوه ورځ د خالو خر د ملک په کښت ورګډ شو، دا وخت ملک په کوټه ناست ؤ او په دربين (دوربين) يې شا خوا مځکه کتله اخر چي يې خپل پټي ته وکتل او يو خر په ګډه شوی دی هم په کښت کښي بزګر لګيا ؤ چي خر يې وليد، زر يې له ملکه وويست، ملک به دربين کښي ښه تر ډېره ورته کتل او وې پېژندو چي دا د خالو خر دی، خو د تصديق لپاره يې تور پسې ولېږلو چي دا خر وګوره د چا دی او دلته يې راوله. تور په منډه ورغلو او خر يې د کور په خوا را ويست. ملک تر اوسه په کوټه ناست ؤ چي تور ورنږدې شو ملک ور ږغ کړو چي هلکه توره! خر د چا دی؟ تور جواب ورکړ چي صاحب دا د خالو خر دی. ملک چي واورېدو طبعيت يې ډېر ښه شو او د ځان سره يې وويل چي دا دی خدا راکښېباسو اوس بې تانګونه ټينګ کړم، بيا يې تور ته وويل چي خر خالو ته وروله او ورته ووايه چي خر دي په کښت ګډ شوی دی او زر دي اته شلي روپۍ د تاوان راوړي، کنې تر ما به بده بلا نۀ کړي پيدا.

تور هم خالو ته ورغلو او خالو ته يې دا وېنا وکړه. هغه پوه شو چي کيسه د تاوان نۀ ده بلکې هغه راته ويلي ؤ چي درسره ګورم به او اوس خامخا پلمه غواړي او تنګوي مي. خالو تور ته ويل چي تۀ درځه زۀ هم ملک ته درسره ځم، خر تر اوسه دلې ؤ بيا يې څنګه د اتو شلو روپو تاوان وکړ، دا ناممکنه ده ملک زورور دی او به يې په پېچومي خېژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالو له تور سره ملک ته ورغلو او ورته یې وویل چې صاحب زما خرۀ تاوان کړی دی دومره تاوان واخله چې شوی دی نۀ اتۀ شلي روپۍ. ملک د خالو له وینا پس ډېر غصه شو او وې ویل چې تاوان خو تر دې هم زیاته شوی دی، مګر ما ستا خیال وساتو چې غریب سړی دی نیم تاوان ورڅخه واخله او تۀ په دې هم ناراضه یې بس زیاته خبري د قران ښې دي، نوري خبري ۀ کوه، ماته تاوان په منډه راواړوه، کنې په دې ځان ښۀ پوه کړه چې زما نوم ملک ګوهر خان دی او دا ستا غوندي مې ډېر تر خاورو لاندي کړي دي.

خالو د یوې بلې خبري کولو لپاره خُله سره یووړه، مګر ملک پرې ور راپورته شو چې بس ما درته وویل چې زیاتي خبري مۀ کړه، په منډه له دې ځایه وځه او تاوان راوړه.

خالو له ملک څخه روان شو او ځان سره یې وویل چې ملک اوس ځان او موږ په بدی کښېباسي، خیر تر څو چې ځان مه ورڅخه کتلی شو ګورم بې او دا متل ورپه یاد شو چې ګنډه (غوټه) په لاس خلاسېږي نو غاښو ته څۀ ضرورت دی او داسې یې د ځان سره جوړه کړه چې کلي کښې څو سپین ږیري به د ځان سره ملګري کړم او ماښام به د ملک کورته په خواست ورشو، ماښام یې د کلي څو سپین ږیري او د کلي ملا صاحب د ځان سره ملګری کړو او ملک کور ته ورغلو او خواست یې ورته وکړ چې صاحب موږ د خدای بندګان او ستا سړي یو، تا له په خواست راغلي یو، تۀ به مهرباني کړې تاته خدای ډېره درکړې ده او په دې اتۀ شلو روپو ستا دنیا نۀ لږېږي (کمېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک ګوهر خان ورته وويل چي ما تر اوسه چا سره ناجائزه نۀ ده کړې او نۀ ما په چا ناحقه دعوه کړې ده او نۀ چاته خپل حق ورپرېښې دم. تاسو واياست چي حق مۀ غواړه دا به ناجائز نۀ وي دا دی ملا صاحب تاسو سره راغلی دی، د شريعت په غاړه دي ووايي چي دا حق لرم که نۀ.

د ملک له دي وېنا پس يو سپين ږيري وويل چي صاحب موږ دا نۀ وايو چي ستا حق نۀ دی او تۀ ناروا کړې، موږ وايو چي لږ مهرباني راسره وکړه په دې به خدای نور مهربانه شي تاته يې ډېره درکړې ده.

ددې سپين ږيري وېنا لاجاري وه چي ملک لږ غصه شو او په غټ ږغ يې وويل چي په خبره ځان پوه کړئ، هغه دا چي زۀ نۀ يوه پيسه خپل حق چاته پرېږدم او نۀ يې له چا غواړم او په دې ټول عمر مي داسي نۀ دي کړي او نۀ مي په خپل حق له چا سره څه فيصله يا شريعت کړی دی. ولي چي خپل حق مي دی. شريعت او فيصله په خپل حق ولي له چا سره وکړم او زۀ چي هر چا سره فيصله او شريعت کړم نو زما په حال او حېثيت به وي. ما سره دومره زور شته چي په خپلو متو يې ځني اخستی شم اوس تاسو راغلي ياست صرف ستاسو لپاره به په دې ملا صاحب شريعت درسره وکړم او ودي وايي چي حق مي کېږي که نۀ. ملا ورته وويل چي صحيح ده ستا حق دی او ماښام په جومات کښي کليوال سره ږغېدو هغو ويل چي تر دې زياته تاوان وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملا صاحب په خبرو دا سړي پوه شول چي د ملک خواته خبره کړي او ملا د ملک د زړۀ خوشحاله کولو لپاره ښکاره دروغ وايي، ملا صاحب چي دروغجنه خبره ختمه کړې نۀ وه چي يو سړي پرې ور ږغ کړو چي ملا صاحب زۀ په جومات کښي ناست وم دا خبره چا نۀ کړې او نۀ څوک په دې خبر دي.

د دې سړي په وينا ملا سخت وشرمېدو او په غصه کښي يې وويل چي زۀ د ملک لپاره خپل ايمان نۀ خرابوم اوس تۀ په ما ستا په خُله دروغ اړوې، الحمدالله زۀ خداى پاک له دې ډېر پاک ساتلى يم، زۀ نۀ ستاسو او نۀ د ملک لپاره دروغ وايم بيا يې ملک ته وويل چي صاحب دوى هم مني او په شريعت کښي دي حق کېږي اوس يې غواړې که نۀ هغه ستاسو کار دى.

ملا صاحب خپله خبره نوره هم داسي جاري وساتله چي ملک صاحب دا سړى ځان ته مسلمان وايي خو تل د کفارو کارونه کړي څو ځله دې سړو ماته ويلي دي چي ملک ظالم دى سود خور او حرام خور دى دا دى او هاغه دى، مګر اوس ستا تر مخ يې خُله مړۀ مړۀ کېږي او مخامخ يې اوس وويل چي نۀ نۀ کله تا په چا ظلم نۀ دى کړى تا د چا حق نۀ قبضه کړى ۀ او نۀ خوړلى.

ملا صاحب د خپلو خبرو په ميان (منځ) کښي غاړې صفا کړې او ملک ته يې وويل چي دا خپل کليوال به يوه ورځ تاته مصيبت وي او تۀ به د دې خلکو له لاسه داسي بې عزته او بې کوره يې لکه چي اوس اوغانستان (افغانستان) کښي ستا نمنه ډېر عزت مند بې عزته شول. په رښتيا کښي مهربان راغلى ۀ او دا ټول يې لمسولي دي. مهربان دې خالو ته ويلي ۀ چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل زوی په سکول کښي داخل کړه، تعليم په وکړه او سبا به يې تر ملک زياته عزت وي، تېره ورځ تهٔ خپل قرض غوښتلو له خالو ته ورغلی وې له تا وروسته روشن خان چي هغه هم د روسيانو په عقيده دی تا پسې يې تقرير کړی ؤ او کليوالو ته يې ويلي ؤ چي سره متفق شئ، د ملکانو ملکي د سردارانو سرداري او د ملايانو ملايي ماته کړئ، دا ظالمان دي. ملا صاحب د وېنا په اخر کښي وويل چي په کلي کښي د روشن او مهربان غوندي ناسور وي نو قسم په خدای چي يوه ورځ به ډېر عزت مند او عالمان بې عزته وي. روشن او مهربان دي پوه کړل شي توبه ګار دي شي او که دوی توبه نهٔ کاږي شريعت يې مرګ روا کړی دی. بايد له منځه دي يووړل شي، هر چا که مړهٔ کړو هغه غازي دی او دوی مرتد شوي دي، هيڅ قصاص يې نشته. د ملا صاحب په دې خبرو د ملک سترګي سرې شوې او ملا صاحب ته يې صرف دومره قدر وويل چي ښه دي وکړو په وخت دي خبر کړم، زما هم څه شک ؤ، خو دا دی چي تا يې تصديق وکړ، اوس زهٔ ډېره ښهٔ ورسره پوهېږم او زهٔ به يې زر علاج وکړم.

ملک دې سړو ته وويل چي ښه ستاسو په خُله يوه ده په زړهٔ کښي بله، زما له کوره ولاړېږئ او خالو ته يې وويل چي سبا مازديګر پوري که تاوان رانهٔ وړې نو ماسره دي ښهٔ علاج شته.

دا سړي د ملک له کوره ووتل او ملا صاحب له ملک سره پاتي شو، په لاري کليوال يو بل ته وايي چي کيسه ټوله ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب مرداره کړه او دا روشن خان او مهربان خو صحيح خبري کړي چي دا دواړه ظالمان او ملګري دي. د ملک سره به هلته ګورو چي لاس راواچوي او روشن خان ته حال ورکړئ چي هغه دي خپل ملګري په دې خبر کړي چي ډېر زر زموږ او د ملک جنګ شروع کېږي. بايد په دې جنګ کښي موږ ګټه تر لاسه کړو او د ملک ملکي د تل لپاره ختمه شي او ملا په باره کښي ټول کلي صلاح سره وکړه او جومات څخه به يې باسو او اينده لپاره به داسي عالم غواړو چي هغه د سياست په خبرو کار نۀ لري او د کليوالو په ميان کښي د شيطانۍ خبري نۀ کړي.

خالو سره د جمک له روپيو سل له قرضه زياتي وې تر اوسه يې نۀ وې لګولي، دا سل روپۍ يې په دې سهار ملک ته ورورې او ورته يې وويل چي دا نوري روپۍ به بيا در کړم.

ملک دا سل روپۍ ورڅخه ونيولې او ورته يې وويل چي پاته روپۍ به سبا ته پخپله راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۷)

سبا سهار وختي ملک خپل زوی خان زاده بازار ته ولیږو چي په خالو رپورټ وکړه چي خالو له مخه (منځه) ووځي بیا به د زوی وادهٔ زر پیدا شي.

خان زاده په خپل موټر کښي بازار ته لاړو او په عرض نویس یې یو رپورټ ولیکلی چي زموږ په کلي کښي ځیني کسان د ملک او اسلام خلاف خبري کړي او خلک په عذابوي تاوانونه کړي، که څه هم دا یو لوی ګروپ دی چي ټول معلومات یې موږ ته نشته خو د خالو په باره کښي موږ ته معلومات تر لاسه شوی دی. د خالو په ذریعه دا خلک په کلي کښي بد امني جوړول غواړي، حکومت دي مهرباني وکړي دا سړی دي ګرفتار کړي او سزا دي ورکړي چي په کلي کښي امن برقرار وساتل شي.

د درخواست لیکلو وروسته خانزاده تحصیل ته ورغلو اې سي AC نوی راغلی ؤ، د خان زاده شناخت ورسره نهٔ ؤ، د اې سي د دفتر په دروازه کښي چپړاسي چي خان زاده ولید زر ورته ولاړ شو او سلام یې ورته وکړ، وروسته یې دروازه ورته خلاصه کړه، خان زاده ورننوت او چپړاسي ورپسي ننوت. اې سي ته یې سلام وکړ او ورته یې وویل چي صاحب دا د ملک ګوهر خان صاحب زوی دی خانزاده نومېږي. د اې سي او خان زاده چي تعارف سره وشو دواړو ښه په مینه روغبړ سره وکړ، د اې سي په وینا د نورو خګلو دفتر ته راتګ تر هغه وخته بند شو تر څو چي خان زاده ورسره ناست ؤ. دوه نیم ساعته خانزاده ورسره ؤ اخر اې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي ورته وويل چي څنګه راغلی يې، موږ دي څه خدمت وکړو.
خان زاده له جيبه درخواست را و ايست ور يې کړ.

اې سي چشمي په سترګو کړې او درخواست يې ولوست بيا يې خان زاده ته وويل چي دا عناصر په دې علاقه کښي ډېر دي، څه وجه ده له دې درخواسته داسي معلومېږي چي دا په کلو کښي هم ممبران لري او د دې خلګو خلاف بر وقت کاروايي نۀ وشي يقيناً دا به ملک ته خطره پېښه کړي. زۀ به په دې باره کښي له بالاافسرانو سره خبره وکړم او في الحال به دا سړی ګرفتاره کړم. او يو درخواست يې هيډکوارټر ليويز کښي جمعدار ته وليکلو چي فوراً دا سړی ماته حاضر کړه.

اې سي چپړاسي ته اواز وکړ چپړاسي ورته ودرېد او اې سي ورته وويل چي دا رپورټ په ناظر درج کړه او ناظر دي زما خوا ته راشي. چپړاسي هم درخواست ناظر ته يوړ او ورته وويل چي اې سي وايي رپورټ دي درج کړي بيا دي راشي. ناظر هم رپورټ درج کړو او اې سي له ورغلو.

ښۀ داسي وکړه چي زما جيپ تيار کړه ليويز جمعدار ورسره کړه او دا سړی دي ګرفتار کړي. اې سي ناظر ته وويل.

ډېر ښۀ صاحب ناظر په جواب کښي ورته وويل.

ناظر زر جمعدار سره څو تنه ليويز ملګري کړل او جيپ يې ورته تيار کړو او روان شو کله چي جيب کلي ته ورسېدو د خالو د کور پوښتنه يې له يو سړي څخه وکړه. دې سړي د خالو کور ور وښوو، مګر دوی دا سړی له ځان سره په جيپ کښي کښېناوه او د خالو کور ته ورغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالو چي د کور په غولي کښني جيپ وليد ډېر و ډار شو چي د ملک کوتک ماران دي، په وېره وېره کښني د موټر لوري ته روان شو چي ورنږدې شو نو ږغ يې پرېکړ چي خير دی څوک ياست د چا کور غواړئ.

جمعدار ورته وويل چي خير دی تر دې ځايه راتلو، ته مو پکار وې يو چا رپورټ کړی ؤ چي تا څه تاوان کړی دی اوس به ته راسره ځې، کليوالو چي موټر وليد هغه ټول حيران شو د کلي ټول ماشومان او سړي د خالو کورته راغلو، هر سړی پوښتنه کړي چي خير دی څه کيسه ده او هر سړی سرحاله شي او پوه شي چي ملک رپورټ کړی دی او د ملک خلاف په کلي کښني يو لوی رجحان پيدا شو، خالو سره رټ شو لاس پښني ژبه يې وچه شوه، بدن يې مړ شو، جيپ کښني خالو په ځان نهٔ ؤ پوه، بنه ساعت پس په ځان پوه شو سترګي يې رونې شوې، کتل يې چي يو بل څنګ ته مه توپکچي ناست دي، خالو تر اوسه په جيپ کښني نهٔ ؤ کښېنستی ځکه يې سر چکر خوړی او زړهٔ يې ډکېږي.

جيپ د تحصيل تر مخ ودرېد، ليويز والا ځني څوړ (کوز) شو. خالو هم له جيپه څوړ شو زړهٔ يې ډک ؤ او يو خوا ته کښېناست، قی (باکی) يې ووهلې، يو ليويز وال چي ډېر رحمدله ؤ په منډه يې له نږدې هوټله مالګه پياز ورته راوړو، خالو مالګه وڅټله او پياز يې بوياؤ بنه ساعت پس جمعدار خالو ته وويل چي راځه او د اې سي دفتر ته يې ورننه ايست.

جمعدار اي سي ته وويل چي صاحب خانزاده چي په چا رپورټ کړی ؤ هغه مو را ويست او دا دی تاته مو حاضر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې سي خالو ته وکتل او په ډېره غصه ناکه لهجه یې ورته وویل چې ته هم خلک تنګوې، د ملک او دین خلاف خبرې کړې، ته د غدارانو په خبرو خطا وتی یې اوس به تاته ددې عمل جزا درکول کېږي.

نه نه ما څوک نه دي تنګ کړي او نه مې د ملک او دین خلاف خبرې کړې، نه ما چا سره څه بد کړي دي، خالو په کپنا کښې ورته وویل اې سي ناظر ور وغوښت او ورته حکم وکړ چې د دې سړي حلفیه بیان واخله مثل مکمل تیار کړه.

ناظر هم د اې سي په حضور کښې له خالو د استغاثې مطابق بیان جوړ کړو، خالو په بیان کښې وویل چې زه نه د دین او ملک خلاف یم او نه مې د دین او ملک خلاف خبرې کړې دي او نه ماته هغه خلک معلوم دي چې داسې خبرې کړي او نه ما څوک تنګ کړی دی.

په ما د ملک زوی ځکه رپورټ کړی دی چې هغه د خپل زوی لپاره له ما لور غواړي مګر ما یې دا خبره نه ومنله ځکه هغه داسې غلط الزام په ما لګولی دی.

د خالو بیان ختم شو مګر ناظر داسې ټکي له خپله مخه (ځانه) په بیان کښې ولیکل چې خالو مجرم ثابت شي ناظر لیک ختم کړو او د لیک په اخر کښې یې د خالو ګوته ولګوله.

ناظر یو لیویز وال ته خالو په نګرانې کښې ورکړی او په کاغذو لګیا شو او دوې ګهنټې بعد یې ټول مثل اې سي ته پېښ کړو اې سي ټول مثل وکتلو، ورسته یې په یوه سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاغذ په لاس ولیکل چي د مجرم په باره کښي خانزاده موږ ته اطلاع راکړې وه، په دې سلسله کښي مکمل تحقیقات وکړل شو او دا ثبوت شوه چي دلته ځیني غیر ملکي ایجنټان شته چي په ملک کښي قومي او طبقاتي نفرت خپروي، مجرم هم له دې ډلي دی او په خپل بیان کښي اقرار کوي چي ما څخه غلطي شوې ده، له دې واره دي معافي راته وشي لهذا موږ مناسب ګڼو چي مجرم ته ۴۰ ایف سي آر FCR تحت درې کاله د قید سزا او تاوان په باره کښي درې سله روپۍ جرمانه بصورت دیګر درې میاشي نوره سزا دي وي او مثل دي داخل دفتر شي.

اې سي په دې خپل لیک باندي دوباره نظر واچاوه یو ځای حرف پاته ؤ هغه یې ولیکلو او په پای کښي دستخط وکړی. له لیک وروسته خالو یې دفتر ته طلب کړو او ورته یې وویل چي ستا په باره کښي موږ ته کوم رپورټ شوی ؤ هغه تحقیقات مکمل شو او زۀ اوس هم په تا مهرباني کړم او تاته درې کاله جیل درې سله روپۍ جرمانه بصورت دیګر درې میاشتي مزید سزا درکوم. خالو چي حکم واورېد زر د اې سي په پښو کښي پرېووت چي صاحب د خدای لپاره ما هیڅ نۀ دي کړي ماته جیل مۀ راکوه. زما ټول کور به ملک ختم کړي. په ما رحم وکړه او دفتر کښي داسي مظلومانه نارې جوړي شوې چي په ټول تحصیل کښي حاضرین د اې سي په دفتر ور ننووت حال یې وکړ څوک په دې سلسله کښي د ښۀ او بدو رای ورکړي او څوک هیڅ ږغ نۀ ولري او له دفتره ووځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې سي ليويز والاته وويل چي دا به جيل ته يوسئ. ليويز والو خالو تر لاسو ونيو او جيل ته يې يووړ.

تورپېکۍ او کالو ټوله شپه د خالو په انتظار کښي تېره کړه. هره ګهنټه بعد به کالو له کوره راتلو او تور پېکۍ څخه به يې حال وکړ چي لالا نۀ دی راغلی.

سهار وختي کالو د روشن خان کور ته لاړ او کيسه يې ورته وکړه. دواړو تياري وکړه او بازار ته لاړو او مهربان پسې وګرځېدو اخر کښي يې هغه پيدا کړو او کيسه يې ورته وکړه. مهربان له کالج څخه چهټۍ واخسته او تحصيل ته لاړو ناظر څخه يې پوښتنه وکړه ناظر او مهربان په داسي ژبه خبري سره کړې چي کالو نۀ پرې پوهېدو. بيا کاغذونه سره وګوري د مهربان په مخ توري چمبې لاړې، مهربان د ناظر له کمرې ووت کالو او روشن ورپسي ووت او ساعت ولاړ ؤ، کالو د مهربان په پريشاني او غصه پوه شو او څو ځله يې تپوس ځني وکړ مګر هيڅ جواب يې ورنۀ کړو.

بل وار مهربان د اې سي په کمره ورننووت، کالو او روشن هم ور پسې ننوتو، مهربان او اې سي ډېر سخت او په غصه خبري سره کړې، له اې سي سره څو تنه د شملو وال ناست وو، هغو مهربان په خواستو او په زوره د اې سي له کمرې وايستو ،کالو نور هم پريشانه شو اخر چي بهر ووتو مهربان کالو ته وويل چي د ملک زوی خان زاده په خالو اکا رپورټ کړی دی. سرکار خالو ته درې کاله جيل ورکړی دی. نن ورځ يې دلې ده سبا به يې سنټرل جيل حيدراباد ته وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران هم په کلي کښي دا خبره اورېدلې وه او مور ته يې وويل چي کليوال سره رټغېدو او ويلې چي بابا درې کاله لپاره جيل ته لاړو، تورپېکۍ له مخه پرېشانه وه باران چي دا ورته وويل څه شکي شوه.

مازديگر کالو چي ورغلو او تورپېکۍ ته يې حال ورکړ په کور کښي ژړا او فرياد شروع شو، د دوی په ژړا ټول کلی د خالو په قيد او سزا خبر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)

پــه ســبا هــر کليــوال تــورپېکۍ تــه راغــي او د همــدردي اظهــار ورســره کــړي او نصــيحت ورتــه کــړي چــي ډېــره افســوس ناکــه واقعــه ده، تــر صــبر تېــره ده مګــر تــا لــه پکــار دی چــي تــهٔ ډېــره پرېشانه مهٔ کېږه، دا هلکان به په تا پوري وخت تېروي.

همــدردان يــو پــه يــو راتلــو او ښــو خبــري بــه يــې تــورپېکۍ تــه وکــړې او يــو خــوا تــه بــه کښېناســتو. روشــن خــان هــم راغلــو او دې خلکــو ســره ناســت ؤ. دې ســړو پــه دې غــور وکــړی چــي اوس بــه درې کالــه لپــاره مــوږ دا کــور ســاتو اخــر فيصــله نــهٔ وشــوه او دا خبــره وشــوه چــي بــس هــر ســړی بــه د خپــل وس مطــابق امــداد ورســره کــړي بيــا چــي هــر کليــوال د تــورپېکۍ پوښــتني تــه راتلــو ضــرور بــه يــې څــه ورتــه راوړو، مګــر لــه ښــو مياشــتو وروســته د خلکــو راتــګ کــم شــو. روشــن خــان يــوه ورځ د تــورپېکۍ پوښــتني تــه راغلــو او ورتــه وې ويــل چــي تــهٔ پــه خبــره يــې کــه نــهٔ، تاتــه بــه چــا څــه درکــول يــا ښــوک بــه راتلــو، ملــک ټــول کلــي تــه اطــلاع ورکــړې ده کــه چــا لــه تــورپېکۍ ســره امــداد وکــړ نــو د هغــه بــه داســي حــال کېــږي لکــه د خــالو حــال. روشــن خــان خپــل بيــان جــاري وســاتلو چــي لــه ملــک څخــه بــه د دې حرکتــو حســاب اخســتل کېــږي، خــو لــږ مــو ده بعــد، مګــر تــهٔ يــوه نيکــي وکــړه او هــم مــوږ ســره پــه انتقــام اخســتلو کښــي ملګــرې شــه او هــم يــو وخــت پــه دې سلســله کښــي بــه درتــه خبــر درکــړم او ستاســو بــه پکښــي خيــر وي. هغــه دا چــي بــاران مهربــان تــه ولېــږه د ورځــي بــه د چــا ســره مــزدوري کــوي او د شــپې بــه لــهٔ ده ســره اوســېږي او هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



به له مهربانه سبق شروع کړي. په دوه نيم کاله کښي پنځه جماعته ويلی شي.

د تورپېکۍ دا يقين ؤ چي به کلي کښي ايماندار څوک دی او يا په ما باندي انديښمن دی او په ريښتني زما په غم راسره ګډ دی په هغو کښي يو روشن خان دی. تورپېکۍ ورته وويل چي مهربان هم د باران پلار ته دا خبره کړې وه د هغه دا خوښه وه چي باران ليک او لوست زده کړي، مګر اوس خو يې پلار نشته، زۀ به د باران له اکا (کالو) سره مشوره وکړم.

روشن چي ووت کالو راللو او تورپېکۍ د روشن خبره ورته وکړه. کالو ورته وويل چي زۀ هم د باران په باره کښي راغلی وم او دې ته مي فکر نۀ ؤ چي مهربان ته يې ورولېږه، زۀ د ملک له لاسه په دې هلک وېرېږم، ملک چاته ډېري خبري کړي وې. مهربان او روشن بې شمېره ملګري لري او د ملک هم څني وېره شي، بايد چي په دې لړ کښي موږ سستي نۀ وکړو او دا کار تر سره کړو. دويمه ورځ کالو روشن خان سره وليدو او دا فيصله يې وکړه چي مهربان ته به حال ورکوو. روشن خان خپل کار پرېښود او بازار ته د مهربان ليدو لپاره لاړ او هغه ته يې ټوله کيسه وکړه. مهربان په دې ډېر خوشحال شو او روشن ته يې وويل چي تۀ بېرته لاړ شه سبا ورځ زما ضروري او مشکل سبق دی، تۀ تورپېکۍ او کالو ته زما سلامونه وايه او درېيمه ورځ دي دا هلک تيار کړي. بله ورځ به زۀ هم درشم، هلک به يې تيار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روشن واپس کلي ته راغلو، سبا چي نمر يوه نيزه قدر راپورته شو بيا يې کالو د ځان سره ملګرى کړو او تورپېکۍ ته راغلو، د مهربان سلامونه او پېغام يې ورکړ چي سبا به مهربان راځي او باران به له ځان سره بيايي، تاسو د باران کالي (جامعې) تيار کړئ.

نوره څه تياري ده يو جوړه کالي يې دي. هغه مو مينځلي دي. تورپېکۍ ورته وويل. ماښام تورپېکۍ چرګ حلال کړو او د ماښام ډوډۍ ته يې روشن خان او کالو هم را وغوښت.

په دې بله ورځ مهربان چهتۍ اخستې وه او سهار وختي کلي ته په بائيسکل راغلو، اول د تورپېکۍ کورته راغلو روغبړ او چای يې وکړ، وروسته يې اجازه وغوښته چي زۀ به يو وار کورته ورښکاره شم بيا به راشم. تاسو باران ته د ډوډۍ ګوله ورکړئ، زۀ به يې کور وخورم ناوخته کېږو به نۀ.

تورپېکۍ هم باران ته ډوډۍ ورکړه، د کالو د کور ښځي او هلکان هم تورپېکۍ کره راغلو، نږدې کورو واله حيران ؤ چي دا څه کيسه ده چي کالو د کور واله هم دلته راغلي دي، په غولي کښي ډېر پريشانه ناست دي. د دې کورو ښځي هم راغلي د دې ښځو راتګ چي شروع شوه د ټول کلي نر او ښځو مخه ورته را وکړه.

لږ ساعت پس مهربان هم له کوره راغلو او ږغ يې وکړ. چي تورپېکۍ موري موږ بس روانېږو دعا راته کړه چي کامياب شو. زيار موضائع نۀ شي او د رخصت لپاره يې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروغـــزاوه. د تـــورپېکی لـــه ســـترګو اوښـــکي وبهېـــدې او ســـلګی یـــې شـــروع شـــوې. مهربـــان تـــه لاس پـــه لاس کښـــي ورکـــړی، نـــور څـــه یـــې نـۀ شـو ورتـه ویلـی څـوک چـي مهربـان تـه رخصـت ورکـوي هغـه راځـي بـاران کوشـل (ښـکل) کـړي او پـه سـر یـې لاس ورتېـر کـړي اخـر چـي بـاران لـه خـوره رخصـت اخسـتو هغـې څـو واره بـاران پـه دواړو زامـو کوښـل کـړو او لاسـونه یـې پـه سـترګو پـوري ونیـول او ښـۀ سـاعت یـې د بـاران لاسـونه پـه خپلـو لاسـو کښـي نیـولي وو او کښیکاږي یې (مروړي یې).

بـاران د کـم عمـر ؤ مګـر پـه دۀ کښـي ډېـر همـت او جذبـه وه. ټـول عزیـزان مـور او خـور یـې ژاړي او دی ټولـو تـه غصـه کښـي وایـي چـي ولـي ژاړئ، کـه چېـري پـه غلـط او نـاروا کـار پسـې ځـم خـو وژاړئ او کـه چېـري پـه علـم پسـې ځـم دا خـو ښـه کـار دی. بایـد مـوږ خوشـحالي وکـړو، د بابـا پـه حـال ژړا پکـار ده، مګـر کـه نـن هـم مـوږ وس پیـدا نـۀ کـړو او مـوږ انتقـام نـۀ واخلـو نـو مـوږ واقـع بـې همتـه یـو او بیـا بـه مـوږ پـه خپلـه بـې همتـي ژاړو. بـس اوس نـوره ژړا بنده ده او رخصت راکوئ.

بـاران چـي دا خبـري ختمـي کـړې مـور تـه یـې لاسـونه د رخصـت ورکـړو. د ښـۀ سـاعت لپـاره دواړو لاسـونه سـره نیـولي وو او تـر سـترګو یـې اوښـکي بهېـدې. د تـورپېکی ژړا لـږ پـه زوره شـوه پـه ژړا ژړا کښـي زوی کوشـل (ښـکل) کـړي او پـه غېـږ کښـي یـې ونیسـي اخـر کـالو ږغ پـرې وکـړی چـي ورنـدیاري (ورېنـداري) بـس پـه خـدای یـې وسـپاره، کـالو چـي دا ږغ وربانـدي کـوو د هغـه وېنـا هـم ژړغـونې وه او بـل ږغ یـې تـر خُلـه نـۀ شـو وتلـی، خـو کـالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران تر لاس ونیوو او د جامو غوټه یې ور واخسته او روان شو. دا وخت ما سوا د روښن خان باقي د ټولو په سترګو کښې اوښکي وې. روښن خان له وخته ډېر کلک زړۀ درلود. روښن خان په حاضرینو ږغ وکړ چې وار وکړئ څه شوي دي وار مو هرلی دی. دعا وغواړئ دعا وکړئ، نن ورځ څخه د باران او ددۀ د کور تقدیر بدل شو. د نن ژړا او دا اوښکي د غم او ناروا نۀ دي دا د خوشحالۍ اوښکي دي، نن د غم اوښکي د هغو په کور کښې په هغه چا وي څوک چې د دې د کور دشمن دی. روښن خان چې وکتل ملا صاحب نۀ ؤ راغلی یوه سپین ږیري ته یې د دعا غوښتلو لپاره وویل. سپین ږیري د دعا لپاره لاسونه پورته کړو او ټولو امین امین کلمه ویله تر څو چې لاسونه ټولو په مخ تېر کړو.

تورپېکۍ د هغې لور درخانۍ او د کلي ډېري ښځي او نارینه په دوئ پسې وو او له کوره ډېر لېري چې دوی په ویاله جار ووت روښن خان ورته وویل چې بس تورپېکۍ موري زیاته مه پسې ځه. دا د درختو مېوه ده ولګېده، څه وخت پس بېرته ورسېږي. بیا به مېوه خورو اوس یې ښېشکه غمونه او ستړي ډېري دي، مګر څه وخت چې لویه شي بیا یې ارام او خوندونه ډېر دي. روښن خان په وینا تورپېکۍ وغېره ودرېدو او په ډکو اوښکو په هغه خوا ګوري مګر د وله له وجي نۀ لیدل کېدو.

کالو تر ډېره ددوی ملګری ؤ، اخر مهربان ورته وویل چې بس نور به نۀ راسره ځې، په لاري مهربان کالو ته هر قسم تسلي ورکوي چې باران متعلق هیڅ فکر مۀ کوئ، کالو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربان څخه په غېږ رخصت واخست وروسته باران ته په ملا ورکوغ شو او په غېږه يې رخصت کړو او په لاس کښې يې د لسو روپو لوټ (نوټ) ورکړ او باران ته يې وويل چې مهربان هر څه درته ويل هغه کړه، خبره يې منه، مور چې بازار له درځو تا سره به وينو، د چهتيې پر ورځ به مهربان تا ځان سره کور ته راولي.

مهربان او باران په سائيکل سپاره شو کالو پاته شو ښه ساعت په دې ځای ولاړ ؤ او په دوی پسې ګوري، ترڅو بيا روان شو وار وار به يې په دوی پسې تر شا وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹)

مـازديګر پـه جومـات کښـي مجلس کېـدو چـي بـاران لـه مهربـان سـره لاړ او پـه سـکول کښـي داخلېـږي. مـلا صـاحب هـم پـه دې خبـر شـوی ؤ مـازديګر چـي کليـوال رغېـدو مـلا صـاحب ږغ نـهٔ دی کـړی او نـهٔ د کليوالـو پـه مجلـس ور ګډېـدلو. نـن لـه جوماتـه هم نهٔ راووت او په مصله ناست ؤ.

سبا ماخوسـتن لـه جمـي (جماعتـه) پـس يـې مقتـديانو تـه مـخ ور واړو چـي نـن شـپه د جمعـې ده، لـه نمانځـه پـس مـهٔ ځـئ، زهٔ به څه نصيحت وکړم.

هـر سـړي چـي لـه نمانځـه فـارغ شـي دېوالـه تـه شـا وګرځـوي او تکيـه وکـړي. د نصـيحت اورېـدو پـه انتظـار کښـي کښېني.

مـلا صـاحب چـي لـه نمانځـه فـارغ شـو اول يـې دعـا وکـړه او د نـن ورځـي دعـا تـر نـورو ورځـو اوږده وه، دعـا چـي يـې ختمـه کـړه ولاړ شـو او څـو واره يـې غـاړي صـفا کـړې او نصـيحت يـې پـه دې کليمه شروع کړو.

نحمده و نصلی علی رسول کريم اما بعد

نـن شـپه د جمعـې شـريفي ده او تـل مـه دا زړهٔ غوښـت چـي تاسـو تـه د الله او رسـول عليـه سـلام مبـارک خبـري وکړم او تاسـو تـه د کتـاب ورکـړي لاري بيـان کـړم، مګـر کلـه مـي هـم توفيـق نـهٔ وکـړ او نـن شـپه د جمعـې ده، ځکـه تاسـو تـه مـي تکليـف در کـړو، تاسـو بـه يقينـاً ارام کـړئ، ټولـه ورځ پـه کـارو لګيـا ياسـت، مګـر دا هـم يـو جهـاد دی، جهـاد پـه هـر مسـلمان فـرض دی، الله دي مـوږ ټولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـه توفيـق راکـړي چـي الله او د رسـول عليـه سـلام او د کتـاب پـه لاري عمل وکړو.

ټولو حاضرينو امين ثم امين کليمه وويله.

وروسـته لـه دې مـلا صـاحب وويـل چـي؛ د الله پـاک اخـري رسـول عليـه سـلام فرمـائيلي دي چـي طلـب د علـم پـه ټولـو مسـلمانانو فـرض دی هغـه کـه نـر وي او کـه ښـځه. مـوږ لـه پکـار ده چـي د رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم پـه دې حکـم عمـل وکـړو ،د ديـن علـم وکـړو. د الله او د هغـه لار وپېژنـو او عمـل پـرې وکـړو ، مګـر افسـوس چـي نـن ځينـي خلـک تاسـو تـه د علـم پـه نامـه دهوکـه درکـوي، د فرنګيـانو سـبق تـه مـو بـولي (دعـوت درکـوي) تاسـو وينـئ چـا چـي پـه سـکول کښـي سـبق ويلـی دی هغـه نـن ټـول د الله تبـارک وتعـالٰی لـه لاري اوښـتي دي، رسـول د خـدائ پـه وارثـانو پسـې خبـري کـوي، تـوهين يـې کـوي، دوی د عزتمنـدو ملکـانو سـردارانو پـه ضـد خلـک راټـولي، الله تعـالٰی پـه قـرآن کښـي فرمـائي چـي عـزت ورکـوونکی او اخسـتونکی صـرف زمـا ذات دی، مګـر دوی هغـو تـه بـې عزتـي ور رسـوي چاتـه چـي الله عـزت ورکـړی دی. مـوږ تـه پکـار ده چـي مـوږ پـه خپلـه مسـلماني فخـر وکـړو. انګرېـزي تعلـيم نـهٔ حاصـلوو او څـوک چـي انګرېـزي تعلـيم کـړي د علمـاؤ دا فتـویٰ ده چـي هغـه لـه مسـلمانانو نـهٔ دی، د مسـلمان سـړي زوی کـه پـه انګرېـزي سـکول کښـي داخـل شـي ددې هلـک اووه تېـر شـوي او اووه راتلـونکي پشـتونه بـه دوزخيـان وي. بـس مـوږ لـه پکـار دی چـي انګرېـزي تعلـيم نـهٔ وکـړو او څـوک چـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تعلیم کړي تر هغه وخته نفرت ورڅخه کړو تر څو چي توبه وکاږي او کلیمه ووایي.

د ملا صاحب دا خبري په روشن خان ښې نۀ ولګېدې او ولاړ شو ملا صاحب ته یې وویل چي نن له دې کلي د یو غریب سړي زوئ تللی دی او سبق وایي او تۀ وایې چي دا د مسلمانۍ لار نۀ ده او تر اوسه تا دا ږغ نۀ درولود، د کلي څلور تنه له ډېره وخته په سکول کښي سبق وایي چي دوه د ملک زویان یو یې وراره دی هغه له مسلمانۍ نۀ دي وتلي او ستا ورور چي په بازار کښي د جامعه مسجد امام دی د هغه درې زویان او یوه لور چي له ډېره وخته په سکول کښي سبق وایي هغه نۀ دي کافران، د هغو مړۀ نۀ دي دوزخیان او که غریب د ښۀ مستقبل لپاره دې خوا ته پام کړي بیا کفر هم راغلو او دوزخ هم.

د روشن خان په خبرو ملا صاحب سخت وشرمېدو مګر ملا صاحب ډېر زړور ؤ او روشن ته یې وویل چي زۀ تا پېژنم، ته کمیونسټ یې، تۀ چي دا نمونځ کړې د خدای لپاره یې نۀ کړې صرف له مسلمانانو دې وېره شي.

نن جماعت کښي د ملک عزیزان او زوی هم ؤ. د ملک کورنۍ چپ له خاص ورځي جومات ته نۀ راتلو. د روشن په خبرو هغو ته سخته غصه ورغله، د ملا صاحب غصه لا جاري وه چي د ملک زوی ږغ وکړي چي پخپله د روسیانو ملګري یې موږ ته هم نصیحت نۀ راپرېږدې او په عزیزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي ږغ وکړي چي له جومات څخه يې وباسئ او پکښي وغورزئ، مړ يې کړئ، مرګ يې روا دی.

کليوال د روشن له خبرو سره متفق وو او د ملا صاحب نصيحت خوند نۀ ورکړ، اکثر کليوال د روشن په پارټۍ کښي ورګډ ؤ مګر څوک په خبر نۀ ؤ. د ملک د زوی له وېنا څخه ټولو کليوالو ته وېره ورپيدا شوه چي روشن وژني.

جومات کښي ګړب جوړ شو ټول له جومات څخ ووتو د ملک عزيزانو په روشن د حملې کوشش کوو بار بار کليوالو کوشش کړی چي د ملک عزيزان به يې ونيول او روشن ته يې نۀ ور پرېښودل، مګر د ملک کورنۍ نۀ تم کېده اخر کليوالو ورته وويل چي موږ بار بار خواستونه درته کړو مګر تاسو نۀ تمکېږئ، په دې واقعه ملا ملامت دی، تاسو ملامت ياست موږ ټول د روشن ملګري يو اوس دا يې ګز دا يې ميدان. تاسو يو هم روشن ته تسه خبره وکړئ بيا به درسره ګورو او که بله ورځ ملا داسي خبري وکړې نو نۀ زموږ ملا دی او نۀ به خير وکړي او اوس به موږ د ملا په ملايي غور کړو. د ملک کورنۍ چي د کليوالو خبري واورېدې هر سړی په خپل خپل ځای ودرېد ، تر خُله يې سوخل نۀ ووت، کليوال ټول لاړو د ملک کورنۍ او ملا صاحب په جومات کښي سره پاتي شو. دوی دعا د خير سره وغوښته او خپلو خپلو کورو ته لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰)

یوه ورځ ملک ګوهر خان د صاحب زاده شین ګل اخونذاده کورته ورغلی او هغه ته یې وویل چي قربان ما زوی ته واده غوښت مګر هغه وایي چي ما ته به ضرور د خالو لور درخانۍ را غواړې په دي باره کښي څو ځله ما خالو سره خبري وکړې مګر هغه به انکار راته وکړ، خالو چي ما جیل ته کوو مقصد مي دا ؤ چي له مخه یې وباسم او اوس کله وایم چي نجلۍ په زوره راوړه او کله وایم چي نهٔ په خوشحالۍ یوه طریقه جوړه کړم. مګر طریقه په لاس نهٔ راځي. زهٔ اوس څه وکړم په دې باره کښي تا سره مشوره کوم.

اخوندزاده یو ساعت خاموشه ؤ بیا یې ورته وویل چي ښهٔ به دا وي چي په خوشحالۍ یوه طریقه جوړه کړې. نجلۍ وغواړه زور خو هر وخت شته او په اوسني واقعات خلک ډېر غصه دي. که چېري بل داسي عمل وشي نو به دې خلکو سره ګزران اړ شي، ځیني داسي خلک دوی سره شته چي هغو حکومت نه ټېر وهلی دی.

ملک ته له پخوا دا ویره وه ملا صاحب هم یو وخت حال ورکړی ؤ او اخندزاده صاحب هم په دې پوهېدلی ؤ. د ملک ویره نوره هم زیاته شوه او اخوندزاده ته ملک وویل چي خدای دي ستا عمر زیات کړي او ستا قربان شم که چېري تاته تکلیف نهٔ وي ته تورپېکۍ سره په دې باره کښي خبري وکړه. امید دی چي دا کار به وشي ملک چي دا خبره ورته وکړه زر یې د اخوندزاده تر ګدیله لاس لاندي کړو. د سلو سلو څو نوټونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښنودل، صاحب چي د ملک شورش ولید او د نوټو کشکي يې واورېد په زړه زړۀ کښېي يې وخندل او اسمان ته يې نظر کړو او په زوره يې د الحمد الله کليمه وويله او ملک ته يې وويل چي زۀ به خپل وس وکړم اميد لرم چي کار به وشي بيا ښۀ ساعت دواړه سره ناست وو، اخر ملک يې رخصت کړو اخوندزاده په دې فکر کښېي ؤ چي تورپېکی سره دا خبره کړم که کورته ورشم. هغه راپوهېږي او که دلې يې راوغواړم هم راپوهېږي. اخر يې خليفګان او څو تنه مريدانو ته وويل چي دا مياشت د روژې مياشت ده په دې مايشت کښېي زکاتونه ادا کېږي ځکه دې ته د زکاتو مياشت هم ويل کېږي. په ما چي څومره زکوت دی هغه زۀ پخپله ادا کوم تاسو ماښام د کنارخېلو جومات ته يو کس ورشئ او ږغ به وکړئ چي بله ورځ د جمعې ده په کلي کښېي چي څوک غريبان وي هغه دې د جمعې په سهار راشي چي زکات ورکړم او نومان يې وليکئ.

يو خليفه ماښام د کنارخېلو جومات ته لاړ پس له نمانځه يې ږغ وکړ چي زۀ اخوندزاده صاحب قربان يې شم رالېږلی يم. د جمعې په ورځ هغه زکوت کاږي (باسي) ټول هغه سړي غواړي په چا چي زکات خېږي او ماته د هغو غريبانو نومان راوليکئ.

خليفه په نومانو ليکل شروع شو په ټول کلي کښېي څلور کوره داسي وو چي د هغو نومان نۀ وليکل شو، ولي چي په هغو زکوت نۀ ادا کېدو څوک چي حاضر نۀ ؤ د هغو نومان به نورو ورښوو کالو خپل او د تورپېکی نوم ور وليکلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه په دې شپه دربار ته لاړ او اخوندزاده ته یې د غریبانو لستې ورښکاره کړو، اخوندزاده چې نوموړان ولیدو طبعیت یې ډېر خراب شو او خلیفه ته یې وویل چې دا دومره مخلوق ته چې پنځه پنځه ورکوم هم نۀ په رسېږم زما دا خیال وو چې لس پنځلس کسان به وي اوس داسي وکړه چې صبا چې دا خلک راشي ورته ووایه چې زۀ خطا شوی یم. د جمعې په ورځ اخوندزاده قصیده پخوي څوک نۀ پرېږدي. بیا به زۀ سم حال وکړم او تاسو ته به حال درکړم. دا درې کسان یعنې کالو تورپېکی او ملا صاحب په چم (چل) رانباسه چې نور څوک درپوه نۀ شي او ملا صاحب ته حال ورکړه چې له خلکو څخه دي جلا (ګوشه) راشي کالو او تورپېکی د ځان ملګري کړئ او دربار کښې دي هم له خلکو ځان پټوي.

د جمعې په سهار چې ملا صاحب له نمانځه فارغه شو تر نور کله وختي پورته شو او د قرآن پاک تلاوت یې هم پرېښود کور ته لاړو او صفا کالي یې واغوستو.

د تورپېکی د کور هیڅ کار نۀ ؤ مګر ځان یې ناوخته کړو او ځان سره یې ویل چې په شنه سهار که ورشم نو به ډېره حرصمنده ښکاره شم. په کراره به ورشم، څه فرق نۀ لري. ملا صاحب څو ځله حال ور وکړ چې راځي ده، ځان دي نۀ ناوخته کوي. کالو لاپروند ورته ویلي ؤ چې سبا به ګډ سره ځو نو تورپېکی ښه ناوخته د لېوره په کور ورله دواړه سره ملګري شول او ملا صاحب په کور ورغو هغه د کور باهر ددوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار کښني ناست ؤ څه وخت چي دوی ورغلو درې واړه سره ملګري شول او اخوندزاده دربار ته ورغلو.

خلیفه یو پټ ځای ددوی دریو په انتظار کښني ناست ؤ چي دوی دربار ته ګډ شو خلیفه په ملا صاحب ږغ وکړي چي په دې لار راځئ او په پټه لار یې دوی یوه کوټه کښني چي د اخندزاده د ملاقاتیانو په کوټه پوري وه کښېنول. وروسته خلیفه راغلو په عمومي دروازه زیات شمېر کناخېل ناست دي.

خلیفه سلام ور واچوو او ورته وې ویل چي تاسو به اکثر د کنارخیلو له کلي څخه یاست. زهٔ افسوس کوم چي تاسو ته مي تکلیف درکړ او زهٔ خطا شوی وم د جمعې مبارکي په شپه او ورځ اخوندازده صاحب چا سره نهٔ ویني او هغه په دې ورځ قصیده پخوي، تاسو اوس لاړ شئ زهٔ به له صاحب څخه صحیح ورځ معلومه کړم بیا به تاسو ته حال درکړم او بیا راشئ.

ټول غریبان چي اخندزاده غوښتي وو واپس کورو ته لاړو، په لاري یو بل ته وایي چي اخوندزاده صاحب خو په ټول عمر نه زکوة ته څوک غوښتی ؤ او نهٔ یې داسي مسخرې راباندي وهلي وې. دا څه چم نن جوړ شو.

یو بل دا بل ته وایي چي اخوندزاده په ټول عمر داسي کار نهٔ کړی دی او نهٔ یې کړي دا ټول د خلیفه شرارت دې. نهٔ پوهېږو چي خلیفه ولي داسي راسره وکړو. او یوه سړي ږغ وکړی چي زما دا یقین دی او په والله که بله کیسه هم وي بغیر بې دې چي خلیفه زړهٔ غوښت چي زکوة ادا کړم مګر وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې سوچ وکړ چې ولې چا ته برناحقه بغير د مزدوري روپۍ ورکړم ماته به خلګو راکولې او نن يې زۀ خلګو ته ور کړم.

په اخر کښې يو وويل چې نۀ تاسو ټول خطا ياست کيسه داسې ده چې د اخوندزاده صاحب دا خيال ؤ چې زۀ غريب نۀ يم او په مفته ډوډۍ موړ يم دا رنګه به ټول ماړه وي او دا ددۀ خيال ؤ که غريبان وي نو به درې يا څلور تنه وي مګر چې خبر شو چې ټول کلی غريب دی په قصيده يې بريد وکړ.

خليفه صاحب چې نور خلګ رخصت کړو ملا صاحب ته ورغلو او دوی درې واړه يې اخندزاده صاحب ته ور وستو اخوندزاده صاحب له ټولو سره په لاس روغبړ وکړ دوی به يې په لاس مچ کړو او په شا به روان شو مخ به يې د اخوندزاده په خوا ؤ او لاسونه به په نامه نيولي وو. ډېر په ادب يې ګوډې تر ځان لاندي کړې. د اتحيات په ډول کښيناستو. اخوندزاده دوباره په تسلي او په ډېره سوکه لهجه پوښتنه وکړه څه وخت چې د تورپېکۍ وار د پوښتني راغلو اخوندزاده له خليفه پوښتنه وکړه چې دا خو ما نۀ وپېژندله. خليفه ورته وويل قربان ما هم کله نۀ ده ليدلې، مګر دومره قدرې خبر يم چې خالو نامي يو سړی چې د کنارخېلو له کلي ؤ اوس نشته. د هغه ښځه ده اخوندزاده چې دا واورېدو له تورپېکۍ سره يې ډېر د مينې او همدردۍ اظهار وکړ، وې ويل چې خالو ډېر مسکين او له بده ماورا سړی دی. وروسته له تورپېکۍ د کور ښځ پوښتني وکړې له هر پوښتني سره دا دعا ورته کړې چې الله مو پرده ګير شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخر يې کالو څخه پوښتنه وکړه چي په دې مسکيني ډېر تکليفونه راغلي دي، کليوال مسلمان څه امداد ورسره کړي که نه. زه خو نه وم خبر تېره شپه په مراقبه کښي ستاسو کلي ته مو کتل بيا په حال خبر شوم هر څه چي کېږي په دې کښي د خدای خپل رازونه دي. بنده هيڅ نه شي کړی. له بندګانو چي الله ناراضه شي بنده څه تکبر وکړي، يا له بنده امتحان اخلي نو داسي پېښي ورسره وشي بس دعا به کړو.

دوی ټولو د امين کليمه وويله.

کالو اخوندزاده ته جواب لانه ؤ ورکړی چي اخوندزاده تورپېکی ته وويل؛ چي خوري زما خيال ؤ چي خليفه به درلېږم خو ته دا يې پخپله راغلې او ښه وشو چي ملا صاحب او کالو هم ناست دي.

خبره داسي ده چي تېره شپه مو خوب وليد چي مرغان په اسمان کښي روان ؤ، يو مرغه له بلي خوا راشي او دې مرغانو کښي يو مرغه تر غاړه ونيسي دا نور مرغان دا يو مرغه تر ې خلاس کړي او تپوس ورڅخه وکړي چي دا ډېر ښه او ښائسته مرغه دی، تا ولي تر غاړه ونيوئ، دې مرغه وويل چي دی په دې خبر ؤ بيا يې د خوب معنٰی داسي بيان کړه چي دا خوب ډېر لوی مطلب لري هغه دا دی چي بزرګان او عالمان په دنيا کښي هيڅ بل کار نه کړي تل په عبادت کښي مشغول وي. که څېري له چا د الله لار ورکه شي يا پاته شي نو هغو ته مو ږ دا لاري ورشوو، مګر نن سبا څوک دا خبري نه اوري او بزرګان او عالمان هم په دې سلسله کښي سستي کړي. دا يو مرغه يې ځکه تر غاړه ونيو (دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغان نهٔ ؤ بلکې وليان وو) چې دا مرغه (ولي الله) خلګو ته نصيحتونه کم کړي او هم په دې ما نور څه ويلی شو او زهٔ خپلې غاړې خلاسوم او دا درښايم چې ستا لور پېغله ده، که خطا نهٔ وم په خوب کښې يې نوم درخانۍ را واخست. بيا يې له تورپېکۍ پوښتنه وکړه چې درخانۍ نومي او که زهٔ خطا يم. هو هو قربان درخانۍ نومي. تورپېکۍ ورته وويل.

چې تورپيکۍ يې تصديق وکړ اخوندزاده په زړهٔ کښې غره شو او له ځانه يې ټيکرى (څادر) هم وغورځاوه او اخوندزاده دا خيال شو چې د تورپېکۍ دا يقين وشو چې واقع په ما پټې ښکاره دي. او هر څه ما په خوب کښې ليدلي دي.

دا لور په تاسو دا حق لري چې ښهٔ عزت مند سړي ته يې واده کړئ. تهٔ سپين سرې يې ستاسو له مخه دي حيا وي چې ښځو کښې تر نر زياته شيطان دى، ځکه ښځه په کم عمر کښې او نر په زيات عمر کښې بلوغ ته رسيږي، که تاسو په دې باره کښې سستي وکړى تر دې به هم سخت عذاب دربانديراشي. په ورځ د قيامت به ډېر داسې مور او پلار وي چې د هغو به هيڅ ګناه نهٔ وي، مګر د لوڼو حق يې نهٔ وي ادا کړى يعنې لوڼې يې ورکړي نهٔ وي لا يې په سم ځاى نهٔ وي ورکړي، په دې به دوى خداى تعالٰى دوزخ ته وليږي، مور د الله د خپل اولاد په حق نهٔ ونيسي.

اخوندزاده صاحب له دې وينا وروسته ملا صاحب ته مخ راواړوه چې مولوي صاحب داسې ده که نهٔ. هغه ورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــي هــو صــاحب کتــابو کښــي د داســي خلګــو لپــاره ســخت عذابونه بيان شوي دي.

تــورپېکۍ دا وخــت ســر تيــټ کــړی ؤ او ســخت پرېشــانه وه اخونذاده صاحب ږغ پرې وکړی چي خوري زما خبري اورې که نهٔ.

تـور پېکـۍ پـه جـواب کښـي ورتـه وويـل چـي هـو قربـان دي شـم. ولـي يـې نـهٔ اورم، تـهٔ خـو زمـوږ لپـاره وايـې. الله دي نـور هـم د داسي ښو خبرو توفيق درکړي.

اخونــدزاده بيــا ورتــه وويــل چــي کتــابو کښــي راغلــي دي چــي لــور پــه مــور پــلار دا حــق لــري چــي هغــې تــه ښــهٔ ځــوان او خانــداني تــه يــې ورکــړي او دا کوشــش وکــړي چــي د مېــړه کــورنۍ د هســتمنده وي چــي لــور يــې پــه ارامــه او خوشــحاله وي. دا هــم پــه خــوب کښــي راتــه معلومېــدو چــي خلــګ ستاســو د دوســتۍ شــوقين وو دا خيــال تــل ســاتئ چــي وړي او لغــړ تــه يــې مــهٔ ورکــوئ، خپلـه لـوړه در پـه يـاد کـړئ، لـور ولـي لـه لـوږي وژنـئ، سبا بـه د دې لــه لــوږي تاســو پــه تکليــف ياســت او هــم بــه پــه ورځ د قيامــت پوښــتنه درځخــه کېــږي. اخونــذاده صــاحب دويــم ځــل بيــا مــلا صــاحب تــه مــخ ور واړوه او پوښــتنه يــې ځنــي وکــړه چــي څــه رنګــه مولوي صاحب داسي ده که نهٔ.

مــلا صــاحب وويــل چــي بېشــکه قربــان دي شــم لکــه چــي تــهٔ وايــې هــم دا کتــاب ويلــي دي او د اصــحابه کــرام ذکــر يــې بيــان کــړ او وروســته يــې وويــل چــي قربــان تاتــه بــه ضــرور معلومــه وي ځکــه چــي تاتــه پټــې معلــومي دي، زمــا تــر مــخ ملــک ګــوهر خــان د دې ښــځي مېــړه خــالو تــه وويــل دا ښــځه دا ده حاضــره ده او هــم پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي واقعه خبره ده چي لور زما زوى ته راکړه او هر څه و لور چي غواړي هغه به درکړم مګر خالو ورته انکار وکړ، دا خو په دي نۀ پوهېږي چي سبا به يې لور په ارامه وي او له ملک سره چي دوستي وکړي ډېر ډېر کارونه به يې پرې سم شي که اړ (محتاجه) شي لاس به يې په خلاص وي.

په تورپېکۍ د ملا خبري بدي لګېدلي او زر يې دواړه لاسونه ورته ونيول او ورته وويل چي ملا صاحب د خداى د کلام له رويه هر څه وايه مګر د ملک نوم مۀ را اخله. د دنيا کوم بد يې نۀ دي راسره کړي. مخ يې د بلا په مخ لور به مړۀ کړم مګر د ملک زوى ته به يې نۀ کړم ور. د تورپېکۍ وېنا لا جاري وه چي اخوندزاده صاحب ورته وويل چي ګوره خوري! لور ستا ده چاته يې ورکوې هغه ستا کار دى، زموږ مقصد دا دى چي زر يې ورکړه او لويي او خوشحاله کورنۍ ته يې ورکړه. ملک هم زړۀ غواړي تاسو ځله خفه او غصه ياست. په ورځ د قيامت به له هر چا سره د خپل عمل حساب کېږي او حديث شريف کښي راغلي دي چي که څوک له چا سره بد وکړي او هغه يې معاف کړي په ورځ د قيامت به الله تبارک تعالى ورځخه خوشحاله شي او په دې به الله تعالى تاسو ته جنتونه درکړي. ملسمان ته ځکه مسلمان وايي چي هغه له چا سره ضد نۀ ساتي، هر چا سره مينه لري که څوک ضد او بغض ساتي رسول عليه سلام د خداى وايي چي هغه له موږ څخه نۀ دى. که چېري تاسو ضد چا سره لرى دا د کفارو خوى دى تاسو به کافران شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اخوندزاده وېنا جاري وه چي تورپېکۍ د استغفار کليمې شروع کړې، اخوندزاده صاحب وېنا جاري وساتله چي د داسي عزت مندو کورونه د بختورو ښځو په نصيب وي.

ملا صاحب بې موقعې رږغ وکړی چي اخوندزاده صاحب څو ځله ملک ګوهر ماته ويلي دي چي په دې خلګو ما ډېره ملامتيا کړې ده، دعا راته کوه چي الله تعالٰی مه د دې خلګو په ازار نې ونيسي او که چېري دوی لړ لار راسره وړي، زۀ به يې کورته د خواست او معافي لپاره ورشم او خالو به له بند څخه خوښي کړم.

اخوندزاده تورپېکۍ ته وويل چي دا خو ډېره ښه خبره ده، لور به چاته ضرور ورکوې توکل وکړه د ملک زوی ته يې ورکړه، له دې تولو تکليفو به خلاصه شې او اسمان به درڅخه پورته شي، د تورپېکۍ تر سترګو هغه ټول ظلمونه وګرځېدل چي ملک ورسره کړي وو او تر سترګو يې اوښکي شروع شوې په ژړا کښې اخوندزاده صاحب ته وويل چي ستا قربان شم چي هيڅ کله به مو د دې ظالم ظلمونه هېر نۀ شي او نۀ مو د دې سړي دوستي ته زړۀ غواړي او نۀ زما په دې کښې څه واک شته شکر دی تر اوسه يې پلار ژوندی دی. نن که دې ظالم په مرګ وژلی دی او په کور نشته خدای مهربانه دی را به يې ولي، هغه سره دي وېنا وکړي په اخوندزاده صاحب دا خبري ښې نۀ ولګېدې او د کالو څخه تپوس وکړي چي تۀ څه وايې نن که خالو نشته په ځای يې تۀ ناست يې. د مولوي صاحب وېنا د خوښه ده که نۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـالو يـو سـاعت خاموشـه ؤ بيـا يـې وويـل چـي څـۀ ووايـم ستـا قربـان شـم. مـور پـلار يـې ژونـدي دي تـر مـا دوی بنـۀ پـوهېږي. زمـا هـيڅ کـار او اختيـار نشـته، دا يـوه خبـره درتـه کـړم چـي دا مـلا صـاحب د زړۀ ډېـر تـور دی چـي دوه سـره خفـه کېـدې شـي دې مـلا صـاحب سـره خفـه کـړي دي او کلـي يـې سـره خفـه کـړو اوس تـا لـه مـوږه خفـه کـوي. د مـلا صـاحب د کـالو پـه خبـره طبعيـت خـراب شـو او اخونـدزاده هـم پـوه شـو چـي خبـره نـۀ منـل کېـږي او د کـالو لـه خبـري وروسـته کـالو تـه غصـه شـو او وې ويـل چـي تـر تـا څـوک د زړۀ تـور شـته، خواسـتونه زۀ درتـه کـړم او الـزام پـه مولـوي صـاحب لګـوې، تاسـو ډېـر سـپک او بـې حيـا خلـګ ياسـت، د عالمـانو او پيرانـو قـدر پـه تاسـو نشـته، لکـه چـي الله خـوار کـړي ياسـت د بـل زکـوة تـه ناسـت ياسـت، دا خـو ستاسـو نيتونـه داسـي دي. بنـځه ملـک تـه ورکـوې او کـه چڅګـرو تـه خپـل کـار مـو دی، زمـا لـه دربـاره وځـئ چـي بيـا رانـۀ شـئ، کـه زمـا پـه ولايـت کښـي څـه وي کېـږي او پښـه مـو مـۀ شـه برابـره او نـۀ دي دا انجلـۍ پـه عـزت وادۀ شـي. اخنـدزاده صـاحب ډېـر سـخت ورتـه غصـه شـو او ورتـه ولاړ شو تر لاس يې ونيولو او له درباره يې وويستو.

د تـورپېکۍ طبعيـت پـه دې خـراب ؤ چـي مـوږ د زکـوة لپـاره ورتـه راغلـي وو مګـر د مـلا صـاحب د يـوه نـۀ شـي، سـم مجلـس يـې را خـراب کـړ، د کـالو طبعيـت پـه دې خـراب ؤ چـي دا اخونـذاده صـاحب ناراضـه شـو دواړو پـه لار مـلا صـاحب تـه بـد ويـل چي مجلس يې سره ګنده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک ته چا اطلاع ورکړه چي نن اخوندزاده صاحب زکوة ورکوي، د کنارخېلو ټول کلی ورغلی دی. ملک پوه شو چي کيسه هغه ده چي ما ورته کړې وه او اميد يې پيدا شو چي اخوندزاده به زما کار کړی وي. په سبا اخوندزاده ته ورغلی او تپوس يې څني وکړ. اخونذاده صاحب او خليفه صاحب ټول حال ورکړ ملک ته سخت خار ورغلو او وې ويل چي بس تهٔ دعا راته کوه انشا الله زهٔ به تر سبا پوري په خپل مقصد کښي کامياب شم.

ملک کورته لاړو او خپل زوی ته يې وويل چي ما ډېر کوشش وکړ چي تاته ستا د خوښي واده په خوشحالي وغواړم څو ځله مي پخپله ورته وويل، تېرو ورځو کښي مو د اخوندزاده صاحب په ذريعه ورته وويل مګر هغه په انکاري دي. د اخونذاده صاحب له وېنا وروسته دا کار موږ ته ډېر لوی پېغور دی. په هر صورت به دا کار اوس په زوره تر سره رسوو. او ماښام تياري وکړه په زور به نجلۍ راوړو.

خان زاده دا خبره خوښه وه او نيمه شپه دواړو ځان تيار کړو توپک يې ور واخست له کوره لاوتلي نهٔ وو چي خان زاده پلار ته وويل که زهٔ او تهٔ ايکړ ورشو امکان شته چي موږ په خپل مقصد کښي کامياب نهٔ شو، که دوی سره بل څوک وي يا به دې ښځو سره درسته وي دوی به موږ وشرموي. تر دې دا ښهٔ ده چي نن پاته شو سبا به کومکان پيدا کړو راسره لاړ به شي بيا به کوندي کامياب شو. دوه په دوه ورتګ له خطرې خالي نهٔ دی. ښځو سره که بل څوک نهٔ وي هم دوی دوې دي په مقابله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښــي برابــر يــو، يــو پــه يــو کــه مقابلــه ســره وکــړو او دوی پــرې را زورور شي خانه به مو خرابه شي.

ملـک چـي د زوی پـه تجـويز غـور وکـړو لـږ پـه سـوچ کښـي شـو بيـا يـې ورتـه وويـل چـي سـتا عقـل او تجـويز مـو خـوښ دی سـبا به له همسايه ګانو څو ځوانان راسره کړو نن پاته يو.

دا همســايه ګــان ټــول هغــه خلــک وو چــي قــاتلان يــا بــل داســي مجرمــان وو چــي ملــک پنــاه ورکــړې وه او د ملــک لــه وجــي ســرکار هــم څــه نــۀ ورتــه ويــل. د ملــک هــر کــار بــه دې خلګــو کــړو اکثـر بـه يـې د بدمعاشـانو کـار ځنـي اخسـتو، د دوی روزګـار نـۀ ؤ صـرف پـه روپـو بـه يـې خلـک وژل يـا بـه د لارو شـوکي يـې کـړې، ناتارونـه بـه يـې بوتلـل پـه دې کښـي نيمـه بـه د ملـک وه او نيمـه بـه د دوی وه.

سـهار خـان زاده خپـل مـزدور تـه وويـل چـي همسـايه ګـانو ته ورشه او شپې له څلور تنه راوله.

تـور چـي ورغلـو او څلـور تنـه يـې وغوښـتو د ټولـو دا خيـال وو چـي شـوکي تـه مـو غـواړي، هـر يـو بـه ويـل چـي زۀ ځـم او پـه دې پخپلـه سـره اختـه شـو. يـوه بـه ويـل چـي فلانکـی تېـره ورځ تللـی ؤ، ډېـر څـه پـه لاس ورغلـو اوس هـيڅ حـق نـۀ لـري اوس زمـا وار دی، بـل ږغ وکـړ چـي زۀ تـر اوسـه نـۀ يـم تللـی پـه والله زۀ بـه ضـرور ځـم، يـو بـل وويـل چـي تـر اوسـه يـو وار تللـی يـم هغـه هـم پـه خـالي لاس راغلـم اخـر يـو سـپين ږيـري وويـل چـي تاسـو مـۀ ګنـده کېـږئ، تـر اوسـه دا نـۀ ده معلومـه چـي څـه لپـاره مـو غـواړي، چېـري اسـماني روزي تـه مـو غـواړي کـه بـل څـه کـار يـې وي. زۀ فيصـله کـړم پـه دې بـه د ټولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـين وي. بـس ږغ بـه نـهٔ لـري. فيصـله پـه دې ده کـه اسـماني روزي وه ځلـور کسـان بـه ځـي او هـر څـه کـه راوړي د ټـول کلـي بـه سـره ګـډ وي. دا فيصـله د دې موقـع لپـاره نـهٔ ده بلکـې تـل لپـاره ده او کـه د ملک صاحب نور څه کار ؤ هغه به کار وکړي.

د سـپين ږيـري دا وېنـا د ټولـو خوښـه شـوه او ټولـو وويـل چې بـس دا سـتا فيصـله مـو منلې ده او تـر ټولـو دا ښـهٔ ده هـر سـړي ته به خپل نصيب ورسېږي.

سـپين ږيـري ځلـور کسـان سـپين خـړ چـراغ او خپـل ورور قلـم وټاکـل دا ځلـور تنـه تـور سـره روان شـو، خـان زاده د دوی پـه انتظـار کښـي ؤ، ټولـو لـه خـان زاده سـره ښـهٔ پـه مينـه او ادب روغبـړو وکـړ، اخـر خـان زاده ورتـه وويـل چـي زمـوږ پروګـرام دا دی چي ماښام به يوه نجلۍ راتښتوو.

ډېـر ښـهٔ دا نجلـۍ تـهٔ د ځـان لپـاره راوړې کـه زمـوږ بـه هـم څه ونډه وي چراغ پوښتنه ځني وکړه.

پـه خنـدا خنـدا خـان زاده وويـل چـي نـهٔ نـهٔ، دا مـا خوښـه کـړې وه، مګـر مـور او پـلار يـې نـهٔ راکـوي اوس يـې پـه تېښـته راوړم، که چېري ستاسو شوق وي نوري نجوني ډېري دي.

د خـان زاده پـه جـواب چـراغ لـږ شـرمنده شـو او وې ويـل چـي نـهٔ نـهٔ مـا ګپـه کـړه، مـوږ تـه بـه خـدای تعـالی خپـل نصـيب راکړي.

خـان زاده دې سـړو تـه د ماښـام ډوډۍ ورکـړه، ښـهٔ ناوختـه پـلار تـه يـې وويـل چـي بـس مـوږ ځانونـه تيـار کـړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانېږو، توپک کارتوس او چړې مو را اخستي دي، ته راسره ځې که نه.

هو هو زه به ضرور ځم ملک توپک واخست او دوی سره روان شو. په لاري ملک ورته وايي چي دا کليوال اکثر زما مخالف دي او دا يو سکولي (طالب علم) ټول کلی راته پورته کړی دی او ټول يې سره ملګري دي. زړغ مه لرئ چي څوک راپوه نه شي. که راپوه شي ټول به ګډه مقابله راسره کړي، کله چي کلي ته ګډ شو داسي په احتياط روان وو چي د پښو سوخل او کړپ يې چانه اروېدو.

د تورپېکي غولي ته چي نږدې شو ټول سره ودرېدو ملک ورته وويل چي اوس ډېر خيال کړئ، په يوه وار داسي حمله وکړئ چي خپل کار زر تر سره کړو کلی په راپوه نه شي او که ښځو سره څه درسته وه ډېر خيال کړئ چي خوږ نه شي دا تورپېکي ډېره بده ښځه ده، ټولو خپلو توپکو ته کارتوس ورويست.

قلم يې د کوټې وره ته ولېږو چي ته ګوره ويښ دي که ويده. قلم چي ورته نږدې شو وليد چي چراغ بل دی، زړغ نشته په دروازه کښي سوروی ؤ په دې کښي چي قلم ورته وکتل وې ليدو چي ټول ويده دي. قلم دې نورو ته ورغلو او ورته يې وويل چي دوی ويده دي. څراغ يې بل پرې ايښی دی، ليدل کېږي نه چي څو کسان دي. بل څوک شته که نه. چراغ وويل چي چراغ يې په کست بل پرې ايښی دی. بس داسي به وکړو ټول به په يوه وار دروازې ته زور ورکوو چي ور مات شي ټول به پرې ورننوزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مور به يې تر غاړه نيسو د لور په خُله به يې لاس ور ونيسو او روانه ؤ به يې.

د چراغ تجويز د ټولو خوښ شو او په يوه وار يې دروازې ته زور ورکړ. دروازه ډېره کمزورې وه، بلوټ يې نهٔ ؤ صرف تر شا يې ډبره ورته ايښې وه، دوی چې خپل ټول زور ورته ورکړی مګر دروازه ډېره په اساني خلاسه شوه او ټول په وره کښې پرېوتل. د قلم د ټوپک له ماشې يو څيز ولګېدلو، ډز يې شو کارتوس تر ووت د سپين په ورانه ولګېده.

تورپېکۍ چې دا کړپ او ډز واورېد سر يې ليا نهٔ ؤ پورته کړی چې نږغ يې وکړ چې لالکه سړي دي، وله يې د تورپېکۍ لور په موږ نږغ وکړي چې موري سړي دي، ستا په توپنچه يې وله.

ملک او ملګرو يوه بله خواته وکتل چې لالک چېري پروت دی، هيڅ يې نهٔ وليد خړ په کونج کښې يو تور کالی وليد زر يې خيال وکړ چې دا دی توپک يې پرې ونيوو او ورته وويل چې بس نږغ مهٔ لره خير او سلامتي دي په دې کښې ده لږ شک ورولوېد چې دا خو سړی نهٔ دی لاس يې ور وړو، کالی يې پورته کړو چې ګوري هيڅ هم نشته. زړهٔ کښې سخت شرمنده شو او وې ويل چې صحيح يې ويلي دي چې د غلهٔ له خپله سوري وېره شي.

درخانۍ زر څراغ مړ کړو کوټه کښې تياره جوړه شوه په مور يې نږغ وکړ چې ولي يې نهٔ ولې، بيا يې له ځان سره سوکه وويل چي زما چاړه څه شوه او زر يو کونج ته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک خیال وکړ چې واقعي مور سره یې توپنچه ده مګر کوټه کښي تیاره شوه هیڅ نهٔ لیدل کېدو، لاکن په هغه خوا یې ټک وکړ په کوم طرف چې یې په تورپېکۍ اول وار سترګي نښتي وې خو تورپېکۍ دا وخت بله خوا ته تللې وه، ګولۍ په قلم ولګېده ږغ یې کړو چې زۀ مو مړ کړم.

خان زاده زر د باکس تیلۍ ووهله، ټولو درخانۍ او مور یې صحیح کړه قلم یې هم ولید چې پروت ؤ خان زاده زر په وره کښي ودرېد چې راځخه لاړ نهٔ شي.

ملک ږغ وکړی چې بس بل ټک مهٔ کړئ، خپل سړي مو وویستل، بیا ورپه یاد شو چې ما سره د لاس بټۍ هم شته او بله یې کړه. ملک او خړ په تورپېکۍ برید وکړی، خان زاده او چراغ په درخانۍ برید وکړی، درخانۍ یې لا اول وار بهر وا ایستله، چراغ په ملا ورکښېناستو او په خُله یې لاس ور ونیوو مګر تورپېکۍ ښهٔ مقابله وکړه، درې واره ځني خلاسه شوه ملک ته وېره ورپیدا شوه چې راځخه وځي. کلي به په راخبر کړي. د زوی خوا ته یې بټۍ ور واچوله ورته یې وویل چې دا نجلۍ چراغ ته پرېږده، دا ښځه راسره ونیسه، اخري وار یې تورپېکۍ په درو پرې باسله او ملک په غاړه چاړه ورتېره کړه او د لاس بټۍ یې مړه کړه چراغ ته وویل چې ته ولاړېږه مهٔ تر څو چې خُله مو د نجلۍ نهٔ وي ور تړلې.

ملک له جیبه دسمال راوکېښ، د درخانۍ په خُله یې ورچخ کړی، وروسته خان زاده یې خُله ور وتړله او خړ په خپل پټکي لاسونه ور وتړل او نجلۍ یې په غېږ کښي له کوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویستله. ملک بېرته کوټې ته راغلو قلم یې وکاتو چې مړ شوی ؤ او تورپېکی ته یې بجلۍ ور واچوله وې لیده غاړې یې پرې دي معمولي کېنا پکښې شته او سپین یې په شا و ایستو.

ملک او خان زاده درخانۍ تر متهو ونیوله روانه یې کړه چراغ سپین په شا واخست او خر یوه لښته په لاس کښې ونیوله چې درخانۍ به په تلو انکار وکړ په شا به یې ووهله. په ډېر تکلیف یې درخانۍ تر کور ورسوله، لاس او خُله تړلې یې په کوټه کښې بنده کړه، ملک په خپله پاته شو او د ځان په ځای یې تور ورسره ولېږلو. قلم یې په جنازه تر خپله کور راوړ، ورسره یې د قلم عزیزان خبر کړو او هغوی په شپه شپه د قلم خدمت وکړ او خاورو ته یې وسپارلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱)

ملک چي درخانۍ کور ته ورسوله ډېر خوشحاله ؤ او په بار بار به يې شکرونه ادا کول سهار يې خپلي ښځي نورجهاني ته وويل چي دې نجلۍ سره داسي طريقه جوړه که چي خپل ضد پرېږدي که په ښو خبرو يې راضي کولی شې او که په ترخو خبرو او په دې يې پوه کړه چي اوس دي هيڅ بله لار نشته بغير د دې که مو ستړي نهٔ کړې ژوند به يې په ارام وي کنې تل به يې خپل ژوند تريخ وي.

نور جهانه له درخانۍ سره کښېناسته او نصيحت يې ورته شروع کړو چي تهٔ خو ډېره بختوره يې، ښهٔ د ملک زوی ته هر چا لوښي ورکولې مګر هغه په تا مئين ؤ، ډېرو نجونو حالونه ورته راکړي وو مګر دا ستا مېړه قسم اخستی ؤ چي بله نجلۍ به نهٔ وغواړم، ستا مور پلار سره په دې باره کښې څو ځله خبري وشوې مګر هغو ته شپنو او غويانو ته ورکولې، تهٔ به تل وږې او لځه وې، مګر خدای ته دا نهٔ وه منظوره. خان زاده ته خدای هر څه ورکړي دي ګوره چي څوني (څومره) ښکلې مکان لري څوني جائيداد او مځکي لري اوس به دا ټول ستا ورسره وي ملک سپين ږيری دی وخت يې تېر دی نور زامن يې په نورو ملکو کښې دي، د هغو خپلي کارخانې او کاروبار دی بس هر چا چي تاته څه ويلي دي د هغو خبري له زړهٔ وباسه دا به ښهٔ وه چي مور پلار به دي دا خبره په خوشحالۍ ترسره کوله، مګر هغه نهٔ وشوه هيڅ خبره نهٔ ده اوس به يې خوشحاله کړي. تهٔ فکر مهٔ کړه، تهٔ به دلته تل په ارامه يې، په کور کښې مزدوري شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ کار ته به نهٔ یې ایساره. ټول کار به مزدوري کوي، له هره کاره به خلاسه یې.

درخانۍ ته چې نور جهاني نصیحت شروع کړ هغې ژړا شروع کړه او څه وخت چې نور جهاني نصیحت ختم کړو درخانۍ په ژړا کښې وویل:

چې دا درسره منم چې زما مور پلار ډېر غریبان دي او هغه د زورور د زور توفیق نهٔ لري مګر په دې ځان پوه کړه غریبان دي لاکن بې غیرته نهٔ دي او زهٔ هم د هغو غیرتمندو لور یم چې زما د پلار به نهٔ وي خوښه او زما مور لا سرې غاړې پرته ده دا خیال چې نهٔ وکړې چې زهٔ به ملا ته وایم چې قبول مې ؤ او قبول مې دی، زما پلار ستاسو له لاسه په جیل کښې دی او نن به مې مور د دهٔ بغیره ښخېږي او زهٔ بې موره د بل په کور کښې د ناوي په نامه ناسته یم او تهٔ راته وایې چې تهٔ بختوره یې. نن زهٔ د مور او پلار په ډول مظلومه یم هر څه چې راسره کړئ هر څه راته وایې زهٔ هیڅ نهٔ شم کړی او کله چې یوه ورځ په لاس راشي بیا به........

نور جهاني چې دا خبري واورېدې ډېره غصه شوه او څو لښتي یې ووهله، بیا یې ورته وویل چې زما دا خیال ؤ چې نوی کور نابلده ځای دی او څوک ورسره نشته او تا ته مې څو د مسلمانۍ خبري وکړې، مګر تا کښې هیڅ مسلماني نشته او ماته داسي بې خُلې خبري کړې.

درخانۍ په ژړا کښې ورته وایي چې قسم مه په هغه خدای چا چې پیدا کړې یم که زما له خُلې بل لفظ وباسې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهولي سزا او تکليفونه به برداشت کړم مګر زما خداى يو دى زبان مه يو دى.

درخانۍ ته هر قسم تکليفونه او سزا يې ورکړې، يوه ورځ نورجهانه په وهلو سټړې شوه اخر يې درخانۍ ته وويل چي ګوره دې کور کښي به ستا عزت خوندي وي تاته معلومه ده که نۀ چي د کلي نجوني تل له خان زاده او ددۀ له مېلمنو سره شپه تېروي. کومي نجوني چي انکار وکړي هغه په زوره هم راولي او تۀ يې ځکه نۀ راوستې چي له ډېره وخته د خان زاده د وادۀ خيال درسره ؤ. که چېري تۀ دا خبره نۀ منې نن ورته ګوره چي د کلي تهولي نجوني او ښائسته ښځي راغواړو او د ملک د کور ښځو ته څوک په اوچته سترګو نۀ شي کتلى.

د نورجهاني په دې خبره درخانۍ ته سخته غصه ورغله او ژړا يې بنده کړه په اوچت ږغ او غصه کښي درخانۍ ورته وويل چي زۀ په دروغو نۀ غولېږم. ماته معلومه ده چي ستاسو زامنو د کلي د نجونو په عزت حملې کړي دي، مګر کله هم کامياب شوي نۀ دي او تۀ دا خبره څنګه پټوې چي ستا مشر زوى له درو کالو دلې نشته، مګر څلور مياشتي له مخه د هغه لور پيدا شوه بل د فاطو چي ستا د بني لور ده تر اوسه مو چاته نۀ ده ورکړې، مګر دا وخت هم حملداره ده، ماته دا خبري مۀ کړه زۀ په هر څه خبره يم، ستاسو ناوي او پېغلي تل د اوسرانو سره ورکي وي، په والله که اوسران (افسران) زما په ښائست خبر شي که مي يوه ورځ هم دلته پرېږدي، دا کور نۀ دى او نۀ دلته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا عـزت خونـدي دی، دا چکلـه ده کـور نـهٔ دی، تاسـو د اوسـرانو دا کار کړئ او هغه ستاسو د ظلمونو مدد کړي.

نـور جهـاني چـي دا پیغورونـه واوریـدل لـه ډیـره قهـره یـې سـترګي راووتـې، سـیخان یـې پـه اور کښـي تـاوده کـړو او د درخانۍ په نوکانو او غاښو یې کښېښول.

درخـانۍ تـر ډیـره دا تکلیفونـه برداشـت کـړل مګـر دا داسـي تکلیفونـه ول چـي تـر برداشـت تېـر وو، کـه درخـانۍ هـر څـوني خواسـتونه او نـارې وکـړې مګـر نـور جهـاني تـه هـیڅ رحـم نـهٔ رازي او نـهٔ مـزدوري او خـادمي همـت کـړی شـي چـي خلاسـه یـې کـړي. اخـر درخـانۍ ورتـه وویـل چـي تـر سـبا سـهاره مـي پرېـږده سبا به زهٔ جواب درکړم.

نورجهـاني ښـهٔ سـاعت د درخـانۍ خبـري تـه غـوږ نـهٔ نیولـو، درخـانۍ چـي بـار بـار دا خبـره او خواسـت ورتـه وکـړ د نورجهـاني د درخـانۍ ونرمـي لهجـې تـه امیـد پیـدا شـو، خیـال یـې وکـړ چـي بـس اوس بـه کـار سـم شـي او درخـانۍ یـې پرېښـودله او لاس پښـې یـې ور خلاسـي کـړې بیـا یـې پـه مینـه او غصـه کښـي ورتـه وویـل چـي ولـي ځـان پـه تکلیـف کـوې او هـم زمـوږ زړهٔ را شـین کـوې، مـوږ خـو سـړي خـواره نـهٔ یـو چـي د انسـانانو غوښـي پخـوو. خیـر هـر څـه وشـو هغـه خـو وشـول د بیـا لپـاره خیـال کـوه او پـه دې پـوه یـې چـي خلاسـه مـه نشـته. بیـا ولـي ځـان او مـوږ او ځـان پـه ازار وهـې اوس دي تـر سـبا سـهاره پرېـږدم کـه چېـري سـبا بیـا پـه خپـل ضـد وې او داسـي بـې خُلـې خبـري کـړې د شـیطانانو خبـري دي لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـوړو نـهٔ وې ایسـتلي مـا سـره تـر دې سـخت عـلاج شـته بیـا کـه خواستونه کړې هم خلاسه به نهٔ شې.

نورجهــاني چــي نصــیحت او دهمکــۍ ختمــي کــړې یــو ساعت پته خُله شوه بیا یې په مزدوري (خادمي) ږغ کړو چي ما لـه او دې لـه اوبـه راوړه تـرڅي یـو خـو بیـا یـې بـل ږغ ور وکـړ چـي اوبه مهٔ راوړه د انارو شربت راوړه.

مـزدوري زر د انـارو شـربت تیـار کـړو او ورتـه رایــې وړو. نورجهــاني جــګ لاس کښــي ونیــو او ګــلاس یــې ډک کــړو اول ګـلاس یـې درخـانۍ تـه ورکـړ درخـانۍ تـر اوسـه د انـارو شـربت نـهٔ وو لیـدلی او نـهٔ یـې څښـلی ؤ او نـن یـې شـربت ولیـدلو هـم یـې وڅښـلی کـه څـه هـم شـربت ډیـر خـوږ او خوندمنـد ؤ مګـر درخـانۍ تـه داسـي ور ولګیـدو لکـه چـي د زهـرو پیالـه پـه غـاړه واړوي. پـه یـوه ګـلاس د درخـانۍ غـاړې لنـدې او سـرې شـوې مګـر پـرې اوبـه نهٔ شـوه. زړهٔ یـې غوښـت چـي یـو بـل ګـلاس هـم وڅښـي مګـر تـر خُلـه یـې ږغ نـهٔ وکـړ ځکـه درخـانۍ پـه زړهٔ کښـي وویـل چـي داسـي نـهٔ چي نورجهانـه دا خیـال وکـړي چـي پـه شـربتو مـي خطـا کـړه او اوس بـه د کـور نعمتونـه ښـهٔ پـه ولګیـږي او متـاثره شـوه. نـور جهـاني بـل ګـلاس ډک کـړو او ورتـه ونیـوو، د درخـانۍ ښـهٔ شـوق ورتـه کیـدو او هغـه خیـال یـې زړهٔ کښـي وګرځیـدی او ورتـه یـې وویـل چـي نـهٔ نـې څښـم، ښـهٔ نهٔ پـه رالګیـږي، مګـر د نـور جهـاني پـه ډیـر اثـرار یـې دا ګـلاس بیـا وڅښـلو اوبـه شـوه. نـور جهـاني د دریـیم ګـلاس سـت ورته وکړ لیکن درخانۍ وچ انکار وکړی.

نور جهاني په خپله درې ګلاسه وڅښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام نورجهاني درخانۍ ته دوې ګولۍ (چي د نشې وې) ورکړې او ورته يې وويل چي ګولۍ وخوره ارامه به شې ټول بدن دي شين کوټل شوی دی، شپه به په ارامه تېره کړې.

درخانۍ په خُله څه نۀ وويل مګر څه وخت چي نورجهانه ووته دې هم ګولۍ تسې (غوزاري) کړې او وې ويل چي يوه خواته مي د عزت او وينو تږي دي بله خوا مي په ګولۍ خطا کوي او راته وايي چي دربانـدي غمجن يو او بيا يې دا شعر وويلو:

وار مي وژني وار راباندي ژړا کړي

......

سبا سهار نور جهانه بيا ورته راغله او ډېره په مينه يې پوښتنه ورڅخه وکړه چي شپه دي څنګه تېره کړه، ارام او خوب دي وکړ که نۀ. درخانۍ ورته وويل چي هو بس شپه وه په خير او ارامه تېره شوه.

نورجهانه يې په جواب پوه شوه چي تر اوسه يې له موږ سره هيڅ مينه نشته ځکه جواب يې داسي نۀ ؤ مګر نور جهاني ږغ نۀ وکړی لږ ساعت پس يې له درخانۍ پوښتنه وکړه چي ددې لپاره را ښکاره شوم چي څه خيال دي دی او دا خواست درته کړم چي زياته مو مۀ زړۀ شيني کوه او مۀ ځان په تکليف کوه.

درخانۍ سر ټيټ نيولی ؤ او په ژړګوني اواز کښي يې ورته وويل چي له ډېره سوچه بعد په دې نتيجې ورسېدم چي زما خلاسه نشته او نۀ څوک داسي شته چي هغه مو درڅخه خلاسه کړي. پلار خو مي په جيل کښي دی او هغه هم ستاسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابلې توفیق نهٔ لري. ورور مې وړوکی دی او دا وخت په سکول کښې دی. هغه چې زما په سر خبرې وخت به ډېر په تېر شوی وي. بس زما د قسمت کنجۍ اوس زما په خپل لاس کښې ده او زهٔ ستاسو په قبضه کښې یم. هیڅ هم نهٔ شم کړی. بس دا لنډې څو خبرې یې وکړې او پټه خُله شوه، نورجهانه په دې خبرو حیرانه شوه چې څنګه جواب دی مګر په داسې چم او چالاکي یې درخانۍ ته وویل چې کور دې ودان شه. دواړې دې سمې شه مورې دې هم او ځان دې هم له اندېښنو خلاس کړو. بس له نن ورځې بعد تهٔ د دې کور مالکه یې هر څه واک او اختیار ستا دی او ستا یو ارمان دی یعنې پلار دې بندي دی ملک به هغه هم په دې څو ورځو کښې را خلاس کړي.

نورجهانې ډېرې داسې خبرې ورته وکړې چې درخانۍ پرې خوشحاله شي او ورڅخه ووته.

ملک ته نورجهانې حال ورکړی ملک ډېر خوشحاله شو او تور ته یې وویل چې منډه دې همسائیګانو ته ورشه.

لس تنه ځوانان د خوشې لپاره راوله پسونه دې حلال کړي او پختن دې هم وکړي.

تور همسائیګان را وستو پسونه یې حلال کړو، پختن یې شروع کړ، ملک د ماښام ډوډۍ ته شا خوا کلي ته حال ورکړی چې ماښام دې له هر کور څخه یو تن ډوډۍ ته راشي خپل کلی کنارخېلو ته حال ورکړی صاحب زاده شین ګل اخونذاده او ملا صاحب ته پخپله ورغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام له لمانځه بعد د خلګو راتګ شروع شو د خپل کلي څخه څلور تنه راغلو او له نورو کلو څخه هم کم سړي راغلو. اخوندزاده صاحب او ملا صاحب راغلو دواړه په جلا جلا کوټو کښي کښېناستو په کومه کوټه کښي چي اخوندزاده صاحب ناست ؤ ټولو د دۀ خبرو ته غوږ نیولی ؤ او دۀ ورته ویلې چي الله تعالی ویلي دي چي زۀ عزت ورکونکی او اخستونکی یم تاسو ګورئ چي الله په دې کښي څومره لوی حکمت دی او که چېري عزت بندګانو یو بل ته ورکولی اوس به دا ټول خلګ په عزت سره اخته وو، مګر په چا چي د الله نظرونه شي هغه ته عزت ورکوي، بس د نورو بندګانو ما سوای ملک ته هم خدای تعالی عزت ورکړی دی. الله هم عزت مندو ته عزت ورکوي ګوري ملک د څوني (څومره) خلګو بندوبست کړی دی، هر څوک خوشی (د واده ډوډی) کړي مګر چا تر اوسه داسي خوشی نۀ دی کړی مقصد مو دا دی چي ملک دې ټولو ته عزت نن ورکړ الله دي دۀ ته نور عزت ورکړي.

نن سبا ډېر خلګ خپل ځان ته عزت ورکوي او ځان ته د قام لیډران (مشران) وایي دا خلګ در اصل په هغو خلګو نیت بدوي چاته چي الله د عزت نعمت ورکړی دی او دا د نن سبا لیډران ټول کافران دي. هغه د قرآن له دې ایتو په ښکاره منکر دي او دې عزت مندو ته په سپک او بد نظر ګوري. هم ددې خلګو عزت نۀ کوي، بلکې نور خلګو کښي د داسي خلګ لکه عالمان، ملکان، سرداران، افسران چي ټولو ته الله عزت ورکړی دی په ضد تبلیغات کوي. بهر حال له داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلګو ځان ګورئ، ناسته ولاړه مهٔ پخپله ورسره کوئ او مهٔ خپل عزیز قریب اولاد ورپرېږدئ. دا خلک د کفارو خبري کړي، د کفارو خبري خوړې دي، خلک ژر ددوی په خبرو خطاوځي او تل له داسي خلګو ځان ګورئ.

په کومه کوټه کښي چي ملا صاحب ناست ؤ دلته خلګو د ملا صاحب خبرو ته غوږ نیولی ؤ او دهٔ ورته ویل چي زموږ د خلګو ډېر عادتونه داسي دي چي هغه په عباداتو کښي شمېرل کېږي. تاسو ګورئ چي دا خوشی (د واده ډوډی) عادت او رواج دی مګر حقیقت کښي دا خیرات دی. ډېر خوران پرې ماړه شي ځومره ډېر ثواب دی.

ځوک چي د خوشي ډوډی ته راتلو هغه راغلو د خلګو راتګ ختم شو تیاري شروع شوه دسترخوانونه خواره شول ډوډی پرې کښېښول شوه، شوروا وره مړی (ماته ډوډی) غوښه او پلاؤ په دسترخوانو کښېښودل شول په خوراک بسم الله وشوه.

د ملا صاحب خپل بیان جاري ؤ تر خوراک له مخه یې وویل چي ګورئ د خدای تعالٰی عجب شان دی یو ځای کښي فرمایي چي : "په ورځ د قیامت به د هري ګولې (نوړی) حساب غوښتل کېږي." د دې حکم په رڼا کښي علما وایي چي مسلمان دي کم خوراک کوي چي په ورځ د قیامت به یې حساب کم وي، مګر بل ځای بیا خدای تعالٰی فرمایلي دي که ځوک د چا ته یوه ګوله ډوډی ورکړي په دې به یې ثوابونه ډېر شي. د دې حکم په رڼا کښي علما وایي چي که ځوک د چا کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـه ورشـي لامېلمـه شـي نـو پکـار ده چـي ډېـر خـوراک وکـړي، ځکـه چي د کور وال ثوابونه پرې ډېرېږي.

کلـه چـي مـلا صـاحب دا وېنـا ختمـه کـړه نـو يـې مـخ تـه پرتـه غوښـه (چـي روغـه شـولګۍ وه) پـه دواړو لاسـو يـې ور پورتـه کـړه او ځُلـې تـه يـې يـوړه او پـه غاښـو يـې دا غټـې غټـې خاشـې ور پرېکـړې او لـه هـډه (هډوکي) يـې تـر هغـه وختـه ځُلـه نـۀ کـړه پورتـه چي صفا يې وشکولو.

بندوبسـت د ډېـرو سـړو شـوی ؤ مګـر خلـګ ډېـر کـم راغلـو، ځکـه هـر څـه ډېـر ؤ ملـک بـه د کـوټې پـه وره کښـي ودرېـدو او مېلمـانو تـه بـې ويـل چـي غـاړي مـو بنـدي دي کـه بـه شـرم کـوئ هـر سـړی يـې داسـي خـورئ لکـه خپـل کـور، هـر څـه ډېـر دي. يـو وار ملـک پـه مـلا صـاحب نظـر شـو چـي وکتـل د مـلا صـاحب تـر مـخ غوښـه نشـته ملـک پـه خپلـه لـه خادمـه تـال واخسـت او د مـلا صـاحب تـر مـخ يـې لويـه غټـه غوښـه کښېښـودله، مـلا صـاحب سوکه د ملک لاسونه ونيول چي غوښه مۀ ږده.

ملـک ورتـه وويـل چـي غوښـه خـو ډېـره ده ګـورې نـۀ چـي د ټولـو تـر مـخ پرتـه ده، لـږ سـاعت پـس دۀ دا غوښـه هـم هغـه شـان پورتـه کـړه او هغـه شـان يـې وخوړلـه مګـر پـه دې وار بـه يـې يـو وار وار سر ځني پورته کړ.

څـه وخـت چـي ډوډۍ فارغـه شـوه اخونـدزاده صـاحب پـه خپلـه او مـلا صـاحب پـه خپلـه کوټـه کښـي د دعـا لپـاره لاسـونه پورته کړو او اوږدې دعاګاني وشوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس له دعاګانو ملک مېلمنو ته د تلو اجازه ورکړه. ملا صاحب ته يې وويل چې که تکليف نهٔ وي تهٔ لږ ساعت کښېنه چې دا خلګ ووځي نکاح به تړې.

نهٔ نهٔ ملک صاحب، دا خو هيڅ تکليف نهٔ دی. موږ عالمان يو الله تعالیٰ علم راکړی د داسي ورځي لپاره دی. دا خو زموږ فرض دی. ملا صاحب ورته وويل. ملک صاحب د سرای په وره کښېي ولاړ ؤ هر څوک چې وتو اول به يې ملک ته مبارکي ورکړه بيا به يې اجازه وغوښته او د کور ودانۍ دعا بې ورته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳)

ټول خلک ووتو ملا صاحب يوازې پاتي شو، د نکاح شروع کولو له مخه يې وويل چي نجلۍ چېري ده چي وکالت ورڅخه واخلو.

هلک خو دا دی ناست دی او نجلۍ په کوټه کښي ده ملک ورته وويل. ملا صاحب له ملک څخه تپوس وکړی چي چاته يې وکالت ورکړی نۀ دی. نۀ صاحب مور په دې وکالتو څه پوهېږو. ملک جواب ورکړی. ملا صاحب وويل ښۀ داسي وکړئ چي نوري زنانه له کوټې وباسئ او ما سره يو سړی شئ چي کوټې له مي ورولي.

يو سړی په منډه لاړو او نوري ښځې له کوټې وايستلې او بيا يې اطلاع راوړه چي لار خلاسه ده ملا صاحب هم ولاړ شو او يو سړی يې تر لاس ونيولو او د کوټې خواته روان شو.

درخانۍ چي موقع خالي پيدا کړه چي څوک نشته او ملا به راځي نکاح مي تړي سبا به خلک وائي چي مور يې پخپله مړۀ کړه او پلار يې دا دی په خوښه بندي کړی دی او د ملک زوی يې خوښ ؤ تر داسي پېغورو او خبرو زما لپاره مرګ ښۀ دی، زر يې د ټيکري (څادر) په څاک په ناستي خپله غاړه ټينګه کړه او ګنډه يې ورکړه.

ملا صاحب چي د کوټې وره (دروازې) ته رالو ورسره سړي ته يې وويل چي دلته بهر ودرېږه دننه مۀ راځه په داسي موقع نجلۍ له نرګانو ډېره شرمېږي، دا سړی بهر ورته ودرېد او ملا صاحب کوټې ته ننوت ور يې پوري (بند) کړو. درخانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره نږدې يو خوا ته کښېناستو او غاړې يې دوه درې واره په زوره صفا کړې بيا يې ورته وويل:

چې؛ زويه دا خو ډېره ښۀ خبره ده چې تۀ ډېره د غريب سړي له کوره وې او نن دي په داسي ماړه کور کښي نصيب وشو او ناسته يې او د دې کور مالکه يې داسي ښۀ نصيب ما تر اوسه د بل غريب د لور نۀ دی ليدلی. داسي بخت دي نصيب شه اوس زۀ نکاح ترم تۀ به مي ډېر نۀ سترې کوې، بس وکالت راکړه چي تۀ هم ارام وکړې او زۀ هم.

مګر نجلۍ هيڅ جواب ورنۀ کړو. ملا صاحب بيا ورته وويل او په سر يې د ميني لاس ور تېر کړو مګر نجلۍ نۀ جواب ورکړو او نۀ وښورېده. ملا صاحب حيران شو چي نجلۍ نۀ ښوري او نۀ په لاس بد خوري، مګر درېيم ځل ملا صاحب په وېره وېره د نجلۍ په بدن يو بل ځای لاس تېر کړو، مګر نجلۍ هغه شان پته خُله او بې حرکته وه. اخر ملا صاحب پرې زړور شو او په مخ يې لاس ورتېر کړو او له مخه يې ټيکری ځني پورته کړو او وې ليده چي نجلۍ د ټيکري په څاک غاړه تړلې ده او خودکشي يې کړې ده.

ملا صاحب چي وليده نجلۍ مړۀ ده تر خُله يې چيغه ووته او په وره کښي ولاړ سړي ته يې ږغ کړو چي راشه نجلۍ څۀ کړي دي. هغه هم چټک کوټې ته ورننوت او وې ليده چي نجلۍ په ناسته خود کشي کړې ده او په منډه دې سړي ملک ته حال ورکړ. ټول کور وال پرې خبر شو، ټول کوټې ته لاړو تر اوسه نجلۍ ناسته ده، مګر مړۀ ده. ټول سره پريشانه شو چي دا څه وشو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



به خلک څه وايي او موږ به څه جواب ورکوو. قسماقسم تدبيرونه يې جوړ کړو، مګر په يوه کښې يې هم پرده نۀ ليده.

اخر نور جهاني ورته وويل چي موږ د خداى له وليانو سره مينه او دوستي لرو او له هغو سره تل مشورې کړو بايد اوس هم له اخونذاده صاحب سره مشوره وکړو او د هغه په مشوره کښې به زموږ پرده ضرور وي.

د نور جهاني دا تجويز د ملک خوښ شو او پخپله سم دستي اخونذاده ته ورغلو او حال يې ورکړ هغه يو ساعت خاموشه شو بيا يې ورته وويل چي ما سره يو چل شته اوس په شپه شپه ښځه ښځه کړه او چاته دِغ مۀ لره او ملا صاحب هم پوه کړه چي دِغ نۀ وکړي. سهار زما تر راتګ پوري تاسو خوشحالي جوړوئ، څوک د ځان په پريشاني مۀ پوهوئ، ملک هم زر خپل رازداران په موټر کښي د بازار هديرې ته ولېږلو چي قبر وکيندي او په بل موټر کښي يې نجلۍ بغير د کفن او غسل واخسته چي دا موټر ورسېدو قبر تيار ؤ او نجلۍ يې بغير د جنازې د نمانځه ښخه کړه او سهارګاه ته موټران خپل کور ته راغلو.

اخوندزاده تل نمونځ کور کښي کوو نن سهار يې هم خپل کور کښي نمونځ وکړ، وروسته يې وظيفه وکړه بيا يې د ځاښت نفل وکړو د ځاښت له نمانځه وروسته اخوندزاده صاحب به کورته لاړو او ارام به يې وکړو، مګر نن د دربار په کوټه کښي په مراقبه کښي شو په دې دوران کښي درې کسان د دۀ زيارت ته راغلو مګر خليفه ورته وويل چي دلته ارام کښېني

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څه وخت چي له عبادته صاحب فارغه شو بيا ږغ په وکړي او خپل فرياد ورته وکړي.

دې سرو سره د خليفه ږغ چي اخونزاده صاحب واورېدو لږ ساعت پس يې په مراقبه کښي ناره کړه چي فضل خدايه! فضل خدايه! يا ربه! ته يې پرده خوندي کړې او نور مسلمانان له داسي بلاؤ وساتې. اخونزاده صاحب زر سر راپورته کړو او چټک بغير د دعا پورته شو بيت يې واخست او کپې يې په پښو کړې. خليفه او ملاقاتيان پرې حيران شو چي څه چل وشو او پوه شول چي څه کيسه ده او ټولو وويل چي خير دې غواړو يا ربه! ته خير وکړې.

اخوندزاده ملاقتيانو او خليفه ته وويل چي راځئ سره ملګري شو، ما څه وليد هر څه کونکی خدای تعالی دی.

دا سړي هم ورسر روان شو سيخ د ملک کورته ورغلو د ملک کره ډېر خلک د مبارکۍ لپاره راغلي وو چي اخوندزاده صاحب يې وليد ټول ورته ولاړ شو او لاسونه يې په نامه ونيول.

دې خلګو دا خيال وکړ چي اخوندزاده به هم مبارکي ته راغلی وي او څه وخت چي اخوندزاده صاحب کښېناستو ملک ته يې وويل چي ملکه په کور کښي څه نوې کيسه خو نشته.

نه نشته الحمد الله، له ربه راضي يو، خدای دي نه شي ناراضه. هيڅ داسي نوې نشته ملک ورته وويل:

اخوند زاده په ډېره حيرانګي ورته وويل چي څنګه نشته زهٔ اوس په مراقبه کښي وم او کشف راته وشو چي د تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیانو پاچا ستا په ناوې نژور (اینور) باندي مئین ؤ او هغه د بیانو ته حکم ورکړی چي دا نجلۍ به ماته راوړئ او که مو نهٔ راوړه زهٔ به تاسو ټول مړهٔ کړم. د بیان هم مجبوره شول اوس لږ ساعت مخکښي د بیانو هغه بیهوشه کړه او یو یې وړه او دا نجلۍ د د بیانو باچا ځانته په نکاح کړه او بس بیا به یې په سترګو نهٔ وویني او تهٔ ورشه وې ګوره چي نجلۍ شته که نهٔ.

ملک هم کورته ننوت او یو ساعت لپاره ورک ؤ چي واپس راغلو وې ویل چي بیشکه نجلۍ نشته. د بریښنا په شان په ټوله علاقه کښي دا خبره ویره شوه چي ملک په نږور د د بیانو پاچا مئین ؤ او هغو له شپې نجلۍ یووړه.

**پای**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library